# شهامت

دیارلسم کال، درېیمه، پرلپسې۸۳مه گڼه،
ربیع الأول ۱۴۴۲هــ ق، اکتوبر – ۲۰۲۰م

## په تعلیمي مرکزونو
د بریدونو ترشا لاسونه او موخې ... ؟

## دفاع از دستاوردها
ویا کمپاین برای دوام اشغال ؟

- آزادی بیان یا اسلام ستیزی؟
- هو! کابل پوهنتون باندې برید بشري جنایت دی!
- کابل کې څه تیرېږي؟
- دکابل اداره ولې بین الافغاني مذاکرات سبوتاژ کوي ؟
- د ارگ چارواکي یا د داعش مدافع وکیلان
- فرانسه بیا د اسلام د ښمنۍ په لور!
- دمکرون د گستاخۍ او دښمنۍ ځواب په شعارونو نه کیږي!؟
- د اسلامي شریعت پیژندگلوي او د هغه ځانگړتیاوې!

## دا په واک کې کابل خو
په اسلام او شریعت وساتئ!!

## افغان جهاد
د شیخ ریسوني له نظره ...

## له عثماني خلافت وروسته
ترکان او عربان !

# شهامت

## علمي، کلتوري او اسلامي مجله

دیارلسم کال، درېیمه، پرلپسې۳مه گڼه، ربیع الأول۱۴۴۱هق، اکتوبر ۲۰۲۰م

**دامتیازخاوند :**

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنگي چارو کمیسیون

**مسؤل مدیر:**

ابو ظهیر

**کتنپلاوی :**

لطیف عزم
حسن '' علوي'' بلال ''وحید''
نعیم '' صافی '' عابد مجاهد
قاري حبیب

**بیـــه :**

یوه گڼه ۳۵ افغانی او ۶۰
کلدارې په پاکستان کې

**تخنیکي مسؤل :**

تخنیکي څانگه

**یادونـه**

شهامت له سرمقالې پرته دنورو
لیکنو مسؤلیت په غاړه نه اخلي.

## لـــړلیـــک


| مخ | عـــنـــوان | گڼه |
|---|---|---|
| ۱ | سرلیکنه........................................................ | ۱ |
| ۳ | دا په واک کې کابل خو په اسلام او شریعت وساتئ!!.................. | ۲ |
| ۴ | د کابل اداره ولې بین الافغاني مذاکرات سبوتا کوي ؟ .................. | ۳ |
| ۶ | کابل کې څه تېرېږي؟ ................................................ | ٤ |
| ۸ | آزادی بیان یا اسلام ستیزی؟ ................................ | ۵ |
| ۱۰ | هو ! کابل پوهنتون باندې برید بشري جنایت دی!................... | ۶ |
| ۱۲ | فرانسه بیا د اسلام دښمنۍ پر لور................................ | ۷ |
| ۱۴ | اسلام ته دسپکاوي نه تم کېدونکې لړۍ او د حاکمانو چوپتیا........ | ۸ |
| ۲۰ | افغان جهاد د شیخ ریسوني له نظره، او یوڅو حقایق !!............... | ۹ |
| ۲۴ | دفاع از دستاوردها و یا کمپاین برای دوام اشغال ؟ ........... | ۱۰ |
| ۲۶ | دعثماني خلافت وروسته ترکان او عربان ! ........... | ۱۱ |
| ۲۸ | سوله او جگړه ....................................... | ۱۲ |
| ۳۰ | د اسلامي شریعت پېژندگلوي او دهغه ځانگړتیاوې ............... | ۱۳ |
| ۳۴ | دشهید آمر صاحب انور ډنگر د ژوند او جهاد سرگذشت ............ | ١٤ |
| ۳۷ | د مکرون د گستاخۍ او دښمنۍ ځواب په شعارونو نه کیږي؟ ....... | ۱۵ |
| ۳۸ | گلورینې پاڼې ................................ | ۱۵ |
| ۴۰ | فکري جگړه او د مغربي تهذیب اساس او اصل الأصول.............. | ۱۶ |
| ۴۷ | د آذربایجان او ارمنستان ترمنځ لانجه څه ده ؟ که جنگ تم نه شي؟ | ۱۷ |
| ۵۲ | پروني ، نني او سباني طالبان..................... | ۱۸ |
| ۵۶ | د غامدیت فتنه وپېژنئ د غامدي څو فکري تضادات.............. | ۱۹ |
| ۵۹ | غرب ولې د مسلمانانو دمقدساتو سپکاوی کوي ؟............. | ۲۰ |
| ۶۲ | د اسلامي اقتصاد راتلونکی...................... | ۲۱ |
| ۶۵ | د ارگ چارواکي که د داعش مدافع وکیلان ............. | ۲۲ |
| ۶۶ | ددښمن په لیکو ولاړو کسانو ته داسلامي امارت دعوتي اعلامیه.... | ۲۳ |
| ۶۷ | دکابل پرپوهنتون کرغېړن برید په اړه داسلام امارت ویاند څرگندونې | ۲۴ |
| ۶۸ | د چاپې شپه (خاطره)...................... | ۲۵ |
| ۷۱ | د شهامت دارالافتاء................. | ۲۶ |


ادرس : کابل کارته پروان عقب سینمای بهارستان
بریښنالیک: Sham.shahamat@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم



# په تعليمي مرکزونو

## د بريدونو ترشا لاسونه او موخې ...؟

څو ورځې د مخه په «کابل پوهنتون» کې د ايراني کتابونو د يو نندارتون په پرانيست غونډه کې لوی شمير محصلين را ټول وو، چې نا څاپه يو نا ځوانمردانه او وحشيانه بريد لږ تر لږ ۲۵ محصلين مړه او په لوی شمير کې يې ټپيان کړل، دکابل ادارې يو تن لوړپوړي چارواکي رسنيو ته ويلي: د کتابونو د نندارتون په پرانيست غونډه کې د کابل ادارې د ځينو لوړ پوړو چار واکو ګډون ته دوی منتظر وو، ليکن د هغوی له رسيدو وړاندې دزې پيل شوې او د غونډې ګډونوالو د ځانونو ژغورلو په موخه يوخوا بل خوا منډې کړې او غونډه ګډوډه پای ته ورسيده.

اوس پوښتنه دا ده چې د کابل ادارې هغه لوړ پوړي چارواکي ولې پر ټاکلي وخت د غونډې ځای ته نه وو رسيدلي؟ ځکه هغه څوک چې د داسې بريد کولو لپاره پلان جوړوي هغوی له دېنه هم خبروي چې هغلته څوک، څوک ګډون کوي؟ نو ولي په دې بريد کې د کابل ادارې ديو لوړ پوړي چارواکي پوزه قدري هم سره نشوه؟ ولې ټول لوړ پوړي چارواکي خوندي او روغ پاته شول، يواځې مظلوم محصلين يې د خپلو تنو په وينو کې ولمبول ؟

ښکاره ده چې د دې بريد د تنظيموونکو ترشا د کابل ادارې ملي امنيت او د اشرف غني لومړي مرستيال «صالح» لاس دی؛ ځکه هلته د لوړ پوړو چارواکو له ورتګ وړاندې د بريد لپاره پلان برابر شوی و، څو د عامو محصلينو په هدف ګرځولو سره د افغانستان اسلامي امارت پر ضد د ناوړه پروپا ګند او تبليغ يوه نوې لړۍ پيل کړي او پرخلاف يې د افغانانو او نړيوالو د احساساتو او جذباتو را پارولو ناکامه کوښښونه وکړي.

خو دا چې د افغانستان اسلامي امارت د دغه ډول جعل کاريو او توطئو د ادراک او پروخت يې د مقابلې ښه صلاحيت لري اوتل يې په باب حساس او بيدار دي، نو د دښمن دا د سيسه يې هم آن په نطفه کې خنسا کړه، د اسلامي

امارت ویندوی محترم ذبیح الله مجاهد سملاسي کابل پوهنتون باندې برید وغانده او د بې گناه محصلینو وژل یې په سختو الفاظو محکوم کړل.

سربیره په دې چې د برید پړه داعش په غاړه واخیسته او پخپله رسمي پاڼه (اعماق) باندې یې د انځورونو په خپرولو سره برملا ادعا وکړه چې« په کابل پوهنتون باندې برید د دوی د دوو تنو[انس پنجشیري اوطارق خراساني] لخوا ترسره شو» خو بیا هم د کابل اجیرې ادارې لومړي مرستیال «صالح» اسلامي امارت ته د برید په منسوبولو ټینگار درلود او غوښتل یې چې برید د اسلامي امارت پرضد د یوې جعلي تبلیغاتي وسیلې په توگه استعمال کړي.

حقیقت دا دی چې د ډیرو تجربه کارو کتونکو په آند پخپله صالح او ملي امنیت اداره د دغه خونړي برید اصلي طراحان دي، ویل کیږي چې برید گر یې پخپلو موټرو کې په خوندي ډول ترپوهنتون رسولي او هلته یې ځای پرځای کړي وو او هم یې د خپل دولت لوړپوړي چارواکي له ورتگ څخه منع کړي وو.

د پوهانو په نظر ددې برید موخه دوه خبرې وې : یو دا چې کابل اداره په غسي وحشیانه بریدونو سره غواړي دسولې روان بهیرته ټکان ورکړي ځکه کابل اداره او په ځانگړي توگه ارگ کې پنډه بد اخلاقه مافیا د سولې راتلل د خپل مرگ سره مترادف گڼي همدا وجه ده چې هغوی یې په مخنیوي کې هر ډول وحشت او بشري جنایت هم نه دریغوي.

دوهم : په وروستیو کې چې د هیواد په مختلفو ولایتونو کې دمجاهدینو لخوا د تندریزو عملیاتو د تندریزې څپې په پورته کیدو سره د اجیرې ادارې د واک ټغر په ټولیدو شو او مجاهدین د پرمختگونو او لویو بریاوو په درشل کې شول، مکار او چالاک دښمن ددې لپاره چې د هیواد ولسونه او پرگڼې دمجاهدینو د راتلونکو نورو بریاوو څخه په ډار کې واچوي ، نو په دغسي ناځوانمردانه ، مجرمانه او وحشیانه اعمالو لاس پورې کوي، لکه د کابل پوهنتون محصلین خواران چې یې دخپل تن په وینو سره کې خپلو کورنیو او سیمو ته ولیږل.

هو! په کابل پوهنتون باندې د برید نه شاوخوا یوه اوونۍ وړاندې د پیښور په یوې دیني مدرسې باندې ترسره شوی وحشیانه او ظالمانه برید هم له دې پلوه ورته او مماثلت لري، چې هغه هم په معصومو او د نبوي علومو په طالبانو شوی و، کوم کې چې لوی شمیر د قران، حدیث اوفقهې زده کوونکي شهیدان او ټپیان شوي وو او په کابل پوهنتون باندې برید هم د علم، پوهې او دانش په زده کوونکو «محصلینو» وشو، ښکاري چې د افغانیت، اسلامیت او بشریت دښمنان غواړي چې د مسلمانانو او افغانانو د علم او پوهې ډیوې ووژني، څو په راتلونکي کې مسلمانان او په خاصه توگه افغانان دعلم، او دانش له نعمتونو محروم وگرځوي.

لنډه دا چې دغه ډول وحشتونه او جنایتونه په هیڅ دلیل د توجیه وړ نه دي او نه به د دغسې ناځوانمردانه بریدونو په ترسره کولو سره د افغانیت، اسلامیت او بشریت دښمنان کوم دپام وړ بری ترلاسه کړای شي، البته موږ باید پوی شو ، که خدای مکړه په علمي، دیني او عصر تعلیمي مرا کزو د بدمرغه بریدونو دا خونړۍ لړۍ نور هم دوام ومومي نو د شک پرته دا به د افغانستان په گډون د ټولې منطقې اوسیمې د راتلونکي لپاره ښې پایلې ونلري، نو جدي اړتیا ده چې سملاسي مغرضې اسلام دښمنې کړۍ مهار کړای شي، کنه هغوی به افغانستان او ټوله سیمه د نه پای لرونکي ناورین په گرداب کې ښکېل کړي، چې د هغه څخه را وتل به اسان نه وي، نوحتمي اوضروري ده چې د دې لوی وژونکي ناسور په مخنیوي کې د منطقې ولسونه او حکومتونه خپل، خپل مسؤلیتونه وپیژني او د یرغلگر دښمن د بریڅو او کرایي اجیرانو په مقابل کې ځانونه یو صف او یو ځواک کړي او د ټولې منطقې ولسونو ته دې د هغوی د شر څخه نجات ورکړي.



# دا په واک کې کابل خو
# په **اسلام** او **شریعت** وساتئ !!

درانی

الهي قوانين دبشر دخونديتوب او ټولنې دسالميت لپاره رانازل شوي، داچې د کائناتو خالق دبشر پالونکی او خالق هم دی همغه ذات دبشري لغزشونو او بې لاریو دمخنيوي په لارو چارو تر بل هر چا ښه پوهيږي اوله شک پرته چې الله پاک په دې هم قادر اوتوانا دی، چې دغه ناوړه اعمال اوجرمونه په انساني فطرت کې لا خنثی کړي او دېته اړتيا پيدا نه شي چې په انساني ټولنه کې دې د دې چارې لپاره دټولنې يوه لويه کتله پرې مصروفه وي، خو داچې انسان نړۍ ته دالهي عبادت لپاره په ازمايښي دور کې په ژوند مکلف شوی، ځکه يې نو دبامسؤليته ژوند دترسره کولو لپاره خپل قوانين او اصول هم ورته راليږلي، چې يواځې او يواځې دهمدې اصولو په مراعت سره بشرکولای شي بريالی ژوند ترسره کړي.

پرته له دې چې دسياسي ليدلوري له عينکو ورته وګورو، بلکې دورځني ژوند دواقعيتونو له مخې يې وايو چې نن سبا په افغانستان کې په عمومي ډول او په کابل کې په خصوصي ډول زمونږ هر هيوادوال نارينه اوښځينه، دهرې طبقې تحصيل کرده، دولتي اوغيردولتي مؤظفين، غريب او وسي په هيڅ ځای اوهيڅ وخت کې خوندي نه دي، په کوم هراس او وېره کې چې نن مونږ ژوند تېروو په ربښتياهم چې ډېر دترحم وړ دی.

که په عمومي ډول دهيوادوالو د ژوند او د ژوند لپاره يې دسيمو انتخاب ته نظر وکړو ډېری هيوادوال مو بېلابېلو سياسي او نظامي بدلونونو دېته مجبور کړي چې خپلې سيمې پرېږدي او ښارونو ته لاړ شي په تېره زمونږ مهاجر افغانان به ډېر کم خپلو سيموته تللي وي زياتره يې لويو ښارونو په ځانګړي ډول کابل ښار ته راغلي، په دې لړ کې دنورو لاملونو ترڅنګ د شپنيو عملياتو او بمباريو لامل هم د هېرولو نه دی، همدا سبب دی چې دکابل اونورو لويو ښارونو نفوس يو په دوه ډېر شوی دی.

خو اوس دې حقيقت منلو ته مجبوريږو چې ووايو اطراف اوکليوالې سيمې دښارونو په نسبت خوندي دي اوهلته دومره وېره اوخطر اوس نه محسوسيږي، شايد ډېر لاملونه ولري، د جنګونو کمی، بمبار، دعملياتو نه شتون او نورداسې اسباب هم وي، خو دجرمونو، غلاوو، وژنو او اختطافونو دمخنيوي لپاره چې په کومه اندازه انساني تشکيل، حکومتي امتيازونه، اسباب او وسائل په ښارونو کې مهيا دي، اطراف ترې په ډېره اندازه بې برخې دي، ولې له دې سره سره بيا هم په ښارونو کې خونديتوب نه شته او دبې امنۍ هغه حال دی چې دعيان حاجت يې بيان ته نه شته.

زه وايم د دې په ځای چې داسلام اوشريعت په تحکيم طالبان اومخالفين وننګوئ! راځئ په داشته کابل کې يې دکابل ښاريانو دخونديتوب لپاره يوځل عملي کړئ اوپه ربښتيني ډول يې عملي کړئ، وبه ګورو چې بيا څوک دغلا، اختطاف، وژنواونورو جرايمو دترسره کولو جرئت کوي؟ اوکه په حقيقي بڼه خو په ټول هيواد کې عملي شي په ربښتيا به بيا مخالفينو ته دجنګ جګړې کوم جواز هم پيدانه شي، ځکه بار بار يې ويلي او وايي چې زمونږ هدف هيواد دبهرنيو له شتون نه خلاصول او په ټول هيواد کې اسلامي نظام حاکمول دي.

که داسې نه وي بيا نو د ژبې په سر د دې خبرو له ګردان نه تېر شئ چې ګواکې تاسې خو طالبانو ته قرآن او سنت د خبرو اترو اساس ګرځوئ خو هغوی يې نه مني، راځئ همدا مو دامتحان او صداقت ميدان دی له پرديو شعارونو او قوانينو به تېر شو که نور نه وي همدا په اختيا رکې کابل خو په اسلام او شرعي قوانينويوځل مزين کړئ له غلو، داړه مارانو، اجرتي قاتلينو، غاصبينو، زورواکو، او دشر اوفساد له عاملينو يې خلاص کړئ، يواځې يوځل شرعي حدود نافذ کړئ بيا وګورئ چې دشرعي حدودو نفاذ څنګه د دغو بې امنيو مخه نيسي؟

او که دې کار ته مو اراده نه وي بيا نو معلومه خبره ده چې له دې خبرې هم محض يو سياسي استفاده کيږي او شايد چې طالبان مو هم په دې قصد خبر وي ځکه ستاسو ددې خبرو په وړاندې جدي غبرګون هم نه ښيي.




خبیر احمد

# دکابل اداره ولې بین الافغاني مذاکرات سبوتاژ کوي؟

نږدې یوه اونۍ شا او خوا وړاندې یعنې د عقرب میاشتې په درېیمه نیټه د کابل ښار په لویدیځ کې د داعشي خوني باند له لوري د کوثر په نامه پر یوه علمي مرکز باندې برید ترسره شو چې پکې ملکي خلکو ته درانه مالي او ځاني زیانونه واوښتل .

همدا راز د همدې میاشتې په دولسمه نېټه یو وار بیا د کابل پوهنتون پر محصلینو ترسره شوی برید چې ظاهرا د همدې فتنه ګرې ډلې له لوري ترسره شو او پکې لسګونه محصلینو ته مرګ ژوبله واوښته، له شک پرته یوه لویه تراژیدي ده او عاملینو یې په ډاګه کړه چې د جهل او قساوت انتها ته رسیدلي دي .

کابل اداري د تېر ځل په څېر یو وار بیا له دې وحشته د سولې د هڅو د اخلال او د نړیوالو د ذهنیت بدلولو لپاره تبلیغاتي استفاده وکړه او په ډېرې سپین سترګۍ سره یې ددې وحشت پړه د اسلامي امارت په مجاهدینو واچوله .

دا چې اسلامي امارت د خپلو نظامي فعالیتونو او د ملکي خلکو د خوندیتوب لپاره واضحه پالیسي او ځانګړی کمیسیون لري او د خپلو دښمنانو پرخلاف ، پر ولسي وګړو باندې قصدي بریدونه یې هیڅکله تګلاره نه ده پاتې شوې او تل یې دا رنګه له ظلم او وحشت ډک عملیات غندلي دي .

دا خو د کابل اداري وحشي- چارواکي دي چې د ولسي- وګړو له قتل عام او د مدرسو د معصومو ، حافظانو ، طالبانو او همدا ډول د محصلینو له شهادتونو خوند اخلي او توجیه کوي یې چې دا ټول وسلوال خلک او مجاهدین وو .

لکه شا او خوا دوه اونۍ وړاندې چې د کابل اداري د مشر- لومړي مرستیال د تخار په مرکز کې پر یوه جومات هوایي برید ، چې نږدې ټول قربانیان یې ماشومان وو ، په شدومد وستایه او هغه خبریالان یې تهدید کړل چا چې یې قربانیان ولسي وګړي بللي وو .

پر کابل پوهنتون د برید له پېښې سمدستي څو شیبې وروسته چې رسنیو کوم انځورونه خپاره کړي وو چې په هغې کې د پوهنتون په اطاقونو کې د اسلامي امارت سپین بیرغونه او پر دیوالونو ځیني لیکل شوي شعارونه او ورسره د ښار په زیاتو واټونو کې دا رنګه بینرونه چې په هغې کې یې لیکلي وو (دا برید طالبانو کړی او مونږ نور د قطر مذاکرات نغواړو) دا هر څه ددې ښکارندویي کوي چې دا وحشیانه برید او ورسره دا ټوله ډرامه د کابل اداري د مشر- لومړي مرستیال امرالله



صالح او حمدالله محب په ګډون د امنیت ځینو نورو ایکټرانو طرحه کړې وه ، ترڅو په دې سره د روانو بین الافغاني مذاکراتو پروسه شنډه او یا له خلل سره مخ کړي او دوي ته په افغانستان کې د لا زیات ظلم ، وحشت ، بربریت او پردیو ته د شیطانت کولو موقع په لاس ورشي .

د کابل رژیم سپین سترګي دې حد ته رسیدلې ، چې له یوه لوري د داعش ډلې ملیشې او اجرتي قاتلان د خپلو مقاصدو د پوره کولو په خاطر د ملي امنیت په زیرخانو او مهمانخانو کې ساتي او له بل لوري بیا وایي چې اسلامي امارت او داعش ډله یوه ده .

مګر هر چاته د لمر په څېر روښانه ده چې همدا اسلامي امارت وو چې دا فتنه ګره داعشي- ډله یې د هېواد په ګوټ ګوټ کې وځپله او له ټولو ولایاتو او ولسوالیو څخه یې پسې واخیستل چې بالآخره د کابل اداري وحشي چارواکو د دې ډلې شکست خورده جنګیالي پخپلو چورلکو ، ټانکونو او شوبلو کې خپلو بېسونو او مهمانخانو ته یوړل او د اسلامي امارت له مجاهدینو څخه یې وژغورل .

په داسې حال کې چې د بین الافغاني مذاکراتو د پیل په اړه بحثونه روان دي او د افغان ولس هیله مندي نوره هم زیاته شوې ده ، د اسلامي امارت پر ضد دروغجن تبلیغات او پر ولسي وګړو باندې پرلپسې بریدونه دا ښيي چې د کابل اداري په مشرتابه کې ناست ګوډاګي او پردیپال اشخاص سولې ته ژمن نه دي او عملاً یې د دې پروسې تخریب ته متې رابډوهلې دي.

خو دوي ته دې جوته وي چې داسې کړنې یې یواځې هغه حقیقي څېره ولس ته ښکاره کوي ، د ولس په زړونو کې نوره هم کرکه او نفرت زېږوي او د ځان لپاره د دښمنانو زیاتولو پرته نور هېڅ نوع ګټه ورته نشي- رسولی.

پای





# کابل کې څه تېرېږي؟

جاوید علي خېل

د شپې شاوخوا یوه بجه وه چې زموږ د سپرلۍ بس له کندهاره کابل ته ورسید، ما غوښتل د کابل ختیځ اړخ بت خاک سیمې ته ځان ورسوم. دوه کسان نور هم وو چې همدې خوا ته تلل. په ګډه مو یو ټکسي ـ کرایه کړ. کله چې له چمن حضوري تېر شو او د کارته نو په سرک برابر شوو، له څه مزله وروسته له عمرخېل پمپ سره هغه دوه نور کسان ښکته شول. چې لږ مخکې لاړو ګورو چې د سرک له چپ اړخ څخه یو سپین ږیری په سرتور سر او شکیدلي ګریوان په ډېر وارخطا حال کې زموږ اړخ ته راواوښت چې ورسره دوه زلمکیان هم وو. سپین ږیري په ډېره وارخطایي غږ وکړ استاذه موټر ودروه چې ویې شکولو هغه دی موټر یې رانه بوت... استاد چې دا خبره واوریده، د دې په ځای چې موټر ودروي وارخطایي یې نوره هم زیاته شوه او موټر ته یې بل ګیر وربدل کړ او سرعت یې توند کړی. لږ مخکې مو لیدل چې یوه نوی ټوډي موټر چې په دوهزار سره یادیږي د عمومي سرک له څنګ سره په فرعي سرک په ډېر سرعت روان دی او هیڅ جمپ نه نیسي ـ. استاد وویل دغه موټر دی چې داسې تیز یې روان کړی دی. موټر لږ وړاندې یوې تنګې کوڅې ته ننوت او زموږ له سترګو غیب شو.

موږ بتخاک چهاراهي ته راورسیدو لږ وروسته هماغه سپین ږیری او نور کسان چې غلو شکولي وو هم راورسیدل، همدلته یې ولاړو پولیسو ته خبر ورکړ چې نوی ټوډي موټر رانه غلو واخیست، پولیسو هم په مخابرو کې پسې غږ کړ، فلانی صیب او فلانی صیب په دې نمبر موټر غلو بیولی دی که په مخه درغی راویې ګرځوئ او بس...

دا مې په کابل کې هغه لومړنۍ صحنه و چې ترسره سترګو تېره شوه او دا رامعلومه شوه چې کابل ښار یو ځل بیا د نویمو کلونو د تنظیم بازۍ عصر ـ ته ستون شوی دی. په ښار کې د غلو او شوکمارو ګلې ګرځي. په رڼا ورځ له خلکو موټر، مبایل، پیسې او نور قیمتي توکي غلا کوي.

دا چې دې ورځو کې د سولې خبرې ګرمې دي، ما فکر کاوه چې د نورو ځایونو غوندې به په کابل کې هم د سولې موضوع د هر مجلس نقل وي، خو برعکس هلته مې ولیدل چې په هر مجلس کې خلک د غلو او

لوټمارانو په اړه غږیدل. که به په حجره یا مجلس کې ناست وې، که به دوکان یا مسجد کې وې او که به له ټکسیوان یا رکشه وان سره غږیدې ټولو خلکو له ناامنۍ، غلا، اختطاف او لوټمارۍ شکایت کاوه.

د غلا او لوټماریو په باره کې خلکو داسې عجیبې او غریبې کیسې بیانولې چې په آسانه زړه ته نه لویدې مګر واقعیت یې درلود. مثلا د کابل ښار په ځینو سیمو له ډیرو کورونو څخه د کرینک په واسطه موټر پورته کړای شوي او سلامت وړل شوي دي. د احمد شاه بابا مینې داود خان چاراهي ته نږدې په داسې حال کې چې پولیس دیرش متره لرې ولاړ ول څو تنه غله یوه سوپر مارکیټ ته ورننوتل، یوه غله له پولیسو سره د ډزو تبادله شروع کړه، په دې ډول یې د پولیسو د سترګو په وړاندې له دوکان څخه دیارلس لکه افغانۍ لوټ کړې.

خلکو د غلا او لوټماریو د زیادت ډیر وجوهات بیانول. عمومي رایه دا وه چې تېر کال د کرونا مرض د خپریدو په وخت د اشرف غني لخوا زرګونه هغه لوټماران او غله چې په زندانونو کې وو، پرته له پلټنې آزاد کړای شول. دغه لوټماران چې اکثر یې د کابل ښار اوسیدونکي وو له راخلاصیدو وروسته یې یو ځل بیا لوټماریو ته مخه کړې نو ځکه یې په ښاریانو د ژوند چاپیریال تنګ کړی دی.

ډیرو خلکو دا هم ویل چې غله ځکه دومره سورسترګي او زړور دي چې تر شا یې د چارواکو ملاتړ موجود دی. یوچا داسې کیسه بیان کړه چې د کابل ښار په قلعه شانان سیمه کې یوه سړي کور خرڅ کړی و، خو لا یې پیسې نه وې اخیستې چې د شپې غله ورغلي وو. غلو ورته ویلي وو چې هله د کور د خرڅلاو پیسې را وباسه، ده ورته ویلي و چې تر اوسه مې پیسې نه دي اخیستې سبا یې راکوي. غله چې کله پوهیدلي وو چې له سړي سره پیسې نشته نو یې سړي ته ویلي وو چې ښه له مونږ سره حوزې ته لاړ شه او د حوزې مشر ته همدا خبره وکړه چې ما تر اوسه پیسې نه دي ترلاسه کړي. ځکه د حوزې مشر- بیا مونږ ته وایي چې ټولې پیسې تاسوځان ته وهلي دي او دروغ وایاست. له دې او دې ته ورته کیسو څخه معلومیږي چې چارواکي په خاص ډول پولیس هم له غلو سره شریکان دي.

په همدې ورځو کې د کابل ښار په ځینو سیمو کې داسې ورقې خپرې شوې وې چې په کې د اسلامي امارت مجاهدینو د کابل شوکمارانو ته اخطار ورکړی و، چې که له لوټمارۍ لاس وانخلي انجام به یې ښه نه وي. د مجاهدینو دې کار خلکو ته یو امید ورکړی و، ځکه له حکومتي چارواکو خو تر وروستۍ کچې مایوس وو. د مجاهدینو له دې اخطار وروسته د ارګ چارواکو ته هم غیرت وروراندې شو، اشرف غني خپل مرستیال امر الله صالح د کابل د امنیت مسؤل وټاکه په داسې حال کې چې د کابل ښار اکثر لوټماران د هغې ډلې لنډه غر دي چې امر الله صالح یې هم د غړیتوب ویاړ لري.

په کابل کې لوټ تالان روان ناورین که له یوې خوا د خلکو سر او مال ته لوی خطر دی، بل اړخ ته یې دا ویره هم رامنځته کړې چې د غلا او شوکمارۍ دومره ډیربښت ښایي په نهایه کې د دغه جرم جرمي اړخ هم اغیزمن کړي او وروسته به د رشوت غوندې د یوه عادي کار بڼه خپله کړي چې بیا به نه څوک ورباندې شرمیږي او نه به د ویرې احساس کوي.





# ازادی بیان یا اسلام ستیزی؟

ابو زبیر حبیب زاده

امروز مقاله‌ی یک نویسنده سیکولار را مطالعه داشتم. وی هر از گاهی در نبشته‌های خود بر تضادات عملی جامعه اسلامی به‌خصوص نقش منفی علمای معاصر نقد می‌کند. اما جالب بود که بر خلاف دیگر سیکولاران افغانی و غربی، که مشغول توجیه سخنان موهن مکرون هستند، این‌جناب از اهانت توجیه ناپذیر پیامبر اکرم اسلام صلی‌الله‌علیه‌وسلم بسیار ناراحت شده‌بود و از معیارهای دوگانه و برخورد چندگانه جامعه سیکولار نالیده‌بود.

وی نوشته‌بود: «جامعه غربی یارای جزوی‌ترین نقد بر یهود را ندارد، اما پیامبر اسلام صلی‌الله‌علیه‌وسلم را این‌قدر به آسانی توهین می‌کند، نقد بر یهود عصبیت مذهبی عنوان داده‌می شود، اما از اهانت به مقدسات اسلام به بهانه آزادی بیان دفاع می‌شود».

بلی، مشکل این نبود که امانوئل مکرون، رئیس جمهور فرانسه چرا کشته‌شدن ساموئل پتی، استاد ۴۷ساله فرانسوی را محکوم کرد. وی به‌حیث رئیس جمهور فرانسه حق داشت که از کشته‌شدن بدون محکمه‌ی یک شهروند خود به‌خشم می‌آمد. اما خشم او نباید به‌معنای این می‌بود که آنچه ساموئل انجام داده، درست است.

درست است که مرگ صحرایی ساموئل از نگاه قانون فرانسه روا نبود، اما این کجا درست است که عمل پلید ساموئل، نمایندگی از ارزش‌های سیکولاریسم و دموکراسی خوانده‌شود و عین آن عمل در مراسم یادبود از او، به شکل گسترده و زیر چتر دولتی تکرار شود؟

مکرون در مصاحبه با الجزیره گفته است که: «ما با تکرار عمل ساموئل پتی به اسلام‌گرایان تندرو پاسخ می‌دهیم». این یقینا عذری بدتر از گناه است. او در حالی‌که اسلام‌گرایان تندرو را تنها تهدید برای جامعه فرانسوی نه بلکه برای مسلمان‌ها هم می‌داند، اما شاید خبر نیست که با عمل اهانت‌آمیز خود، موقف تندروان را قوی‌تر و مسلمانان خواب‌رفته را هم بیدار ساخته‌است.

چنانچه برادر ما منیر احمد منیر، نوشته است: «مسلمانان بر عقیده‌ای بسیار محکم استوار اند و عموما حاضر اند تا به‌خاطر آن، از همه چیز خود بگذرند؛ بخصوص قرآن و نبی بزرگوار اسلام صلی‌الله علیه وآله‌سلم. دراین زمینه میان نمازخوان و غیرنمازخوان، پایبند به اعمال و غیر پایبند، فرقی نیست؛ همگی خود را در دفاع از آن برابر می‌دانند و تجربه این‌چیز را ثابت کرده است».



عــده‌ی از ســیکولاران می‌کوشــند معنــای سیکولاریسم بـه لادینیـت را توطئـه‌ی اهـل مـذهب بخوانند. اما هر از گاهی امثال مکرون پیدا می‌شوند کـه در صـحنه عمـل ثابـت می‌کننـد معنـای واقعـی سیکولاریسم همین لادینیت و دین‌ستیزی است. اما دریـن اواخـر سیکولاریسـم از لادینیـت بـه محـض اسلام‌ستیزی تبدیل شده‌است.

حقیقـــت اینســـت کـــه مســـیحیان در برابـــر سیکولاران و سیکولاریسم در برابر یهودیان سرنهاده اند. سیکولاران پس از محو نقش مسیحیت از جامعه غربی، در پی نابودی اسلام و ارزش‌های اسلامی اند. امـا للـه الحمـد توطئـه‌های آن‌هـا ناکـام مانـده و مسلمانان با ولوله تازه‌ی بـه پاسداری از ارزش هـای دینی خود کمر بسته اند.

مشـکل سـیکولاران اینسـت کـه اسـلام را بـا مسیحیت بـه اشتباه گرفته‌انـد. آن‌هـا فکـر می‌کننـد چنانکـه دیـن تحریـف شـده مسـیحیت را از زانـو درآوردنـد و کلیسـای گمـراه را محکـوم سـاختند، بـر اسلام هم به آسانی خط بطلان می‌کشند و مسلمانان را مسـخر می‌کننـد. امـا شـاید نمی‌داننـد کـه اسـلام غالب شدنی‌است، نه مغلوب شدنی. کلیسـا، راهبـان و پیروان دین اغـوا شـده‌ی مسیحیت همـه در برابـر جبر سیکولاریسم عاجز شـده انـد، امـا اسلام بـه‌حیث مناره‌ی هدایت همواره در برابـر فتنـه‌های هـر عصر، ایستادگی کرده و می‌کند.

سـیکولاران اسـلام را چـالش بـزرگ در برابـر حاکمیت خود می‌دانند. آن‌هـا بـه بهانـه‌ی آزادی‌بیـان می‌خواهنـد ارزش‌هـای اسـلامی را تحقیـر و حـق حاکمیـت خـود را ثابـت کننـد. اسلام در چوکات‌هـای دولتـی اروپـا هیـچ رسـمیتی نـدارد و بـرای مسـلمانان هیچ قوانین جداگانه‌ی مطابق خواسته‌های مسلمانان وجـود نـدارد. بنـا بـرین خصـومت سیکولاران بـرای بی‌دخـل سـاختن اسلام از امـور دولتـی نیسـت، بلکـه محض اسلام‌ستیزی است.

افـزایش چشـمگیر جمعیـت مسـلمانان در اروپـا، مشـکل دیگـر سـیکولاران اسـت. بـه اسـاس مرکـز تحقیقات پیو، اگر وضعیت بـه شکل فعلـی دوام یابـد مسلمانان تا ۲۰۵۰ به ۱۴٪ کل جمعیت اروپا می‌رسند، یعنـی سـه برابـر سـهم فعلـی. جامعـه سیکولار غربـی اگرچه بر تنوع مردمی خـود می‌بالنـد، امـا می‌خواهنـد که مسلمانان باید به‌جای اسلام واقعی بر اسلام غربی میلان داشته باشـند، اسـلامی کـه تنهـا نـام اسـلام را داشته باشـد و بـس، و یـا بـه تعبیـر دیگـر؛ مسلمانان اروپـایی بـه نـام مسـلمان باشـند و در صـحنه عمـل بی‌دین و دین‌بیزار.

موقف‌گیری‌های اخیر دولت سیکولار فرانسـه و به‌خصـوص مکـرون در برابـر اسـلام و ارزش‌هـای اسـلامی بـه معنـای اینسـت کـه ٦ ملیـون مسـلمانان فرانسه اختیار دارند که به «آزادی‌بیان» تن می‌دهند و یـا فرانسـه را تـرک می‌کننـد. بلـی، ایـن تنهـا در افغانستان نیسـت کـه از آزادی‌بیـان استفاده ابـزاری می‌شود، بلکه سیکولاران اصیل نیز آزادی‌بیان را برای اسلام‌ستیزی به‌کار می‌برند.

# هو! کابل پوهنتون باندې برید بشري جنایت دی!




ارمان

په خواشینۍ خبر مو ترلاسه کړ چې پرون (د لړم په ۱۲مه ۱۳۹۹ اکتوبر۲مه ۲۰۲۰ز) کابل پوهنتون پر محصلینو باندې داسلامیت، افغانیت او بشریت دښمنانو له لوري ظالمانه او وحشیانه برید تر سره شوی دی.

خبري رسنیو په قول: د برید له امله دپوهنتون ګڼ شمېر محصلینوته زیاته مرګ ژوبله اوښتې ده او هم دپوهنتون ودانیو اونو رو وسائلو ته درانه زیانونه رسیدلي دي.

د داعش په نوم ډلې دیاد برید مسؤلیت منلی دی او پخپله رسمي پانه (اعماق) باندې دانځورونو خپرولو ترڅنګ ویلي دي چې دا برید د دوی دوه کسانو (هریو انس پنجشیري او طارق خراساني) لخوا ترسره شوی دی.

داعشیان د خپلو توندو او افراطي افکارو او تکفیري عقایدو له لیده: نړۍ کې دهغو مسلمانانو دتکفیر فتوا ورکوي، کوم چې د دوی په څیر افراطي افکار نه خپلوي اود دوی د سیاسي او عقیدوي اندونو څخه پیروي نکوي په ځانګړې توګه هر هغه څوک چې د دوی دخلیفه سره بیعت نکوي هغوی واجب القتل ګڼي.

داعش ډله لومړی په عراق او شام کې را پیدا کړای شوه اوبیا د هغه ځای نه د نړیوالو او منطقوي استخباراتو په مرسته افغانستان ته ددې لپاره راوستل شوه، څو دلته دافغانستان اسلامي امارت په مشرۍ دامریکایي اشغال پرضد روان جهاد د ناکامۍ سره مخ کړي.

رښتیا هم د داعش په راوستلو سره دلته دامریکا پرضد جګړه اوږده شوه او دافغانستان د اسلامي امارت پوځي ځواک دامریکایي اشغالګرو ځپلو ترڅنګ په ځینو سیمو او ولایتونو کې د داعشیانو په ځپلو هم مصروف شو، چې له امله یې داعشیانو افغاني مسلمانانو ته نه جبرا نیدونکي زیانونه ورسول، د دې باوجود د الله تعالی په کومک دافغانستان اسلامي امارت باتورو مجاهدینو په یو وخت کې پر دواړو محاذونو باندې خپل جهادي مقاومت ته په دوام ورکولو سره امریکا یې اشغال نه د هیواد دازادۍ لپاره جهاد جاري ساتلو ترڅنګ چې پکې یې یوساعت لپاره هم ځنډ ونکړ، د داعشي۔ او خارجی فتنې خنسا کولو لپاره دهغوی پر ځالو او پټن ځایونو هم بریدونه روان وساتل، دکومو په نتیجه کې چې یاد دواړه دښمنان په یو وخت کې له تاریخي شکست سره مخ شول.

او دا هم ښکاره ده چې د داعش ملاتړ د امریکایانو او کابل اداري لخوا ترننه دوام لري، هرکله به چې داعشیانوپه جګړه کې ماتې وخوړه نو د مجاهدینو له ډاره به دکابل اداري عسکروته ور تښتیدل اویابه یې هغوی دنجات لپاره خپلې هلیکوپترې ورلیږلې، تردې مهاله په لوی شمیر داعشي جنګیالي دکابل اداري لخوا په خاصو ځایونو کې پټ ساتل کېږي.

څنګه چې کابل رژیم د سولې او امنیت راتګ د خپل ځان د مرګ مرادف عمل بولي، او په هیڅ صورت سوله نه غواړي، هغه اوس هم هغه داعشیان د خپلو شومو

اغراضو او جنایتونو لپاره کاروي چې وروستی جنایت یې په کابل پوهنتون وحشیانه عملیات وو.

## په کابل پوهنتون د برید موخه:

دا چې وروستیوکې لـه اوږده ځنډ وروسـته د قطر هیواد په پلازمینه دوحه کې بین الافغاني خبرې پیل شوې دي، او کابل رژیم په نه زړه ورته خپل استازي لیـږلي دي، نوله لومړي سره پـه دې هڅـو وهانـد کـې دی چـې څنګـه دبین الافغاني مذاکراتو بهیر سبو تاژ کړي؟ ددې لپاره یې مختلفې حربې او دسیسې پـه کـار اچـولې دي، چـې یـوه تړتولو قوي دسیسه داده چې جنایتونه پخپله سرته ورسوي دپـړې ګوتـه مجاهدینوتـه نیسيـ زکـه چـې مـردود رژیـم دجګړې په دوام کې خپل ژوند او بقا ویني، ددې لپاره یې پرلپسې دسولې تخریبولو هڅې شروع کـړي دي، د سولې او امنیت راتلو په وړاندې یې موانع او خنډونه ایجاد کړي دي، څـو افغانـان او نړیـوال دا وفهمـوي چـې ګـواکي دافغانستان اسلامي امارت سوله نه غواړي، حقیقت دادی چې کابل اداره خپله سوله نه غواړي او پخپل ټول توان سره سوله وژني او ورته ژمن ندی.

بل پلوته چې دافغانستان اسلامي امارت دهیـواد پـه مختلفو ولایتونو او سیموکې دکامیابو عملیاتو په ترڅ کـې په کابل رژیم حلقه تنګه کړې ده او ورځ تربلې مجاهـدین دپرمختګونو په حال کې دي، دکابـل اسـتخباراتي اداري د دې لپاره چې د مجاهـدینو د راتلونکـو بریـاوو څخـه عـام ولـس پـه ډار او اندیښـنو کـې مبتلـی کـړي، پـه دغسيـ مجرمانه، و حشیانه او ناځوانمردانه بریدونو لاس پورې ک او د دې لپاره وخت په وخت خپله لاسپوڅې وحـشي ډلـه (داعش) ګومـاري، او وربانـدې دغـه ډول جنایتونـه کـوي هـدف یـې دادی چـې مجاهـدینو پرضـد د عـام و لـس او نړیوالو احساسات را و پار وي.

لیکن افغانـان او نړیـوال بیشـعوره او ناپوهـان نـدي هغوی دکابل رژیم د جنـایتونو او وحشـتونو ادراک لـري، هرافغان چې ازاد ضـمیر ولـري هغـه پـوهیږي چـې کابـل پوهنتون باندې شوي برید کې دکابل اجیـر رژیـم اجیـرې کړی لاس لري.

سربیـره پـر دې چـې داعـش دبریـده پـره پرغـاړه واخیسـته چـې یـاد بریـد د دوی د دوو جنګیـالیو «انـس الپنجشیري» او «طارق الخراساني» لـه لـوري شـوی دی، خـو بیـا هـم د کابـل اداري لـومړی مرسـتیال «امراللـه صالح»امارت ته یې په منسو بولـو ټینګـار لـري دهغـه پـه ځواب کې دامارت ویاند «ذبیح الله مجاهـد» پـر خپـل ټویټر هغه انځورونه خپاره کړل، چې د امارت بیـرغ پکـې ښکاري او ادعـا کیـږي چـې تیـره ورځ د جګـړې لـه ځایـه اخیستل شوي او برید ګرو پر دیوالونو باندې د «اسلامي امارت زنده باد» توري لیکلي.

مجاهد د برید په تړاو د امرالله صـالح څرګنـدونې « دروان» بللي او لیکلي یې دي چې «امرالله صالح» چې پـه سپینو سترګو دروغ ویلي شي او پړه پرامارت اچـولی شي، نو داسې جعلي صحنه سـازي هـم ورتـه آسانه ده. څرنـګ ممکنه ده چې دڅو ساعتونو په مخ جګړه کې بوخت بریـد ګـر پـه دیوالونـو خطـاطی تـه وخـت پیـدا کـوي؟ او بیـا دبریدونو ځای ته ځانو سره دامارت د بیرغ وړلـو ضرورت څه دی؟

نومـوړي زیاتـه کـړې «دا چـې بریـدګرو د پولیسـو جامې په تن وې هغه د څه شي علامه ده؟ د داعش اعـماق انټرنټي پاڼې د بریدګرو تصویرونه خپـاره کـړل، جسـدونه هم د کابل له اداري سره دي، کـه څـوک بهانـه نکـوي نـو جسدونه دې له خپاره شوو تصویرونو سره وکتـل شي چـې هغه دي کنه؟ دا برید هم د یـو شـمیرناپاکو بهانـه ګیریـو لپاره ترسره شوی دی

لنـډه داچـې دکابـل اداري پـه اوړو کـې شـګې دي، هغوی دامارت او مجاهدینو بدنامولو لپاره دغسې بدمرغه او کرکجن جنایتونه ترسره کوي، څـو پـه دې دمجاهـدینو پخـلاف دعـام ولـس احساسـات راوپـاروي. لـیکن ولـس پوهیږي چـې پـه دې کـې دچـا لاس دی؟ یقینـاً دغـه ډول بریدونه په هیڅ صورت دتوجیه وړندي مـوږ یـې پـه کلکـو توریو غندو، او افغان مجاهد ولس ته ډاډ ورکـوو چـې کـه خدای کول هغه وخـت نـژدې دی چـې ډیـر ژربـه دکابـل اداري پردیپال چارواکي د دغه ډول ټولو بزدلانه جنـایتونو او ظالمانه بریدونو حساب و کتاب ورکړي ان شاء الله



# فرانسه

## بیا د اسلام دښمنۍ په لور!

اسلم امید

فرانسه یو ځل بیا د اسماني لارښوونو او د الهي دین پر خلاف د جګړې محاذ ته درومي، او نه یوازې د الهي وحې د اجتماعي کردار نفي کوونکو اشخاصو قیادت کوي بلکې په انبیاءعلیهم السلام او په مقدسو شخصیتونو پورې پخپله هم د توهین او استهزاء جسارت کوي، د عظیم الشان قرآن په ګڼو ایاتو نوکې الله تعالی پخپلو استازو (انبیاءعلیهم السلام) پورې د پخوانیو امتونود طنزکوونکو او استهزاء کوونکواشخاصو بد انجام ذکر کړی دی، اوسنی حالت هم د هغه مختلف نه بریښي بلکې د هغه روان تسلسل دی.

له حضرت نوح علیه السلام نه واخله تر حضرت محمد صلي الله علیه وسلم پورې مقدسو شخصیتونو پورې دهغوی د قومونو او امتونو پشان نن هم د اهانت او استخفاف مردود ارتکاب کېږي، که د پخوانیو امتونو لخوا دانبیاء علیهم السلام په باره کې دهغوی دا هانتونو ثبوت لپاره دعظیم الشان قرآن مبارک ایاتونه راټول کړ ای شي ورڅخه به یو بسته کتاب تیارشي، غرض دادی چې دا کومه نوې پېښه یا موضوع نده بلکې له پیل نه دالله تعالی پیغمبران ورسره مخ شوي دي او زموږه پیغمبر صلی الله علیه وسلم هم ورسره مخ شوی دی او ښکاري داسې چې تاریخ بیا ځان تکراروي، یو لورته اسماني لارښوونې او د انبیاء علیهم السلام مقدس شخصیتونه اوبل لورته له اسماني لارښوونوڅخه نفي کوونکي او دهغوی لخوا کیدونکی توهین او تحقیردی.

د ټولنې او سیاست څخه دعیسایي دین کردار نفي کولو او په اجتماعي معاملاتو کې د اسماني لارښوونو ویستلو پیل له فرانسوي له انقلابه شوی دی، له هغه مهال راهیسې غربي مفکران او سیاستوال دنړۍ په هر ځای کې د اسماني لارښوونو د کردار منع کولو هڅې کوي، په دې لړکې هغوی د ډیرو نورو ادیانو منونکي هم له ځان سره مله کړي دي، خو د اسلام او مسلمانانو ماحول ته په ننوتو د هغوی قد مونو ټکان وخوړو، زکه د هغوی په وړاندې د مسلمانانو دیني او فکرکړیو مقاومت وکړ اوتراوسه یې کوي او دا بلکل هغسې دفاعي سنګر نیول و لکه د دوهم نړیوال جنګ په دوران کې دجرمني یرغل په وړاندې چې لینن ګراډ نیولی و.

د اسلامي نړۍ مجموعه حال دادی چې اوس مهال داسلامي هیوادونو او ولسونو د واک واګې د کومو خلکو یا ډلو په لاسو کې دي د هغوی د ټولو منفی کړو وړو او هلو ځلو باو جود عام مسلمانان د خپل دین سره نه یوازې په کلکه ولاړ دي بلکې هغوی د اسلامي لاربنوونو د اجتماعي کردار څخه لاس په سرکیدو ته تیار ندي، زموږ په نزد د دې و جه داده چې اسلامي لاربنوونې نه یوازې پخپل اصلي حالت کې پاته اوخوندي دي بلکې تړدیره وربانديې د عمل سلسله هم دوام لري چې په سبب یې له اجتماعي کردار نه د مسلمانانو جلا کولو لپاره دهغوی هڅو یومخ نتیجه ورنکړه.

دې حالت په کتو سره دلادینیت نړیوال علمبرداران په یوه نړیواله لا لهاندۍ کې مبتلی دي، ز موږ په اند: وخت په وخت دتوهین رسالت د دغه ډول مردودو اعمالو او جنایتونو دارتکاب په اړه د« موتوا بغیظکم» نه سیوا بله تبصره موزونه، نه بریښي، کنه کوم څه چې د فرانسې ولسمشر وکړل ورته وجه نلري او نه یې کومه معقوله توجیه کیدای شي.

دفرانسې د ولسمشر او حکومت په ناوړه حرکت سره داسلامي نړۍ د مسلمانانو او په خاصه توګه دترکیې لخوا تونـد غبرګون فطري او طبعي و او په دې سره دترکیې ولسمشر او نور عام مسلمانان د شابسي مستحق دي، چې د مسلمانانو داحساساتو او جذباتو یې ښه ترجماني وکړه، ځکه دا د مسلمانانو دایمان او عقیدې مسئله ده او د اسلامي مقدسو شخصیتونو د تقدس او حرمت معامله ده چې په باب یې هیڅ قسم مداهنت، او معامله کول ګنجایش نلري، په دې لړکې موږ د ترکیې د ولسمشر دوینا ځیني مفاهیم هم له درنو لوستونکو سره شریکوو:

د ترکي خلک به د فرانسوي مصنوعاتو څخه پریکون هغسې کوي لکه دقطر او کویت سوپر مارکیټونه یې چې کوي، په فرانسه چې کوم شخص واکمن دی، هغه د خپلې لارې ګرځیدلی دی، هغه یو ناروغ دی او هغه ته واقعاً د دماغي درملنې ضرور ت دی، نوموړي د فرانسې ولسمشر ته په خطاب کې وویل: فاشزم ستاسو په کتاب کې لیکل شوی دی! فاشزم موږ په جرمني او اټالیا کې لید لی دی! موږ نازي ازم لیدلی دی! تاسو بلکل په هم هغه لار درومئ! په کومه چې هغوی وو! زموږ کتاب عظیم الشان قرآن موږ ته د فاشزم ښودنه، نه کوي، اونه موږ ته د نازي ازم ښود نه کوي! زموږ کتاب موږ ته د اجتماعي عدالت ښود نه کوي او د هغه د هدایت سره سم موږ د اجتماعي عدالت په لار دروموو!

رښتیا هم د ښاغلي اردوګان پورتني الفاظ او کلمات سل په سله پر حقیقت بنا دي، اویوه داسې هینبوونکي تبصره ده چې نه یوازې دفرانسوي واکمنو لپاره پکې لوی سبق اولوی نصیحت شته دی بلکې د اسلامي نړۍ د واکمنانو لپاره هم د یو مهم سبق او ګټورنصیحت حیثیت لري او موږ ټولو ته یې په ړنا کې راتلونکې تګلاره غوره کول پکار دي.





# اسلام ته د سپکاوي نه تم کېدونکې لړۍ او د حاکمانو دردوونکې چوپتیا

حسن مومند

دمحترمو لوستوالو په علم کې به وي چې دفرانسې پلازمېنې پاریس پر لویو ودانیو هغه لوی پوسترونه را زړول شویدي چې پرې د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک شان ته دسپکاوي په موخه کارتونونه ثبت دي.

د دې خورا ناوړه عمل نه یوه اوونۍ وړاندې دفرانسې ولسمشر (عمانویل میکروان) ویلي وو (نعوذ بالله من ذلک) اسلام دبحرانونو دین دی؛ په ۱۹۰۵م کال کې دمذهبي ازادیو په هکله منل شویو قوانینو کې دبدلونونو راوستلو له لارې به دمسلمانانو مذهبي ازادي محدوده شي.

اسلام د فرانسې دوهم سترمذهب دی؛ دلته ۷ ملیونه مسلمانان ژوند کوي پدوئ کې دزیاترو تړاودمراکش، الجیریا، تیونس، المغرب اونوروهغو هېوادونوسره دی کوم چې یو وخت دفرانسې تر استعمار لاندې وو خوپکې دنویو مسلمانو شویو مسلمانانو شمېره هم ښه زیاته ده؛ فرانسه د اروپا هغه هېواد دی چې اسلام پکې په ډېرې تېزۍ خپرېږي ځکه خو نور لویدیځ په پرلپسې ډول دا اندېښنه ښکاره کوي چې شاید ځو لسیزې پس داهېواد په اسلامي هېواد بدل شي.

اسلام دښمنه کړۍ چې دنورو لویدیځو هېوادونو په پرتله دلته په ډېرې سپین سترګۍ او احساساتي ډول خپله اسلام دښمني ښکاره کوي او په مکرر ډول د اسلام ستر پېغمبر شانِ اقدس ته سپکاوی کېږي نو لوی او اساسي لامل يې همدا داسلام تېزخپرېدل او دمخنیوي لپاره يې ناکامې هڅې دي.

په تېرو دوه لسیزو کې داسلام او مسلمانانو پرضد د امریکا او نور لویدیځ دښمني ډېره ډاګیزه شویده؛ یولورته يې پر اسلامي نړۍ د عسکري یرغلونو او په اسلامي نړۍ کې د داخلي جنګونو خونخواره لړۍ روانه کړیده اوبل لورته په نړۍ کې داسلام سره دنړیوالو دنفرت پېداکولو، دمسلمانانو د بدنامولو، په نړۍ او خصوصاً لویدیځ کې داسلام دتېزخپراوي دمخنیوي، په نړۍ کې داسلامي شعایرو دبې ارزښته کولو، دخپلو مقدساتو سره دمسلمانانو دعقیدت راکمولو، مسلمانانو ته دلوی درد رسولو، په رواني لحاظ يې دمکمل مفلوجولو په موخه صلیبي نړۍ دیو سنجول شوي پلان له مخې ستر الهي کتاب قرآن عظیم الشان، سترپیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم او نورواسلامي مقدساتو ته دسپکاوي یوه نه تم کېدونکې لړۍ پیل کړیده.

شروع يې له ګونتنامو، ابوغریب او بګرام زندانونونه وشوه، دلته په مکرر ډول دمسلمانو زندانیانو ترمخه دقرآنکریم سپکاوی وشو، بیایې قصداً خبرونه خپاره شول او

دخلکو په سترګوکې دخارو اچولو لپاره دامریکا له لورې ایله په همدومره ویلو بسیاوشوه چې داد فوځیانو شخصي- عمل دی چې د امریکادولت یې نه تائیدوي.

دنړۍ دمسلمانانو له لورې چې کوم داسې عکس العمل رامخې ته نه شو چې لویدیځ ودردوي نو لویدیځوال یو قدم نور وړاندې ولاړل؛ درسول الله صلی الله علیه وسلم دشان دسپکاوي په اراده ړومبی د ډنمارک اوبیا د لسګونو نورولویدیځو هېوادونو نه دکارتونونو دردونکې اشاعت رامخې ته شو، دهالنډ دبدبختو یهودانو په واسطه داسلام دستر پیغمبرپه اړه داهانت (نعوذبالله من ذلک) نه ډک فلم جوړ او خپورشو، اوچې په ټولېزه توګه اسلامي نړۍ هغسې عکس العمل ښکاره نکړ څرنګه چې پکارو نو د ملعون امریکایي پادري ټیری جونز په شکل کې غربي نړۍ اوپه سرکې یې امریکا رامخې ته شوه، ټوله اسلامي نړۍ یې چیلنج کړه دقرآنکریم سوځولو دمقابلي اعلان یې وکړ اوبیایې د یوې ډلې پادریانو او لسګونو جورنالستانوپه شتون کې د قرآنکریم سوځولو ناپاکه او دوحشت نه ډک عمل ترسره کړه.

مسلمانو ولسونو ددې ناپاکه عمل پرضد خپله ښه کرکه ښکاره کړه، دعامو مسلمانانو له لورې ښه ستر ستر لاریونونه وشول چې پکې ګڼ شمېر مسلمانان شهیدان او ټپیان شول.

دخپل پیغمبرصلی الله علیه وسلم سره دمینې ښکاره کولو په لارکې ددوئ دا قربانئ او دخپلو احساساتو اظهار دستاینې او قدر وړدي خو چې داسلامي هېوادونو لاسپوځي دولتونه په دې اړه دخوراډېرې لویې بې حسۍ ښکار وو او دجرم نه ډک سکوت یې غوره کړی و نو په امریکا او نورلویدیځ نه مناسب فشارونه وارد شول او نه د مسلمانانو دا اطمینان په برخه شو چې داسې پېښې به بیا نه رامنځته کېږي.

دیادولو وړ ده چې اسلام دښمنو کړیو لویدیځ کې دا وېره خپره کړی چې که داسلام دسونامي مخه ونه نیول شي ټول لویدیځ به له ځان سره لاهوکړي نوځکه نوي نوي قوانین جوړوي اوهرهغه اقدام کوي چې وربانديې داسلام اومسلمانانودپرمختګ مخنیوی کېدای شي.

له دې انکار نه شي کېدای چې لویدیځوالوکې خپره شوې دا وېره تر یوحده پرځای ده خوپدې کې هم شک نشته چې پکې له ډېرې مبالغې نه کاراخستل کېږي ځکه چې وېره خپرونکي بل څوک نه بلکې یهودان دي او یهودان چې د دوهم نړیوال جنګ نه پس یې امریکا او د اروپا په زیاترو هېوادونو کې د مسلمانانو په پرتله شمېره زیاته وه اوس چې د نورو نامسلمانو په څېر په یهودي مېرمنو کې هم د بچو نه راوړلو او یا ایله د یو یا دوه بچو راوړلو طرف ته میلان زیات شوی نو د یهودانو نسلونه ورو ورو کمېږی بل دا چې یهودیت نا دعوتي مذهب دی؛ یهودان د هندوانو په څېر هیچا ته د یهودي کېدلو دعوت نه ورکوي او نه هغه څوک یهودي کېدای شي چې مور یا مور او پلاردواړه یې یهودیان نه وي نو یهودان نه زیاتېږي بلکې کمېږي خو برعکس په امریکا او اروپا کې مېشتو مسلمانو کورنیو کې د کوچنیانو پېدایښت زیات دی اوترڅنګ یې اسلام د دعوت دین دی چې داسلام ددښمنانو د ټولو کوښښونو، دسیسو، مکرونو اوپوچو تبلیغاتوسره هم اسلام یواځنی هغه دین دی چې ښه په تېزۍ سره په اروپا او امریکا کې خپرېږی او په لویه پیمانه پکې د یهودانو په شمول نا مسلمان را داخلېږي.

ددې ترڅنګ چې په لویدیځ کې دمسلمامانو نسل زیاتېږي اوپکې زیات خلک اسلام کې راداخلېږي لویدیځ ته د مسلمانانو راتګ هم زیات دی نو مسلمانان په غرب کې ورځ تر بلې زیاتېږي.

یهودان په لویدیځ کې خپل کمښت او د مسلمانانو تېز ډېر والي او د اسلام تېز خپراوي سخت ورخطا کړیدي نو ځکه د مسلمانانو سره د غربیانو د نفرت پیداکولو او په اروپا او امریکا کې د اسلام د خپریدا د مخنیوي لپاره مسلسل ناپاکه پلانونه جوړوي او په ډېر چل او هنر دلویدیځ متعصب پاپان او سیکولر مشران د خپل هدف د تر سره کولو لپاره د آلې په توګه کاروي.

په نړۍ کې داسلام اومسلمانانو بدنامول دهدف دترلاسه کولو لپاره ددوئ ډېره کامیابه اواسانه وسیله په لاس کې لري ځکه چې پر نړیوالورسنیو چې دیهودوقبضه ده نودنړۍ په گوټ گوټ کې پر مسلمانانوشویو اوروانو ظلمونو اووحشتونو باندې پردې را اچوي خوبرعکس داسلام اومسلمانانو پرضد پکې ډېر زهرجن اومنفي تبلیغات خپرېږي؛ اسلام نړۍ ته دوروسته پاتي؛ دېرمختگ ضد دتشدد نه ډک، ظالم اوجابرداسې دین په صفت معرفي کوي چې یواځې قتل وقتال اودانسانانو وژلوته خپل منونکي هڅوي؛ نه په چارحم لري؛ نه پکې دانسانانو دحقوقولحاظ شته اونه هم بشریت ته احترام لري.

دلویدیځ مکاره میډیا چې پدې پوهېږي چې مسلمانان دخپل پیغمبر، خپل کتاب قرآن عظیم الشان اوخپل دین سره دومره مینه کوي چې ورته دخپلو ځانونوجارول دځانونولپاره سعادت گڼي نوپه منفي اوزهرجنوتبلیغاتو یې بسیا ونکړه بلکې ددې لپاره چې دنړۍ دمسلمانانود زړونو دردولو په موخه یې د اسلام، قرآن اوداسلام ستر پیغمبرته دسپکاوي داسې ناوړه لړۍ پیل کړه چې په ښکاره یې دتم کېدلو هیڅ نښې نه ښکاري.

ددې مذموم عمل ډېر زور هم په هماغه فرانسې کې دی کومې کې چې اسلام په ډېرې تېزۍ خپرېږي.

په فرانسې کې د تېرې کابو یوې نیمې لسیزې راهیسې د ډول ډول پلمو له لارې پر مسلمانانو بندیزونه روان دي؛ د۲۰۱۰م کال د ستمبر په ۱۴ مې نېټې په فرانسې کې مسلمانې مېرمنې دسر اومخ پټولو نه قانوناً منع کړای شوې او د دې قانون نه دسر غړاوي په صورت کې دمالي جریمې او زندان ته د بوتللو قانون هم تصویب شوی و.

له دې وروسته د اسلام مقدساتو ته د سپکاوي یوه نه تم کېدونکې لړۍ پیل شوه چې وروستۍ کړۍ یې اسلام ته دفرانسې دولسمشرسپکاوی او یوه اوونۍ پس دپاریس پر لویو ودانیو رازړول شوي هغه لوی پوسترونه دي چې پرې درسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک شان ته دسپکاوي په موخه کارتونونه ثبت دي.

اوسنی اقدام په حقیقت کې دچارلي هیبډونومي فرانسوي مجلې له لورې داسلام سترپیغمبرته دسپکاوي په موخه دکارتونونو خپرولو د خوراMذموم هغه عمل بیا تکرار او تائید دی چې یې ټوله اسلامي نړۍ سخته دردولې وه.

په اول ځل دسپکاوي نه پس د یادې مجلې نه ټولو مسلمانانو د دې عمل دنه تکرارولو غوښتنه کړې وه او ځو ځلې یې ددفتر مخې ته لار یونونه وشول او د لاریون کونکو له لورې ورباندې دهجوم وروړلو اقدامات هم شوي وو

خو چې دزمانې دا بدنامه مجله دخپل دې خورا ناوړه عمل نه لاس په سر نه شوه نو د ۲۰۱۵م کال دجنورۍ میاشتې په ۷ مې نېټې په پلازمېنې پاریس کې ددې مجلې په مرکزي دفتر۳ فرانسوي مسلمانو ځوانانو وسلوال برید وکړ؛ پدې برید کې دمجلې دمدیر، کارتون جوړونکو او۲ پولیسو په شمول ۱۲ فرانسویان ووژل شول دا برید په تېرو ۴ لسیزو کې دفرانسې په تاریخ کې بې ساري او تر ټولو خونړی برید گڼل شوی و.

حسن تصادف دا وچې دحملې پرمهال د مجلې په دفتر کې غونډه روانه وه او وژل شوي تنان ددې لپاره سره راټول شوي ووچې په مستقبل قریب کې یو ځل بیا دکارتونونو خپرولو لپاره پلان جوړکړي چې دوه ورونه شریف اوسعید کواچي دفترته په ورننوتلو بریالي شول؛ د ننوتلو سره سم یې دالله اکبرناره پورته کړه؛ ترټولوړومبی یې دلته په امنیت گومارل شوي دوه پولیس ووژل؛ بیا یې په ناستوکسانوکې دهریونوم واخستلو اوپه ډېرې اسانۍ دمجلې دمدیرستیفن کاربونیرو؛ د کارتونونو جوړونکو هریو کابو، ټکنوس، وولنسکي اودبرنارډ مارس نومي جورنالست پروژلو وتوانېدل؛ د ټولو د وژلو نه پس یې بیا دالله اکبر ناره پورته کړه او ویې ویل موږ دخپل پیغمبرپه شان کې دسپکاوي انتقام واخستلو؛ بیاله دفتره راووتل؛ دوئ او بیرون په پیره ولاړدریم ملگری یې په موټر کې کېناستل اوله سیمي نه په روغ رمټ وتلو کامیاب شول؛ دې ټولوعملیاتوایله پنځه دقیقې وخت واخست.

دفرانسې دولت بيا اعلان وکړ چې دامنيتي ځواکونو دپرلپسې لټون په نتيجه کې دحملې نه ۲ ورځې پس سعيد اوشريف ومونډل شول اودواړه دامنيتي ځواکونوسره په وسلوالې نښتې کې ووژل شول.

سعيد اوشريف چې دواړه سره ورونه وودوئ دواړه اودريم ملګرى يې په خټه عربان خوپه فرانسې کې زېږېدلي اوراستر شوي وو اوهمدلته يې زدکړې ترسره کړي؛

همدلته راسترشوي؛ دنعمتونونه ډک دهوسا ژوند لرونکي ځوانان ولې خپل ترټولومحبوب ځان اوژوندقربانوي اودیادې مجلې په دفتربريدکوي؟

آيا فرانسې او نور لويديځ دا فکر کړی چې داسې پېښې ولې رامنځته کېږي؟ او مخنيوى يې څنګه کېداى شي؟

خبره ډېره روښانه ده؛ لويديځ بايد پدې پوه شي چې د راى د اظهار او د يو ملت مذهبي مقدساتو ته سپکاوى او له دې لارې ټول ملت ته د درد رسولو په منځ کې ډېر ستر سور خط شتون لري چې ټول لويديځ او په ځانګړي ډول فرانسې د دې سور خط نه په ډېرې سپين سترګۍ په مسلسل ډول تجاوز کړى.

د مجلې په دفتر دبريد نه پس ددې اړتيا وه چې په ټوله کې ټول لويديځ اوپه ځانګړى ډول فرانسې په ډېرې سړې سينې فکرکړى اوداسې پېښو درامنځته کېدو داصل لاملونو دله منځه وړلو لپاره يې جدي اقدامات کړي واى.

؛ چارلي هيبډوکومه علمي؛ ادبي؛ سياسي يا مذهبي مجله نده څکه خوکم لوستونکي لري؛ په اروپاکې يې خاصه طبقه لولي اوتيراج يې ايله ٦٠ زروته رسېږي؛ دلنډغرو يوه ډله يې چلوي؛ خلکو پسې دټوکو، خندا اودخلکوله سپکاوي پرته پکې دکاربل هيڅ شى نه خپرېږي؛ په ۱۹۷۰م کې چې تاسيس شويده ترننه يې دګڼونامتو اوتاريخي اشخاصو سپکاوى کړيدى چې په همدې کارونو څوځلې بنده شوې اوپه خپرېدا يې بنديز هم لګېدلى دى.

دالله تعالى وروستى اوستر پېغمبرچې له پېغمرۍ يې په نړۍ کې هيڅوک انکارنشي کولى مسلمانان يې ديوويښته سره درست جهان هم نه برابروي اودهغه صلى الله عليه وسلم دناموس نه دځان، مال، اهل وعيال قربانول دځان لپاره لوى سعادت اوافتخار ګڼي نو فرانسه او نور لويديځ چې د ستر پېغمبر په اړه دمسلمانانودميني، عقيدت اواحساساتونه ښه خبر دى اوپدې ښه پوه دى چې دخپل پېغمبرسره مينه مسلمانان دځانونولپاره ترټولوسترمتاع ګڼي اوپه شان کې يې کوچنۍ بې ادبي هم نشي زغملاى.

دبشريت د سترسالاراو مسلمانانولپاره دهمدې لويې هستۍ دسپکاوي په جرم دفرانسې دولت بايد ددې مجلې په نشرکلي بنديز لګولاى واى. او د دې بريدونونه پس ددې اړتيا وه چې ټول لويديځ په خپلو مادي وسايلودغروراوپه مادي لحاظ دځان نه کمزورو ملتونوته دحقارت په نظردکتلوکړنلاره پريښې واى؛ انساني مساوات، دبشرـ حقوقواوانساني کرامت ته دژمنتيا دعوې يې په عمل کې رښتيا کړى واى؛ دټولو مذاهبو د مقتداګانو او دسترو اشخاصو سپکاوى کول يې قانوني جرم ګڼلى واى.

خومتأسفانه چې لويديځ نه يواځې داچې دداسې پېښودمخنيوي لپاره يې کوم معقول اقدام ونکړبلکې په بل اوريې تېل وپاشل؛ دمسلمانانوپرضد دخپل يووالي دښکاره کولو، دمجلې دشيطاني کړنو دتائيد اوپرې دشوې حملې دغندنې په موخه ټوله لويديځه نړۍ په خوځښت راغله؛ دامريکا دولسمشرـ بارک اوبامانه تر المانۍ مشرې انګېلامرکل اودبرتانې دلومړي وزير ډيوېډ کامرون نه تر د اروپايي اتحادې مشر (کلوديونکر) پورې ټولو داسې اقدامات اوخبرې وکړې چې لا زيات نفرتونه خپروي او د مسلمانانو د لا زيات قهر اوخفګان سبب ګرځي.

ټولو غربي مشرانودمسلمانانو پرضد دخپل يووالي اظهار وکړ؛ ټولو په يوه خوله داحملې غندلې؛ دامريکا، برتانې، المان کاناډا په شمول ټولو لويديځو هېوادونو همدايوه خبره تکراروله چې دابريدونه يواځې په فرانسې ندي شوي؛ داپرموږټولو شويدي موږټول دفرانسې سره ولاړيواودتروريزم پرضدبه جګړه جاري ساتو.

دوئ په ټول لويديځ کې عموماً اوپه فرانسې کې خصوصاًداسلام پرضد ټولې شيطاني کړنې تائيد کړې اوټولو

پـه یواوازدادبیـان پـرآزادۍ حملـه وبللـه؛ یـانې غـرب لاهـم داسلام دستر پیغمبر په شان کې سپکاوی دبیان آزادي ګڼي، جایزې بولي اودمرتکبینونه یې حمایت کوي حال دا چې پـه همدې لویدیځ کې یو عادي فرد ته سپکاوی او تکلیف رسول هم جرم ګڼل کېږي.

داڅومره دتعجب وړ خبره ده چې پـه همـدې لویـدیځ کې که چا بل چاته نېغ نېغ وکتل او پرې شـکایت وشـو چـې دده له کتلو نه ماته رواني تکلیف ورسېدلو نو دغـه کتـونکی مجرم ګڼل کېږي او قانو ورته سزا ورکوي خو کـه بـل لورتـه ملیاردونو انسانانو ته تکلیف رسېږي نو دا عمل جـرم نـدی؛ بس همـدا د لویـدیځ بشر ـ دوسـتي ده او همـدا یـې انسـاني مساوات دی؟!

یواځې مسلمانان، قرآن، ستر پیغمبر اوداسـلام شـعایر دي چې پرضد یې په لویدیځ کې هر څه جواز لري؛ دلتـه بیـا نه بشر دوستي وي؛ نه انسـاني مسـاوات وي نـه مـذاهبو تـه داحترام خبرې چې دا دلویدیځ ډېر ستر منافقت دی.

تاسې وګورئ! دترکې ولسمــشر چـې دفرانسـې د ولسمشر ـ ددې ناوړه څرګندونو په مقابل کې عکس العمل ښـکاره کـړ؛ ویې ویل: د فرانسې ولسمشر لیونی شویدی، ښـه دا ده چـې چرته درواني مریضانو روغتون کې دا خل کړای شي.

ددې څرګنـدونو پـه مقابـل کـې فرانسـې د ترکـې د پلازمېنې انقرې نه خپـل سـفیر احتجاجـاً راوغوښـت چـې د ترکې ولسمشر زموږ د ولسمشر توهین کړی.

اوس داڅومره ستره بې انصافي او منافقـت دی چـې د دوی د دولتي یو واکمن په هکله څوک رېښتونې څرګنـدونې وکړي نو دوئ ته هغه د زغـم وړ نـدي او نـه یـې هـم دبیـان ازادي ګڼـي خـو کـه بـل لورتـه د کائنـاتو دسردار او د ټـول مسلمان ملت لپاره پـه ټـول عـالم کـې دعظـیم ذات تـوهین کېږي او پرې ټـول مسـلمان ملـت تـه سـخت درد اوتکلیـف رسېږي نو بیا دا د بیان ازادي ګڼل کېږي؟!

په نړۍ کـې دځـان محـروم اومظلـوم ثـابتولو، ځانتـه دنورو ملتونو دحمایـت او خواخـوږۍ راجلبولـو، دفلسـطین دخاورې غصبولو اوپکې دغاصـب یهـودي دولـت درامنځتـه کولوپـه موخـه چـې سراسر پـه دروغـو ولاړه د هولوکاسـټ (دجرمني نازیانو په لاس د ٦ میلیونونه دزیـاتو یهودانـو وژل کېدو) خبره چې یهودو مشهوره کړې نو ورنه انکـار یـا پـدې اړه سوال راپوته کـول خـو ډېـره لـري خـبره ده، د ٦ میلیونـو دشمېر په هکله دمبالغې شـک ښـکاره کـول هـم جـرم ګڼـل کېږي، نو هولو کاسټ په ټول لویـدیځ کـې دشـجرة ممنوعـه حیثیت لري، په هکله یې خولـه پرانسـتل دومـره لـوی جـرم ګڼـل کېـږي چـې پـرې د ٦میاشـتو نـه تـر ٧ کلـو نـو پـوري دقیدسزا ورکول کېدای شي، دهولو کاسټ نه انکا ریـایې پـه اړه سـوال راپورتـه کـول ځکـه لـوی جـرم ګڼـل کېـږي چـې یهودانوتـه پـرې رواني تکلیـف رسـېږي او وربانـدي خفـه کېږي.

خو داسلام دستر پیغمبر او قرآن په سپکاوي (چې هیڅ ګټه یې هم دوئ ته نه رسېږي) که د ټولې نـړۍ دمسـلمانانو زړونه چوي نو دا بیا هیڅ جرم نه ګڼل کېـږي؛ دا اوس کـوم انصاف شو او دا څرنګه بشر دوستي شوه؟!

کیټ مېډلټن چې یو عادي برتانوۍ پېغله وه پرشهزاده ویلیم دواده کېدو نه پس هغه شهزادګۍ او دشاهي کـورنۍ سره دتړاو له امله دبرتـانې یـوه محترمـه مېـرمن وګرځیـده، یوځل چې دفرانسې په یو هوټل کې هغه په نیمه بربنډ حالت کې لېدل شوي او یو فرانسوي عکاس یې عکسونه اخسـتي او بیاپـه یـوې فرانسـوي اوونېـزه کـې خپـاره شـوي وو نـو دشـهزادګۍ پـه دې لـږې بـې تـوقیرۍ دبرتـاني مطبوعـاتو دنیاپه سر راواخسته؛ یـواځې عکـاس او داوونیـزې مسؤلین پدې اړه پړه ونه بلل شول بلکې برتانوي رسنیوددې عمل پـړه په فرانسوي ولس او دولت دواړو وراچوله

(دمیل آن لایـن) نـومې مشـهوربرتانوي اخبارپـه یـوې لیکنې کې خوتردې پوري راغلي و چې: دقانون پـه زور ددې عکسـونو دخپـراوي دمخنیـوي خـبرې بایـد مـوږ پریـږدو دفرانسي پرضد باید جنګ اعلان کړو.

دبرتانې دولت دفرانسې نه وغوښتل چې ددې عکسـونو په خپراوي دې بندیز ولګـول شي ځکـه چـې پـدې سره کیـټ مېډلټن ته تکلیف رسېږي اوشاید رواني حالت یې خراب شي.

دبرتاني ددولت دغوښتنې سره سم دفرانسې محاکمو نه يواځې ددې عکسونو په خپراوي بنديز ولګاوه بلکې د هغه اوونېزي خرڅلاويې هم منع کړ په کومه کې چې داعکسونه خپاره شوي وو.

دبرتاني دشاهي کورنۍ دمېرمنو او سړو د بد اخلاقيوو داستانونه مشهوردي چې ددې داستانونو او د دوئ بربنډ کلتور ته په پام سره ديو عکس خپرېدل چندان دتشويش وړ خبره نده خو چې دنوموړې شهزادګۍ طبعيت پرې خرابېدلو نو دبيان دازادۍ فرانسوي نقيبانو دا مسئله ښه جدي ونېوله او جدې اقدام يې وکړ ځکه چې دبرتانې په څېريو مهم او ځواکمن هېواد غوښتنه جدي وه خو د اسلامي نړۍ په ۵۷ هېوادونو کې چې يواځې د مسلمانو ولسونو لاريونونه وي دمرده باداوزنده باد ناري وي او ددولتونو له لورې يې نه د لويديځو هېوادونو سره ديپلوماتېکې اړيکې پرې کېږي، نه سوداګريزتړونونه لغوه کېږي، نه تجارتي روابط متوقف کېږي اونه ترې دمسلمانانو دمقدساتو دساتنې جدي غوښتنه کېږي نو لويديځ دفشار احساس نه کوي اوپکې دستر کتاب قرآن عظيم الشان او د کونينو دسردار، په مخلوق کې ترټولو دستر ذات، دعالمينو درحمت او دمسلمانانو دمحبت او عقيدت دهغه محور اومرکز سپکاوی کېږي چې مسلمانان يې محبت دايمان جزبولي او ترې دټول مخلوق محبتونه جاروي چې غربي نړۍ هم پدې ښه پوه ده.

نو ديوې برتانوي شهزادګۍ دلړ طبيعت دخرابېدلو غم شته خو دلته دنړۍ د کابو دوه مليارده مسلمانانو دسخت غم عصې، خفګان پروانشته، يقينا چه دمسلمانانو دمحبت او عقيدت پدې مرکز حمله مسلمانانو ته په ډېرسپک نظرکتل دي او څومره چې مسلمانان کمزوري دي د دهغې نه زيات کمزوري ګڼل شويدي.

که دلويديځ دادومره ستره بشردښمني اوبيا هم دبشردوستۍ دمنافقت نه ډکې نارې ډېرې حيرانونکې دي. نو په ټوليزه توګه داسلامي نړۍ دومره دضعف حالت چې دځپل عظيم اسماني کتاب اوسترپيغمبر دناموس ساتنه نه شې کولای ډېردردونکی دی. يو د مسلمانانو هغه حالت و چې دمشرانو دنوم په اوريدلو به يې دکفرمانۍ لړيزدلې خو نن زموږ داحالت دی چې پر اسلامی نړې مسلطو حاکمانو ته څوک دسېلاب زګ هم نه بولي اومتأسفانه چې همدا حاکمان دکفاروپه مقابل کې دمسلمانانودحقيقي ځواک درامخې ته کېدو په وړاندې ستر دېوالونه ګرځېدلي دي.

قرآنکريم، داسلام ستر پيغمبر او داسلام شعايرو ته دسپکاوي د پېښو پر مهال پر اسلامي نړۍ دمسلطو حاکمانو چوپتيا ډېره دردونکې وي؛ بس يو حاکم نيم کمزوری انفرادي عکس العمل ښکاره کړي او همدا دځپل مسئوليت ادا کېدل وګڼي.

که د اسلامي نړۍ حاکمانو په اتفاق او پوره قوت دسپکاوي دلړۍ دمخنيوي خبره دملګرو ملتونو اداري کې راپورته کړی او په پوره اهتمام يې تعقيب کړی وای ډېر دمخه به ددې لپاره قانون سازي شوی او دتل لپاره به دداسې پېښو مخه نيول شوی وای.

اوس ددې وخت دی چې ددې هدف لپاره اسلامي کانفرانس عاجله غونډه جوړه کړي او پکې دټولې اسلامي نړۍ لومړي وزيران يا ولسمشران ګډون وکړي او په ډېر قوت سره له ټولې نړۍ نه دهر مذهب مقدساتو ته دسپکاوي دمخنيوي لپاره دقانون سازۍ غوښتنه او دفرانسې نه په ځانګړي ډول په چارلي ايبډو دبنديز غوښتنه وکړي؛ فرانسه يابل هېواد که ددې غوښتنې سره مخالفت ښکاره کوي نو ټول دې په اتفاق ورسره د ديپلوماتيکو او سودا ګريزو اړيکو دپرې کولو پرېکړه وکړي ترڅو په عمل کې لويديځ ته دا ښکاره شي چې درسول الله صلی الله عليه وسلم ذات اقدس مسلمانانوته تر ټولو ستر متاع اودومره محبوب دی چې له هرڅه پرې تېر دي او په مقابل کې يې دهيڅ شي پروا نه لري؛ بيا به ټوله نړۍ وه ويني چې فرانسه څرنګه دمسلمانانو غوښتنې مثبت ځواب وايي.

# افغان جهاد د شیخ ریسوني له نظره،

## او یو څو حقایق...!!

لیکنه: موسی فرهاد



طلوع تلویزون، هغه ورځې د احمد الریسوني په نوم د یو عرب شیخ مرکه نشر کړه، چې د افغانستان د څلویښت کلنې جګړې او د اوسنیو حالاتو په اړه نوموړي خپل نقطه نظر بیان کړ، هغه وویل: د امریکایانو تر وتلو وروسته په افغانستان کې جګړه کومه شرعي صبغه نلري.

**الریسوني څوک دی؟**

أحمد بن عبد السلام بن محمد الریسوني د المغرب افریقایي عربي هیواد په العرایش ایالت کې په ۱۹۵۳م کې زیږېدلی، زدکړې یې په عربي ادبیاتو، حقوقو، فلسفه او شرعیاتو کې ترسره کړې، د لومړي ځل لپاره په خپل هیواد المغرب کې د قاضي القضات محرر مقرر شوی، بیا یې د څه مودې لپاره وکالت کړی او بیا د التجدید په نوم مجلې مدیراو په عین حال کې پر ځینو تلویزوني شبکاتو د علمي خپرونو چلوونکی پاتی شوی، وروسته یې د توحید او اصلاح په نوم ټولنه جوړه کړې، لنډه دا چې تر بیلابیلو حکومتي او غیر حکومتي دندو وروسته اوس د (الاتحاد العالمي لعلماء المسلمین) ټولنې (چې تأسیس یې په ۲۰۰۴م په لندن او مرکز یې اوس په قطر کې دی)؛ مشر ټاکل شوی دی.

نوموړی زیاتره وخت په نړیوالو قضایاوو کې په میډیا کې پوښتل کیږي، په نړۍ کې د اسلامي تحریکونو او اسلامي قضایاوو په اړه خپل ځانګړی لید لوری لري. او په دې برخه کې کافي علمي تألیفات هم لري.

**له طلوع سره مرکه یې:**

د خبریال د پوښتنې په ځواب کې چې د افغانستان د اوسنۍ جګړې او وضعیت په اړه مو نظر څه دی، اوس خو خارجیان نشته، دواړه طرفونه مسلمانان جګړه کوي؟

احمدالریسوني وویل: موږ په شکل عموم د افغانستان دا څلویښت کلن جریان څارو، د افغانستان د خلکو په غم او خوشحالي کې ځان شریک بولو، ما د طالبانو مشرانو ته هم وویل چې اوس خو د تفاهم وخت دی، جنګ شرعي دلیل نلري، باید چې افغانان ټول په خپلو کې د نوي حکومت پرتشکیل یو تفاهم ته ورسیږي، د مسلمانانو ترمنځ جګړه، حتی که یو فرد وژل کیږي هم جواز نلري. اوس خو خارجیان نشته.

نوموړي د مرکې په یوه بله برخه کې یو آیة تلاوت کړ، چې که د مسلمانانو دوې ډلې سره په جنګ شي، تاسو یې په منځ کې صلح کوئ، خو که بیا یوه بغاوت وکړي، د هغوی په وړاندې ودریږئ. د ده په وینا چې که څه هم د

افغانستان اوسنی حالت تر همدې آیة لاندي نه راځي. بیا هم زموږ موقف دا دی چې باید نور دا جګړه که په هرنامه وي، سمدستي ودرول شي، د مسلمانانو ترمنځ جګړه هیڅ شرعي صبغه نلري. باید چې ټول تفاهم ته مخه کړي.

د نوموړي خبري ټولي د خبریال د پوښتنو په تناظر کې تقریباً ترپایه همداسي رواني وي چې ویل یې د مسلمانانو ترمنځ جګړه کوم شرعي جواز نشي لرلای. باید افغانان پرخپل منځي تفاهم تمرکز وکړي.

داچې د نوموړي خبري تر علمي فتوا لېږ ور ها خوا د سیاسي موقف بیانولو رنګ لري؛ طبعي ده چې هرڅوک د جګړې پرځای افغانانو ته د سیاسي تفاهم سپارښتني کوي، اودا د ځان سیاسي او اخلاقي مسئولیت ګڼي، خو دا سپارښتني پرته له دې کوي چې د افغانستان د څلویښت کلن جهادي مقاومت عمق او تل ته ننوزي. د فتوا ورکولو هڅه به یې هله قابل اعتبار وي چې د موضوع په اړه له اصلي حقایقو پوره واقفیت ولري.

### د جګړې آساسي علت:

د افغانستان د معاصر تاریخ په اوږدو کې که موږ او تاسو په لنډ ډول فکر وکړو، دلته جګړه راپیل شوې لومړی د خارجي تجاوز او یا د خارجي لاسوهنو په نتیجه کې ده، د انګریزانو دوه ځله تجاوز یې یوه بیلګه، بیا د روسانو غیرمستقیم او مستقیم تیری یې بله نمونه او وروسته د امریکا په مشرۍ د ناټو یرغل یې وروستی مثال دی. داچې د یرغلګرو له خروج نه وروسته ولي بیا هم ځیني وختونه جګړو د څه وخت لپاره دوام کړی؛؟ لامل یې بیا هم متاسفانه چې همغه لاسپوڅي واقع شوي چا چې د هرتجاوزګر لپاره دکورني غدار مقدمةالجیش دنده اجراء کړې.

کله چې دا حقیقت له حال او ماضي دواړو نه موږ ته څرګند شو چې جګړه د بهرني اشغالګر له وجې پرافغان ولس تحمیل شوې؛ نو طبعي ده چې د افغانستان د مسلمان ولس مقاومت د متجاوزینو او د هغوی د همکارانو په وړاندي تش په نوم جګړه نه، بلکي له ځان، مال، ناموس، خاورې او عزت څخه برحقه دفاع بلله کیږي، او دا د انسان یو فطري حق دی، چې دفاعي جهاد ورته ویل کیږي. دا هغه جهاد دی چې د الله تعالی له لوري مسلمان وربانـدي مکلف ګرځول شوی، که یې ترسره نکړي؛ ګناه کار بلل کیږي.

په بل عبارت، د متجاوز په وړاندي جګړه خو د عقل او نقل دواړو له مخي، د مسلمان فریضه ګڼل شوې، خو د متجاوزینو له داخلي همکارانو سره که څه هم هغوی مسلمان وي؛ بیا د مناصرة الکفار، یعني له متجاوزو کفارو سره د همکارۍ په آساس جګړه اسلامي شریعت فرض ګڼلې ده.

یعني یوازي مسلماني هغوی د جهاد له حکمه نشي ژغورلای، په همدې خاطر ښاغلي احمد الریسوني هم په خپلو خبرو کې بیا بیا وایی چې د امریکایانو له وتلو وروسته د مسلمانانو ترمنځ جګړه جواز نلري. مطلب دا چې د امریکایانو په وجود کې که څه هم هغوی مسلمانان ول؛ خو جهاد ورسره جایز و.

دا چې د امریکایانو له وتلو وروسته، رښتیا جګړه بیرته مسلمان وژني ته ورګرځي؛ په دې اړه به خبره له بلې زاویې را وسپړو.

### څو بین الأفغاني جګړې:

#### ۱ - لومړی:

د شوروي یرغلګرو تر خروج وروسته د ډاکټر نجیب په مشرۍ له کمونستي رژیم سره مجاهدینو نږدې څلور کاله جګړه وغځوله. دا جګړه که څه هم د یاد رژیم خلکو او د هغه پلویانو ناروا افغان وژنه بلله، خو په مقابل کې یې چې مسلمان ملت ولاړ وو او د نړۍ د اکثریت مسلمان امت تائید یې هم له ځان سره درلودی؛ په همغه شکل جهاد باله لکه څنګه چې یې د روسانو پرخلاف باله.

علت یې دا و چې دا نظام د کفري اشغال په توسط رامنځ ته شوی و، د افغانانو د سیاسي، کلتوري او دیني ارزښتونو د حفاظت پرځای یې د اشغالګر کرملین د موخو او اهدافو ساتنه آساسي مقصد و. ولي چې د همدې کمونیستي رژیم ایجاد، واک ته رسونه او بقا د شوروي یرغلګرو د زور او زر مرهون منت وه.

له همدې ځایه وه چې افغانانو یې په وړاندي مقاومت ته داسي ادامه ورکړه لکه څنګه چې یې د روس په وړاندي مقاومت کاوه.

## ۲ - دویمه جګړه:

د مجاهدینو له بریا وروسته پرکابل د واک پرسر د مجاهدینو په نامه د ځینو ډلو ترمنځ جګړه وه، چې متاسفانه مخکني بریالي جهاد، مجاهد، مسلمانانو خصوصاً افغانانو ته یې دروند معنوي او فزیکي زیان ورساوه. هغه جګړه رښتیا د هرچا له نظره مردوده او ناروا افغان وژنه وه.

هغه داسي یوه جګړه وه چې له جګړه مارو پرته هرچا ورته افغان وژنه او مسلمان وژنه ویله، د ارزښتونو پرځای د قدرت او مادیاتو جګړه وه. په هیواد کې یې د یو بدترین انارشیزم، فساد او ګډوډۍ بنیاد کښېښود.

له همدې ځایه وه چې د هغه ناوړه حالت د بدلولو په موخه د طالبانو اسلامي تحریک را منځ ته شو او حالات یې داسي کنټرول کړل، چې نه یوازي د افغان مسلمان سر، مال، عزت، ناموس او استقلال له هلاکته وژغورل شو؛ بلکي یو وتلی مثالي امن، ثبات او سپیڅلی اسلامي حاکمیت یې رامنځ ته کړ.

## ۳ - دریمه جګړه:

د کابل له موجوده رژیم سره د طالبانو اوسنی مقاومت، د پورتنیو دوو جګړو په رڼا کې ښه ارزول کیدای شي، چې په کومه کټګورۍ کې راځي؟! ښکاره خبره خو دا ده چې موجوده رژیم هو بهو د کمونیستي رژیم ځایناستی دی. هغه چې مجاهدینو ورسره جګړه همغسي وغځوله لکه څنګه چې یې له روسانو سره کوله. دا ځکه چې مجاهدینو د کمونیستي رژیم بقایا بیا هم د اشغال بقایا ګڼله. هغه رژیم چې په فکري لحاظ په علني توګه الحاد او کمیونیزم ته معتقد و، موجوده رژیم که څه هم په همغه اندازه علني نه وایي، خو عملاً سیکولریزم او لادینیت ته پوره باوري دی.

## د اشغالګرو له وتلو سره، اشغال ختم شوی؟

تراوسه خو د ناټو قواوې لا په فزیکي لحاظ وتلې نه دي، حتی روزمره یې بمبارونه اوس هم جریان لري، او نه یې له کابل رژیم څخه مالي او تسلیحاتي سپوټ قطع کړی. تراوسه خو دا سوال مطرح هم نه دی چې د کابل رژیم سره دې د جګړې انګیزه او صبغه و ارزوله شي.

خو که بیا هم بهرنیان په کلي ډول له افغانستان څخه خپلي قواوې وباسي؛ نو څو پوښتني مطرح کیدای شي:

۱ - آیا امریکا او ناټو به بیا هم د افغان ځواکونو مالي، تسلیحاتي او روزنیز ملاتړ ته دوام ورکوي کنه؟ که ورکوي یې، آیا د همغو مخکنیو تړونونو، لکه امنیتي تړون او نورو له مخي ورکوي او که به له سره نوي تعهدات کوي؟

۲ - آیا د کابل رژیم به له خپلو بهرنیو دوستانو سره د دوستۍ هغه تړونونه چې له امله یې د دوی د مرګ مباح ګرځول شوی و؛ لغوه کوي کنه، برأت به ورڅخه اعلانوي کنه؟

۳- آیا د اشغالګرو تجاوز به ناروا او پرخپل هیواد تیری تلقي کیږي، کنه؟

٤- آیا دې شل کلن جهاد ته به بیا هم دوی د اشغالګرو غوندي د ترهګرۍ او تندلارۍ اصطلاحات کاروي؟

٥- آیا موجوده سیستم چې جهاد پکې ممنوع او الحاد او سیکولرزم پکي آزاد قانوني عمل وي؛ آیا دوی به همداسي ورته معتقد وي؟

که چیري د دې ټولو ځواب منفي وي، یعني نه بهرنیان د کابل له رژیم سره کوم پریکون ته تیار وي او نه د کابل

رژیم له بهرني بادارانو څخه د برائت اظهار ته تیار وي، دواړه بیا هم ټینګار لري چې موږ به پخپلو کې یو د بل ټولي برنامې په وفادارۍ سره مخ ته وړو؛ نو بیا خو ښکاره خبره ده چې اشغالګر که څه هم په فزیکي لحاظ وتلي؛ خو په معنوي او ستراتیژیک لحاظ بیا هم اشغال پاتې دی، او د کابل موجوده رژیم د اشغلګرو جانشین دی.

بیا خو ظاهره خبره ده چې د کابل اداره په هیڅ صورت د اسلامي حکومت دعوه نشي کولای، او نه یې په وړاندې روان مقاومت څوک ناجایز ثابتولای شي. لکه څنګه چې د روسانو نه وروسته پاتې نظام سره جهاد کیده همداسې به له دې نظام سره هم کیږي.

## حکومت ولې د اشغالګرو ځایناستی ګڼل کیږي؟

موجوده رژیم، د متجاوزو اشغالګرو په وسیله په داسې حال کې رامنځ ته شو چې د یو اسلامي حکومت په وړاندې یې د مقدمة الجیش یا د اشغالګرو لپاره د ځمکني ځواک دنده هم سر ته رسوله، او عملاً د مسلمانانو پرضد له اشغالګرو سره اوږه په اوږه ملګري وو؛ ترڅو یې برحاله اسلامي نظام ړنګ او پرځای یې د اشغالګرو د خوښې نظام رامنځته کړ.

اشغالګرو بیا پوره شل کاله د دغه نظام هرډول ظالمانه عملي ملاتړ ته دوام ورکړ، اوس چې له طالبانو سره د توافق په نتیجه کې بهرنیان په فزیکي شکل وځي، بیا هم برملا اعلانونه کوي چې د کابل رژیم مالي سپوټ به جاري ساتي. ځکه چې د کابل رژیم هغوی خپل ځای ناستی او د خپلو موخو ساتونکی تربیه شوی ځواک ګڼي.

دا خبره د رژیم چارواکي هم په بیا بیا کوي، د شل کلنو ارزښتونو د خوندیتابه او د اسلامي حاکمیت د مخنیوي ادعاوې هره شیبه تکراروي. همیشه وایي چې افغان ملي ځواکونه د واشنګټن او نیویارک ساتنه خپله دنده ګڼي. د لندن او فاریس د امنیت لپاره قرباني ورکوي.

وړمه ورځ اشرف غني په ولسي جرګه کې وکیلانو ته وویل: هر یو پرخپل خره مه سپریږئ، لاسونه سره ورکړئ، د طالب په وړاندې ودریږئ؛ د هغه راتګ ته زمینه مه برابروئ. ښکاره خبره ده چې د طالب د راتګ مخنیوي نه د نوموړي هدف د اسلامي نظام مخنیوی دی، ځکه په فزیکي لحاظ که طالب ورتسلیمیږي له هغه سره خو دوی مشکل نلري، ستونزه خو یې فقط له هغه اسلامي شریعت سره ده چې طالب یې غوښتنه لري او یو وخت دلته د طالب په لاس نافذ العمل و او بیا اشغالګرو له منځه یووړ. د همغه اسلامي شریعت د مخنیوي چاره اوس د کابل رژیم خپله دنده ګڼي.

په موجوده رژیم کې الحاد، سیکولرزم، لادینیت او بې بندباره غربي آزادي ته اجازه شته، خو د عملي جهاد نظریه، آساسي اسلام پالنه او د اسلامي شریعت نفاذ مطلق ممنوع، حتی د ترهګرۍ په زمره کې ګڼل کیږي، که څوک ولیدل شي، وژل کیږي به او یا به زندان ته ځي.

د کابل رژیم د طالب راتګ یوازې په دې شرط مني، چې ورته تسلیم شي، له وسلې سره ځان ورته وسپاري. له هغې داعیې سره چې اشغال به په کلي ډول ختمیږي او پرځای به یې اسلامي نظام نافذیږي؛ هیڅکله یې منلو ته تیار نه دي. په سلګونو نور داسې مثالونه چې د کابل رژیم نا اسلامیتوب تثبیتوي؛ شته.

اوس که ښاغلی دوکتور احمد الریسوني د افغانستان قضیه او د افغانستان موجوده رژیم په عمیق ډول وڅیړي، او هغه ته دا څرګنده شي چې د کابل رژیم د کفري اشغالګرو د برنامو ساتونکی یو معلوم الحاله سیټپ دی چې پر دین نه ولاړه آیډیالوژي (سیکولرزم) باور لري، د یو مطلق سیکولر جمهوریت په لټه کې د ٪۹۹ فیصده مسلمان ملت حق چې د یو سوچه اسلامي حاکمیت تشکیل دی؛ په څرګنده ترپښو لاندي کوي، په مقابل کې یې تر اشغالګرو څو چنده زیات مزاحمت کوي؛ نو ظاهره خبره ده چې بیا به ښاغلي ریسوني هیڅکله د شریعت له رویه، روانې مبارزې ته ناجایزه جګړه ونه وایي.پای...!!

# دفاع از دستاوردها

## و یا کمپاین برای دوام اشغال؟



حبیبی سمنگانی

اگر رسانه‌های دموکرات افغانی به‌ویژه نبشته‌های تحلیلی آن مطالعه شود، تقریبا همه شان سیاست ترامپ در مورد خروج از افغانستان را به مثابه خروج اتحاد جماهیر شوروی به‌رهبری گورباچوف از افغانستان گرفته‌اند و هدف اصلی شان اینست که نباید امریکایی‌ها به حضور نظامی شان درین کشور اسلامی و آسیایی پایان بخشند.

ترس بسیاری ازین تحلیل‌گران از فروپاشی احتمالی ایالات متحده آمریکا همچو فدراسیون شوروی نیست، بلکه نگرانی بزرگ ایشان به هدر رفتن دستاوردهای نزده ساله ایست که به زیر چتر اشغال و به نام ارزش‌های دموکراسی به‌میان آمده‌است. گویا این جنابان دوراندیش در هم‌وغم آینده امریکا و افغانستان هر دو هستند.

اما آنچه نادیده گرفته می‌شود اینست که اگر اشغال افغانستان دوام کند، چه عواقب و پیامدهای بدتری را به بار خواهد آورد. درست مثلی‌که در زمان تهاجم بر افغانستان این موضوع نادیده گرفته شده‌بود.

شاید حامیان دوام اشغال به این باورند که اگر برای حفاظت دستاوردهای مزعوم هر بهایی پرداخته شود، باکی ندارد. بلی، برای این‌ها افغانستانِ آزاد و همچنان اسلامی مطلوب نیست، بلکه مهم همان دستاوردهای نزده ساله‌ایست که افغانستان را به فاسدترین کشور جهان تبدیل کرده‌است.

تحلیل‌ها و قضاوت‌های یکطرفه مشکل امروزی و دیروزی نیست، بلکه مسئله کهنه و اساسی رسانه‌های لیبرال افغانی است، که به گونه شعوری و ارادی انجام می‌یابد. از نگاه این‌ها مشکل در استعمار نیست، بلکه در مقاومت و مبارزه در برابر استعمار است.

مثلا اگر امریکا به زور طیارات بی۵۲ و میزایل‌های کروز بر افغانستان یورش آورده، خوب است. اگر ناتو به پیروی از امریکا در هر منطقه افغانستان پایگاه نظامی ساخته، این هم خوب است. اگر دموکراسی ساختگی به‌جای نظام اسلامی از بیرون به افغانستان وارد شده، این هم خوب است. پس بد چیست؟ بد اینست که افغان‌ها به‌رهبری طالبان چرا در برابر ایشان و همکاران شان می‌جنگند.

مسلّم است که هر کنش واکنشی دارد. اما از نظر این‌ها چنین نیست. این‌ها می‌گویند هرچه شده خوب شده، باید کسی صدای مخالف بلند نکند و حرف از جهاد، مبارزه، مقاومت و حریت نزند، افغانستان را مستعمره و اداره کابل را دست‌نشانده نخواند.

اکنون این بیماری متعدی شده‌است. هرگاه کمونیست‌های پیشین این چشم سفیدی دموکراتان را می‌بینند، آن‌ها نیز باورمند شده‌اند که اگر قشون سرخ شوروی بر افغانستان هجوم آورده بود هیچ مشکلی نبود، مشکل از اینجا پیدا شد که افغان‌ها به‌رهبری تنظیم‌های جهادی در برابر شوروی‌ها و کمونیست‌ها ایستادگی کردند و نماندند که برنامه‌های سوسیالیستی و ملحدانه آن‌ها جامه عمل می‌پوشید و افغانستان گل و گلزار می‌شد.

این‌گونه برخورد جانبدارانه و یکطرفه در برابر معضل، هرگز نمی‌تواند

مشـکل را حـل کنـد. ایـن برخـورد خودفریبانه و مردم فریبانه، کنشی است که حتما واکنشی می‌داشته باشد.

ایـن باورهـای خودسـتایانه، دسـتاوردهای نـزده سـاله اشـغال را بـه جنس نازکی تبدیل کرده‌است که گویا با اندکی انتقاد و ایراد می‌شکند و یا پاره‌پاره می‌شود. حتی اگر صلح هم قربانی می‌شود پروای ندارد، و لیکن نباید دستاوردها به معامله گرفته‌شود.

امـا ای کـاش ایـن دسـتاوردها واقعا بـرای ایشـان معامله ناپـذیر و بـه اصطلاح خط قرمز می‌بود. واقعیت اینسـت کـه این‌هـا از دسـتاوردهای مزعوم ۱۹ سـاله هـم اسـتفاده ابـزاری می‌کننـد و تنهـا بـرای فریـب دادن افغان‌ها و جامعه‌جهانی به‌کار می‌برند. اصلا اهـم بـرای ایشـان دوام اشـغال و نظام پوشالی و جلوگیری از حاکمیت نظام اسلامی است.

چنـد روز پـیش، امرالـله صـالح معـاون اول ارگ رسـانه‌های را کـه از وحشت دلخراش و مرگبار نیروهای رژیم که بر اثر حمله هوایی بر یک مسجدی در مرکز تخار رخ داده‌بود و منجر به شهادت ۱۲ طفل و زخمی شدن ۱۸ تن دیگر شده بود خبر داده بودند، به‌شدت تهدید کرد. اما هیچ واکنشی از سوی رسانه‌های دعوی‌دار آزادی‌بیان دیده نشد. راقم به وبسایت موسسـه «نـی» (حمایـت کننـده رسـانه‌های آزاد) سـر زدم، تـا شـاید اعلامیـه و بیانیـه‌ای در نکـوهش و سـرزنش هشـدار صـالح صـادر کرده‌باشـد. امـا آنچـه آن‌جـا دیـدم انگشت به‌دندان شدم.

آنجـا در بخـش خبرهـا، اعلامیه‌ای بود به عنوان «نی نگران وضعیت آزادی‌بیان است». اما این نگرانـی از ارعـاب و ارهـاب صـالح نبود، بلکه از صالح یادی نشده بود. نگرانی از این بود که یک خبرنگاری ظـاهرا وابسـته بـه طالبـان (مشـعل افغـان) در حاشـیه‌ی جلسـه افتتاحیـه مذاکرات بین الافغانی در دوحه، چرا از نادر نادری، باتور دوستم و خالد نور پرسش‌های سخت نموده است. آیا می‌توانید بر این ماجرا باور کنید؟ امـا فشـرده حقیقـت آزادی‌بیـان در افغانسـتان همین‌اسـت. در حالی‌کـه آزادی‌بیان از مهم‌ترین دسـتاوردهای نزده ساله به شمار می‌رود.

مثـال فـوق بیـانگر معیارهـای دوگانه رسانه‌های دموکرات و لیبرال است، که از یکسو چند سوال یک خبرنگـار بـرای آزادی‌بیـان بسـیار سـنگین تمام می‌شـود، امـا از سـوی دیگر هشدار جدی یک مقام دولتی نادیده گرفته می‌شود.

اکنون وضعیت طوری‌است که دسـتاوردهای نـزده سـاله را مـردان و زنـان انگشت‌شـماری رسـانه‌ها و ان‌جی‌اوزها تصاحب کرده‌اند و گویا حق تنها با آن‌هاست. آنچه آن‌ها می‌گویند درست است و آنچه دیگران می‌گویند نادرست است. تنها آن‌ها هسـتند کـه می‌تواننـد حقـوق بشـر، حقوق زن، حقوق کودک، آزادی‌بیان و آزادی مـذهب را تعبیـر و تفسـیر کنند. مهم نیست که درفشانی‌های آن‌هـا وابسـتگی و همـاهنگی بـا ارزش‌های دینی و ملی دارد یا خیر.

همین‌که آن‌ها گفته‌اند باید همه باور کنند و هیچ‌کسی ایراد نگیرد.

اما مشکل این‌ها اینست که گلیم اشغال در حال برچیده شدن است و ایشـان آینـده خـود را در افغانسـتان تاریک می‌بینند. این‌ها اصلا و ذهنا آمـاده نیسـتند افغانسـتان از چنگـال استعمار بیرون آید و کشور مستقل و اسلامی باشد. ایشان هنوز مشغول اند به امریکا و جهان غرب مشوره و آن‌ها را توصیه می‌کننـد کـه بایـد در مـورد افغانسـتان دوبـاره بیاندیشـند و استراتژی جنگی دیگری را به آزمون بگیرنـد، تـا شـاید زمینـه‌ی حضـور همیشـگی شـان در افغانسـتان فـراهم گردد و این‌ها بتوانند با راحت تمام در جسـتجوی دسـتاوردهای دیگـری باشند.

بلـی، ایشـان بتواننـد از امانوئـل مکـرون، رئـیس جمهـور فرانسـه ارزش‌های سیکولار و دموکراتیک را خـوب‌تر بیاموزنـد. مکرون در مراسم گرامی‌داشت از ملعـون سـاموئل پتی، معلم فرانسوی که به جرم اهانت به پیامبر اسلام صلی الله علیه و سلم از سوی یک نوجوان مسلمان کشته شد، گفته‌اسـت: «سـاموئل از ارزش‌هـای سـیکولار و دموکراتیـک نماینـدگی می‌کـرد». سـیکولاران و دموکراتـان افغـانی شـاید هنـوز بـه ایـن مرحلـه‌ی دفـاع از ارزش‌هـا نرسـیده‌اند و بایـد بیشتر بیاموزنـد. قابـل ذکـر اسـت‌که مکـرون چنـدی پـیش اسـلام را بـا اسـتفاده از «آزادی‌بیـان» دیـن بحـران خوانده بود.



## د عثماني خلافت وروسته

# ټرکان او عربان!

فرهاد اتل

دعثماني خلافت د سقوط وروسته عربان او ترکان له يو بل نه جلا شول، او د سياسي زعامت او مرکزيت له پلوه سره وويشل شول، د تيرې څه کم يوې پيړۍ راهيسې دواړه د خپلې، خپلې اجندا سره سم د پرمختګ کوښښونه کوي، او په اوسني تناظر کې اسلامي نړۍ اوپه خاصه توګه د بيت المقدس او فلسطين باره کې د ترک ولس او دهغوی د حکومت کردار ټوله اسلامي نړۍ بيا ځان ته متوجه کړه، نوپه دې توګه اوس مهال د دې بدلون او تغير په پس منظر او اسبابو باندې د بحث و تمحيص يوه نوې سلسله شروع شوې ده، چې په لړکې يې د «الامان » په نوم يوې اوونيزې «بيروت» کې د يو مشهور عربي کارپوه «نبيل الکبيري» نه دهغه رايه پوښتلې ده، چې ځواب کې يې نوموړي خورا ضروري او دغور وفکر وړاسبابو باندې په رڼا اچولو سره ځيني دپام وړ اړخونه هم ښه روښان کړي دي.

دا سمه ده چې د هغه د نظر يا رايې له ټولو اړخونو سره زموږ اتفاق ضروري ندی خو دا چې نو موړي نه يوائې د عربانو بلکې دټولې اسلامي نړۍ د تيرې څه کم يوې پيړۍ په دوران کې ناکاميو باندې دغور او فکر کولو ضروري لوري او اسباب په ګوته کړي نو بناً دلته خپلو لوستونکو ته يې د لوستلو بلنه ورکوو:

ترکان کا مياب شول او عربان ناکام! بلکې اسلامپال ترکان کامياب شول او اسلام مپال عربان ناکام! داڅه خبره ده؟ حال داچې چې اسلامپال ترکان داسلام مپالو عربانو شاګردان دي، هو! برعکس نده، خو شاګردان څنګه کامياب شول؟ او استادان ولې ناکام شول؟ داسوال ډير اهم او معروضي دی خو سخت او تريخ دی، ځکه چې زموږ عربو مزاج په غلطيو باندې داعتراف کولو، د خپلوناکاميو منلو، په تجرباتو بيا نظر کولو، او هغونه د استفادې څخه د تيښتې کولو دی، زموږ عربو اصل مسئله داده چې د حقيقت پر وړاندې تل فرار او دهغه نه سترګې اړوو، بلکې له اوريدو څخه يې هم ګريز کوو، او هره خطا او ناروا چې وکړو د جواز لپاره يې دلايل تراشو، زموږ مسئله عربي قبايلي سخت دريځي، او جاهلي عصبيت دی کوم چې موږ کلک نيولی دی او داخلاقو پر بنسټ د يوبل اسلام جوړولو لپاره لالهاند يو.

څوارلس پيړۍ وروسته هم موږ تراوسه د« سقيفه» له بحث نه وزګار شوي نه يو، موږ تراوسه د « صفين وجمل» په فضاوو کې اوسو، مستقبل ته د ماضي له رخ ور ګورو، ګواکې چې ماضي دخپلو ټولو تيروتنو، او منفي اړخونو سربيره زموږ راتلونکی دی، حالنکه هغه ماضي چمکداره ده، په هغه کې ډير د خير اړخونه هم شته، دکومو په اساس چې موږ خپل حال ومستقبل تعمير کولی شو، په دې کې ډيرې تيروتنې هم شته دي دکومو څخه چې د بشري تجربو په لحاظ صرف نظر کيدای شي غرض داچې موږ دماضي د ټولو منفي اړخونو سره ژوندی يو، او دهغې دمثبتو اړخونو څخه په تيښته بلکې ترې انکار کوو، د دې لپاره موږ د حقايقو په تلاش او ماضي کې دخير و شر د تجربو او خطاوو استفاده نه خوښوو، موږ د خپلمنځي

مشترکاتو په ځای اختلافي نکات لټوو، هرچې اغیار دی هغوی د هغه څېزونو تلاش کوي چې هغوی متحد کوي! نه هغه چې هغوی متفرق کوي! ځواک ور ببني نه دا چې کمزوري کوي، همداځېز په موږعربوکې مفقود دی.

ترکیه کې د« العدالة والتنمیه» اسلامپالو بری دتجربو، معارفو، او د کامیابیو او ناکامیو مجموعه فلتر، مطالعه او تنقیح کړی دی، په داسې بهرتین شکل کې یې وړاندې کړی چې ورڅخه استفاده او نوی تعمیر ممکن شو، د دې برعکس عربان د بل چانه استفاده کول نه خوښوي، په دې وجه موږ کې هریو پخپله تجربه کول او لیدل غواړي، اګر که هغه د ټول امت دکوښښونو په حساب او د هغه د حال ومستقبل په بربادۍ باندې هم منتج شي، دا زموږ د ذات په تل کې د« انا کمپلیکس» دی د کوم نه چې موږ پخپل ځان او په امت باندې دخوروورو مصایبو او پریشانیو باوجود نجات ندی مندلی دی، د ګناه په زریعه عزت حاصلول، په غلطۍ اعتراف او تدارک نه کول، او دحق وصواب لورته نه تلل، دا په تشریع او تاریخ کې څرګند خلط مبحث او د دین او سیاست ترمنځ تفریق دی.

زموږ عربانو مسئله داده چې یو فریق پخپله ترقۍ کې دین خنډ و ګڼه نو هغوی دین کنارې ته کړ، چې په وجه یې هغوی ډېر ژر دلارې نه خطا شول، زکه چې هغوی هغه خراغ غور ځولی و، کوم چې هغوی ته لار رنا کوله؛ دوهم فریق دین د ترقۍ ضروري مقدمه وګڼله؛ خو هغوی دین د خپل فهم مطابق انګیره! او د خپلې پیمانې مطابق یې واخیست، اوپه داسې بشري اجتهاداتوکې بنکېل شول چې د۱۴ مې پیړۍ وروسته چندان ضروري نه وو، هرچې ترکان وو هغوی غلط او سهي نکات یو، یو په ګوته کړل اوهغه یې دخپل وړاندې تګ لپاره پوړۍ وګرځول، د مستقبل په لور یې وکتل، دانسان داړتیاوو، او د هغه د روحاني اشواقو په لار کې مانع ګرځېدونکې خنډونه یې ولیدل اوعربان په ماضي کې غرق وو، نړۍ یې د بې فایدې وعظونو څخه ډکه کړه، خو دا سوچ یې نه کاوه چې د معدې د لوږې درد و الم غوږونه ګڼوي او عقلونه منجمد کوي ترکان زکه کامیاب شول چې هغوی په یو وخت کې په ترک او مسلمان اوسیدو کې تعارض محسوس نکړ او

هر چې عربان وو هغوی مرغه ته په ورته کشمکش کې مبتلی وو یو ویل: دمشکلاتو حل له عربي قومیت نه په وتلو کې دی او بل ویل: چې حل د اسلام نه لاس په سرکید و کې دی اونوروبیا ویل: چې په یو وخت کې عرب او مسلمان پاته کیدل ناشوني دي.

ترکان زکه کامیاب شول چې هغوی د ټولې ترکیې له خلکو سره د یو هیواد دواکمنو په حیث معامله وکړه، هغوی سره یې د ګوند، ډلې،، قبیلې توپیرته په کتو چلند ونکړ د هغه هیواد واکمنو سیاسي اقتدار دخپل جاه وعزت او ثروت وسیله ونه وګرځاوه دخپلو لمسیو او کړوسیو لپاره یې دجایدادونو پیرلو سوچ ونکړ، ترکان زکه کامیاب شول چې هغوی ازادي خوښوونکي او دظلم و استبداد څخه نفرت کوونکي دي هغوی زکه کامیاب شول چې هغوی ترکیه یو هیواد وګاڼه او قبیله یې ونه ګڼله.

ترکانو سره نه پیترول شته او نه ګاز، خو هغوی زکه کامیاب شول چې هغوی سره ځواکمنې سیاسي ادارې شته دي او د دینه هم زیات د هغوی قومي فکري او ازادي ده، هغوی د خپل دې کورني ځواک په مټو د ترکیې میدانونه دغنمو وریجو، او وربشو زرغونو لپاره برابرکړل، په دې توګه هغه په سیمه کې هغه لومړنی هیواد وګرځید چې دغنمو اهم او ستراتیژک محصول یې ترلاسه کړ، کوم چې عربان نشي پیدا کولی بلکې هغوی ډوډۍ ترلاسه کولو پخاطر په تورو بازارونوکې خپل پیترول او ګاز پلوري او بیا په بد ل کې یې عزت ترلاسه کوي

دترکانو دبري دا څو نکات دي، عربي کوندونو ته پکاردي چې لږه عاجزي او تواضع غوره کړي، خپله جایزه واخلي، دنورو له تجربو څخه د فایدې پورته کولو په لړکې ترټولو د مخه دترکیې تجربه دي په غور سره مطالعه کړي نومیالی مفکر احمد داود اوغلو او هغه دواړه ملګري اردوګان او غول په ستراتیژک فکر دي غور وکړي دا تجربه داویا کلونو راهیسې دوام لري عربي ګوندونه او تحریکونه دغور وفکر زیات مستحق دي (اوونیزه الامان بیروت)




# سوله او جګړه

عابد

هغه دوه ټکي دي چې که لازم او ملزوم نه وي، دیوه خواړه او له بل نه دخلاصون چاره هم یو له بله پرته نه لیدل کیږي، سره له دې چې جګړه به هیڅوک هم له ښه زړه انتخاب نه کړي په تېره بیا هغه هیوادونه اوملتونه چې په اقتصادي او نظامي لحاظ ډېر کمزوري وي، خو دا چې په همدغو کمزورو هیوادو کې ولې جګړې ډېرې وي، تر ډېره یې لامل د زورورو دپراختیاغوښتنې هوس او کبر وي، چې یا مخامخ په کمزورو هیوادونو تاخت کوي اویا د ښلابښلو مداخلو له لارې ځانته د نظامي حضور لار برابروي، نو کمزوري ملتونه عموماً له تپلې جګړې سره لاس اوګرېوان وي او مجبور وي چې دعقیدې او خپلواکۍ له مخې یې وپالي.

په افغانستان کې هم ۴۲ کاله کیږي چې جګړه روانه ده او ډېر کم به داسې وخت راغلی وي چې په یوه وار دې په ټول هیواد کې جګړه نه وي، دا جګړه هم لومړی دیوه زورور او بیا دبل د زور ازموینې او پراختیا غوښتنې په موخه په دې هیواد تپل شوې جګړه ده، د زورور اوبه چې په بره ځي نو دجګړو د پیلولو بهانې یې هم څوک نه شي ننګولی، ځکه به نو دجګړې قرباني ولس تر وروستۍ سلګۍ له مقاومت پرته بل انتخاب نه لري، همدا یې دبقا او نجات لاره وي اوبس، دا ځکه چې زورور که هرڅومره زورور او طاقتورهم شي خو ولسونه له یوې مخې نه شي محوه کولای.

دافغانستان مسلمان ولس داشغال په وړاندې ښه په نره او خورا لوړه سرښندنه دومره اوږد مقاومت وکړاوله دې پرته یې بله هیڅ لار هم نه وه، دا سمه ده چې خورا سختې ستونزې اوناتاره کړاوونه یې وګالل او د بیخي ډېرو وینو په زور یې مقابله وکړه، خو هویت او استقلال یې محوه نه شو او له غلامۍ نه یې په لوړه غاړه ځان ویوست.

لکه په څومره لوړ قیمت یې چې خپله خپلواکي وساتله، په همدومره لوړ قیمت او خورا تلوسه سولې ته هم تږي دي او غواړي د هغو ارزښتونو د ترسره کېدو په سیوري کې نور لږ ارام وکړي چې په سر یې دا ټولې ستونزې وګاللې، اوس چې دسولې بین الافغاني مذاکرات پیل شوي د هر افغان له خولې دسولې سولې نارې دي، هیڅ افغان نه غواړي چې دیرغلګرو په نه شتون کې دې په افغانستان کې جګړه وي، ولې بیا هم



ځیني کړي. شته چې په همدغه حساس پړاو کې د جګړې اور ته لمن وهي او غواړي جګړه دوام وکړي. سبب او علت یې ډېر واضح دی، ځکه د دوی متنازع او په جرمونو ککړ شخصیتونه یواځې د همدې جګړې له شامته د دې وړ ګرځېدلي چې په قدرت کې پاته شي او دولسي سرمایې د زبېښاک واک ور سره وي.

داحقیقت هم باید پټ نه کړو او څرګند یې باید ووایو هغه لوری چې د اشغال په ټوله موده کې تر ګذار او بمبار لاندې و، سولې ته دهغوی اراده ډېره رښتونې او له اخلاصه ډکه معلومیږي، ځکه هغوی چې اوس فاتحین یادیږي او عملاً یې هم ثابته کړې چې کولای شي دهغه مقدس جهاد په دوام چې یرغلګر یې له هیواده وتلو ته پرې مجبور کړل؛ په یوځه نوره قرباني اسلامي نظام چې د دې هیواد دمسلمان ولس هیله ده حاکم کړي، خو بیا هم دخبرو مېز ته حاضر دي تر څو دنورو وینو دبهیدو مخنیوی شوی وي، دنویمو کلونو تراژیدي تکرار نه شي او په افغانستان کې یوسوچه اسلامي او مضبوط حکومت رامنځته شي.

دغه سپېڅلې اراده داسې تلقي کول چې ګویا دغه اقدام یې د خپلې کمزورۍ له امله کړی دی، دسولې په مخ کې د بدې ارادې شتون ښیي، همدا د جګړې اور ته لمن وهل دي، له دې پرته ټولې هغه هڅې چې دکابل اداره یې ترسره کوي، په مجموع کې دجګړې داور له تازه کولو پرته بل هیڅ پکې نه ترسترګو کیږي.

دهیواد په بېلابېلو برخو کې دملېشو جوړول، دوسلو وېش او دخلکو له فقره بده استفاده کول چې یواځې جګړې ته دامادده کېدو په بدل کې قوت لایموت ورکوي؛ ټول هغه څه دي چې دسولې په وړاندې نه اراده ترې په ډاګه کیږي، تر دې چې اوس یې دهیواد تجزیې ته هم ملاتړلې او غواړي دامریکایانو له وتلو سره ځیني نورو هیوادونو ته د مداخلې لاره برابره کړي او یوه بله نیابتي جګړه هم دلته رهبري کړي، اودا ټول د دې لپاره چې له قدرته لرې نه شي!.

همدا څه به اسلامي امارت دېته مجبوروي چې نور د سولې په مذاکراتو کې دکابل ادارې غولوونکې ونډه ټکې ټکې نړیوالو او دافغانستان ولس ته رسوا کړي او نور له دوی سره په دغه ډول غولوونکو مذاکراتو کې وخت ضایع نه کړي، خپل جهاد ته دوام ورکړي، ښکاره ده چې په دې لړ کې دنورو تویېدونکو وینو مسؤلیت به هم دهمدغې سوله ضد، پردي پال اوداشغال لاسپوڅو له غاړې وي.

# د اسلامي شريعت پېژندګلوي

## او د هغه ځانګړتیاوې!



رحيمي

له هغه راهیسې چې بین الافغاني مذاکرات جریان لري، په مختلفو رسنیوکې داسلامي شریعت، اسلامي نظام او د قران و سنت په باب بېلا بېلې تجزیې، تبصرې اولیکنې مخ ته راځي، په هغو کې دځینو ښاغلو دناسمو بر داشتونو او خطا انګیرنو په لیدو سره محسوس شوه چې هغوی د عارفانه تجاهل نه په کار اخیستو سره قصدا هڅه کړې ده چې د اسلامي شریعت او د دین د اصلي روح په اړه ناسم معلومات او تراشلي تعبیرات خپاره کړي او بل د ځینو نورو ښاغلو د معلوماتو او مطالعاتو سطحه بیا دومره محدوده او تنګه بریښي چې دهغوی دانګیرنو اوبرداشتونو په لوستلو سره داسلامي شریعت په اړه یو محدود تصور او مخصوص ذهنیت جوړیږي یعنې د هغوی په اندو نوکې شریعت دیوې حقوقي، قانوني ضابطې یا وثیقې نه ها خوا حیثیت نلري...

بیشکه! داسلامي شریعت په اساسي مضامینو او مباحثو کې دقانون مضمون یا مبحث خورا لوی اهمیت لري، زکه په اسلامي شریعت باندې عمل او د هغه سره سم د ژوند او ټولنې د تعمیر و تشکیل اساس قانون یا نظام دی، کوم چې اسلامي فقهاوو د قران وسنت په رڼا کې مرتب کړی دی، نو په دې وجه اسلامي نظام کې فقه او قانون انتهائي اهمیت لرونکي دي.

او دا هم ښکاره ده چې په اسلامي قانون باندې عمل کول د روحاني، اخلاقي او دیني پاکیزه ګۍ ترټولو لوی مظهر او ضامن دی.

خو دفقې او قانون د دومره اهمیت باوجود اسلامي شریعت یواځې دقانون څخه عبارت ندی؛ بلکې شریعت د ژواندانه لپاره پراخ نظام دی، د ژوند کولو یوه ښه نمونه دی، د ژوند تیرولو یو داسې اسلوب دی چې د مسلمانانو انفرادي، کورني، اجتماعي، نړیوال او اخلاقي ژوند ته یې نوی جهت ښښلی دی، دخدای ښښلي محقق او فاضل عالم علامه دوکتور محمود احمدغازي رحمه الله په وینا: شریعت هغه تخم دی چې ترې یو لوی او ښکلی ګلبڼ زرغون شوی دی، له هغه ښکلي ګلبڼ څخه د بشري ورور ولۍ هر وګړی مستفید ګرځېدای شي، دکوم په "برګ و بار" چې دبشري ژوند ټولو اړخونه "مستنیر" شوي دي او همدې ګلبڼ مسلمانانو ته د حقوقي او قانوني نظام لپاره تخم ورکړی دی او داجتماعي، سیاسي اوکلتوري ژوند لپاره یې هم ورکړی دی؛ دهرې، هرې ځانګې او برخې لپاره یې نوي، نوي ګلونه ورکړي دي، د نویو، نویو جهتونو او موسمونو پیرزوینه یې پرې کړې ده، په دې وجه اړتیا محسوسیده چې د حقوقي او قانوني اړخ ترڅنګ د اسلامي شریعت د هغو نورو اړخونو د روښانه کولو په عنوان څو توري ولیکو، کوم چې دعامو خلکو له نظرونو څخه پټ پاته دي:

شریعت هغه لفظ دی چې په اړه یې په مشرق ومغرب دواړو کې ځینې نیمګړتیاوې شتون لري، مغربیان دشریعت نه مراد یواځې هغه سزاګانې اخلي کومې چې د ځینو اسلامي هیوادونو دقوانینو برخه دي.

دبې دینه خلکو په اند شریعت نه مراد یو له کاره لویدلی دقیانوسي نظام دی، دهغوی په وینا: سخت دریځه خلک هغه په نوي دور کې مسلط کول غواړي، د حقوقو اوقضائي چارو سره تړلیو خلکو په اند شریعت نه

مراد هغه څو قوانين دي چې د مسلمانانو تر شخصي معاملاتو [لکه او قاف، نکاح او طلاق] پورې اړه لري، تردې چې ځيني ديني او علمي مزاج لرونکي يو شمير علماء هم د شريعت په باره کې محدود اند ونه يا نظريات لري، لکه: کومه خولۍ شرعي ده کومه نده؟ کوم څادر شرعي دی کوم ندی؟ پرتوګ اغوستل شرعي لباس دی که غيرشرعي؟ حال داچې شريعت کې د هيڅ خولۍ او پر توګ تفصيل شتون نلري، درسول الله صلی الله عليه وسلم زمانه کې په عامه توګه د پرتوګ پر ځای لنګ تړل دود و او پخپله رسول الله صلی الله عليه وسلم او صحابه وو رضی الله عنهم هم لنګونه تاړل!

ددې مثالو نو د راړو موخه داده چې په مختلفو طبقو کې دځينو مواردو اوبرخو په اړه انګيرنې او اندونه ديوبل سره ويشلي دي، دځينو صوفيانو په حلقه کې شريعت نه مراد داګڼل کيږي چې ګواکې هغه دطريقت سره ټکر لري، يعنې شريعت او طريقت ته د متحاربو او متعارضو دوه څېزونو په سترګه ګوري او دځينو ناپوهه صوفيانو په نزد خو چې هرڅوک دطريقت علمبردار وي هغه به ځان دشريعت نه لري ساتي او هرڅوک چې دشريعت عالم وي هغه به دطريقت سره سروکار نلري.

ددې مثالو نو د راوړو غرض دادی چې د شريعت په باره کې دغه ډول ځينې تيروتنې نن ندې پيدا بلکې څو سوه کاله پخوانۍ سابقه لري، په دې وجه داخبره روښانه کول ضروري او ډير اهميت لري چې موږ بايد تر هرڅه وړاندې دشريعت هغه اصطلاح چې په قرآنِ پاک کې راغلې، احاديثو کې راغلې، او په کومه چې اسلامي فقهاوو موږ ته دتحقيقاتو اوڅيړنو دفترونه پرې ايښې دي وڅيړو! چې مراد يې څه دی؟

دشريعت لغوي معنی ده: هغه لار چې داوبو تر زيرمې يا چينې رسيدلې وي؛ عربي کې ورته «شرع الوارد» ويل کيږي، يعنې داوبو را ويستلو لپاره سيند، کوهي، يا چينې ته يوڅه ور غور ځول او اوبه ترې راويستل، د دې عمل لپاره د«شرع يشرع» لفظ کارول کيده، هغه خلک چې له عربي ژبې واقف دي، هغوی ته اندازه شته چې د عربي ديو، يو لفظ نه لکه ديو ي دانې پشان زرګونه نور الفاظ و ځي، لکه يوه ونه د يوه زړي څخه زرغونه شي، زرګونه پاڼې ونيسي، ګڼ ښاخونه او برګ وبار پيدا کړي، دشرع، يشرع د دې مادې نه «شريعه» لفظ وتلی دی، کوم چې د دوه معانيو لپاره استعماليږي، يوه هغه ښکاره اوصفا لار کومه چې داوبو تر زيرمې او مخزن پورې رسيدلې وي، پخوانۍ زمانه کې په کليو او اطرافو کې بالعموم او په عربو کې بالخصوص هرځای اوبه نه وې، اوبه به يا دکلي نه بيرون په کوم ډنډ، چينه يا رود کې وې، ترهغه ځايه پورې د تګ راتګ لپاره به يوه ځانګړې لار تللې وه، چې هغه به هم صفا وه، پراخه، نيغه او اسانه به هم وه، دهغه لارې لپاره عربي کې دشريعت لفظ استعمال دود و، همديته په کتو د پخوانۍ جغرافيې په کتابونو کې د: شريعه الفرات، شريعه النيل، شريعه دجله اصطلاحات استعمال شوي دي، نو هغو ځايونو او هغه سيموته چې پرې لوی لوی سيدونه تيريږي شريعت ويل کيده.

وس داوبو او د شريعت په اصطلاحي مفهوم کې چې کوم ربط دی، هغه هم خورا جالب دی، عظيم الشان قرآن کې شريعت هغه لارې ته ويل شوي دي کومه چې د الله تعالی د هغه هدايت سره برابره وي، کومه چې الله تعالی او د هغه رسول دانسانانو لپاره غوره کړې ده، په کومه کې چې دانسانانو د انفرادي او اجتماعي ژوند د ټولو برخو په اړه لارښوونې شته، د هغو لارښوو نو مجموعې ته داسلام په اصطلاح کې شريعت ويل شوي او س که د دواړو ترمنځ د شته ربط په معنويت غور و شي نو کومه نکته چې بيرون راوزي هغه ډيره په زړه پورې ده:

عظيم الشان قرآن کې راغلي دي« وجعلنا من الماء کل شئ حی» موږ هر ژوندی څيز له اوبو پيدا کړی دی، ګواکې اوبه دانسان دمادي ژوند مأخذ او مصدر دی او هغه لار چې تر اوبو پورې تللې ورته شريعت ويل کيږي، په لغوي مفهوم کې د ژوند دمآ خذ او مصدر پورې رسيدلې لارې ته شريعت وايي، په عظيم الشان قرآن کې بل ځای راغلي دي: وان الدار الآ خرة لهی الحيوان (داخرت ژوند په حقيقت کې اصل ژوند دی

[العنکبوت۶۴: ۲۹مخ] اوس په اصطلاحي مفهوم کې هغه لارې ته چې اخروي ژوند ته ر سي شریعت ویل کېږي دا د دې دواړو ترمنځ باریک ربط او معنویت دی او دا د دواړو د استعمالاتو څخه ښکاره کېږي.

عظیم الشان قران داسپیناوی هم کړی دی چې هرصاحبِ کتاب پیغمبر خپلو خلکو او مخاطبینوته شریعت ښښلی، حضرت موسی علیه السلام، حضرت ابراهیم علیه السلام حضرت اسماعیل علیه السلام ټول صاحبِ شریعت پیغمبران وو، اوټولو خپلو، خپلو قومونوته نوي نوي شریعتونه راوړي، چې د هغو لنډیز په عظیم الشان قرآن کې هم شتون لري.

د [شریعت] په لفظ علاوه عظیم الشان قرآن کې چې کومه دوهمه اصطلاح مندل کېږي هغه« منهاج» دی، « لکل جعلنا منکم شرعة ومنهاجا» [المائده۴۸: ۴] منهاج په لفظي ترجمه کې مفسرینو چې کوم څه لیکلي له هغو نه دا اندازه کېږي چې د دې ایت په سیاق و سباق کې «منهاج» نه مراد هغه کاري طریقه ده کومې سره سم چې د شریعت پر لار سفر کېدای شي، کومه چې په شریعت باندې دتلو عمل اسانوي، په شریعت باندې عمل کولوکې چې کومه کاري طریقه اساني راولي هغه د عظیم الشان قرآن په اصطلاح منهاج ده.

ځینو اسلامي ایمه وو دشریعت یو تعریف دا هم کړی دی چې "شریعت نه مراد هغه تعلیم دی چې دالله تعالی دکوم رسول لخوا نه خپلو پیروانو ته ورکول شوی" یعنې دیو نبي یا یو رسول مکملې تعلیمي مجموعې ته شریعت ته ویل کېږي، نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم بشپړ تعلیم ته شریعت ویل کېږي، کوم چې موږ ته په دوه صورتو نو سره را رسیدلی دی قرآن پاک یعنې دالله تعالی کتاب، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم طرزالعمل او اسوه حسنه، په کومه کې چې دا ښودل شوي دي چې دالله تعالی په کتاب باندې عمل څنګه کېدای شي؟

دشریعت د دې مفهوم له مخې: که دعظیم الشان قرآن او سنت احکام وکتل شي معلومیږي چې هغه کې درې ډوله لارښوونې او اساسي عناصر مندل کېږي، په

بل تعبیر د دې ټول تعلیم اساسي عناصر یا مهم موضوعات درې دي: یو لوی عنصر هغه دی کوم چې دانسان مزاج او دهغه احساسات یا جذبات منظموي، دوهم هغه دی چې دانسان افکار او عقاید منظموي او په دې دنیا کې دانسان د مقام و مرتبې په اړه د انسانانو ذهنونو کې پیدا کېدونکي سوالانه ځوابوي او د شریعت دریمه برخه دانسان له ظاهري ژوند، او دانسان داعمالو او جوارحو څخه بحث کوي.

عظیم الشان قرآن اول نه تراخره ولولئ! او دیو، یو ایت په مفهوم غور وکړئ! نو ښکاره به شي چې هرایت د دغه درې عنصرونو سره بالواسطه اویا بلا واسطه تعلق لري، کوم چې هر لوستونکی په سملاسي ډول محسوسولی شي، هرایت به یا دکومې انساني عقیدې اصلاح کوي، یا به دکومې عقیدې وضاحت کوي، یا به دکوم داسې شخصیت د طرز العمل ښودنه کوي چې هغه د انسانانو د عقایدو په اصلاح کې غوره کړی وي او یا به دکوم داسې اعتراض جواب ورکوي کوم چې په ماضي کې په کومه اسلامي عقیده باندې شوی وي

ځیني ایاتونه هغه دي کوم چې دانسان داحساساتو، جذباتو او عواطفو سره تعلق لري، چې دانسان دننه د ښو کړنو رغبت څنګه پیداشي؟ اخلاقي اصلاحات پکې څنګه راشي؟ داخلاقي ارزښتونو څخه انحراف څنګه کېږي، انحراف چې پیداشي مخنیوی به یې څنګه کیږي؟ دا ټول څېزونه دي چې بلواسطه یا بلا واسطه دانسان داحساساتو، جذباتو او عواطفو سره تعلق لري.

دشریعت دوه برخې ډېر اهمیت لري او دهغو دواړو اهمیت پخپل ځای دی، داساسي اهمیت نه یې انکار نشي کېدای خو په لږ غور کولو اندازه کېدای شي چې دغه دواړه برخې په اصل کې د دریېمې برخې دتیاري او او تربیت لپاره دي، د انسانانو جذبات، احساسات، عقاید او افکار منظم او منضبط وي، نو د هغه په نتیجه کې د انسان ظاهري ژوند منظم و منضبط کېدای شي او ښکاره ده چې د ظاهري ژوند په تنظیم و ضبط باندې د اخروي ژوند د کامیابۍ دارو مدار دی، اخروي ژوند داوسني ژوند یو څرک، د هغه انعکاس او یوه نمونه به

وي، که اوسنی ژوند ظاهري جوارح او اعمال دانسان کړه وړه، ناسته ولاړه او معاملات داسلامي شريعت سره سم منظم او منضبط وو، نو داخرت په ژوند کې به يې رنګ ښکاره کېږي او د ظا هري ژوند دا اړخ هغه مهال منظم و منضبط کيدای شي کله چې د انسان اخلاق او احساسات سره متواز ن وي او د هغه په کنترول او کابو کې وي، او د انسان افکار او خيالات منظم و منضبط وي

دهمدې لاملونو په وجه دشريعت دا درېواړه عناصر اهميت لري، پکې وروستی يعنې داعمالُ او جوارح سره تعلق کوم چې ظاهري ژوند منظم او منضبط کوي هغه دادی لکه په عام عرف کې يا نوې محاوره کې اسلامي قانون ويل کېږي داچې دا د شريعت ډير اهمه برخه ده په دې وجه دانساني ژوند په اعمالو کې ترټولو زيات اهميت هم ورته په برخه دی، په دې وجه دشريعت د اصطلاح اطلاق پرې هم کېږي، عربي ژبه کې «بلاغت» يوه اصطلاح ده « تسمية الکل باسم الجز» ديو کل نوم د هغه جز ته په کتو ايښودل؛ پخواني زمانه کې د هيوادونو نومونه د پلازمينو په نومونو ايښودل دود و، يا به دپلازمينې نوم د هيواد لپاره نوم بلل کيده، لکه شام کې د دمشق ښار نه باندې چې سړی ووزي، نو هلته ټيکسي موټر چلونکي «دمشق» ته شام وايي، يا لکه دمصر هرښار نه چې قاهرې ته سړی درومي، موټرچلونکي يې دقاهري پرځای مصر بولي نو داتسمية الکل باسم الجز ده په ورته توګه دجز نوم دکل لپاره هم اخيستل کيدای شي

داچې د شريعت يو اړخ يعنې ظاهري اعمالو و جوارحو په برخه کې دلاښوونو په اړه دی، دايو محض مجازي تعبير دی، خو پخپله د انسان د ظاهري اعمالو او جوارحو سره تعلق لري، په دې لړکې هم دوه ډوله معاملات راځي کوم چې شريعت منظم کوي يوه ډول معامله هغه ده چې په محاکمو او دولتي ارګانو کې پرې بحثونه کېږي، قانون پلي کوونکې ادارې يې په اړه دلچسپي لري، چې ترې په سرغړونه کولو سره محاکم سر غړو نکوته سزاګانې ورکوي دا معاملات دقانون او حکومتونو په نظر هم واجب التعميل دي اوبل اړخ دشريعت هغه دی چې په هغو باندې عمل کول انسان خپله دظاهري اعمالو په زريعه کوي او ورباندې په عمل کولو کې ذمواري دانساني جوارحو ده، او جوارح يا اعضاء مکلف دي، خو محاکم او حکومتي ادارې مخامخ دهغو په نفاذ مامورې ندې، دمثال په ډول: شريعت حکم ورکړی دی کوم سړی چې په الله او داخرت په ورځ ايمان لري هغه دې دخپل ميلمه تکريم وکړي، اوس دميلمه تکريم يو ظاهري عمل دی، کوم چې انسان پخپلو اعضاوو او جوارحو سره سرته رسوي خو که زيد دعمر کورته لاړشي او عمر يې تکريم ونکړي؛ نو ايا زيد په محکمه کې پرعمر عريضه کولی شي؟ نه! که زيد د حضرت عمر رضی الله عنه محکمې ته ورشي اوشکايت وکړي نو شايد هغه يې دشکايت له اوريدو هم ډډه وکړي، خو د دې باوجود دشريعت حکم دی؛ د دې باوجود چې د شريعت له ظاهري اعمالو سره تعلق لري، نو د دينه معلومه شوه چې په ظاهري اعمال کې هم دشريعت يوه لويه برخه د دغه ډول معاملاتو په اړه شتون لري، چې په هغو باندې انسان پخپله عمل کوي او انسان دخپل ضمير سره سم په هغو باندې په عمل مکلف دی، هم دا وجه ده چې په ټولنيزو ادابو، ورځيني ژوند او اجتماعياتو کې داسې ګڼ اړخونه شته چې هغه مخامخ د شريعت موضوعات کيدای شي؛ خو د محاکمو اوقوانينو په چوکاټ کې نه رازي.





# د شهید آمرصاحب انورخان ډنګر

## د ژوند او جهاد سرګذشت

● عبدالولي خلیل

اتل قهرمان شهید محمد انور خان ډنګر د ملک غلام حید خان ډنګر زوی په ۱۹۵۹ میلادي کال د کابل ولایت د شکر درې ولسوالۍ د پیادارې د کلي د ناصرو د قوم په یوه مخکښه کورنۍ کې پیدا سو، د نوموړي پلار چې د خپل قوم مشر و په ډنګر سره مشهور و چې له دې امله یې زوی هم په هماغه نامه شهرت وموند.

امیر صاحب انور خان ډنګر ابتدائي زده کړې د خپل کلي په مکتب کې شروع کړې او تر اوم صنفه پوري دلته درسونه وویل، دې موده کې ځیني ابتدائي شیان، لیک او لوست زده کړل، نوموړي به لا مخ په وړاني خپل تعلیمي بهیر ته ادامه ورکوله چې پر افغانستان روسي یرغل وسو، له یرغل سره یې زده کړې پر همدې ځای بس او جهاد ته یې مخه کړه.

### څرنګه جهاد ته وپاڅېدی؟

د روس د یرغل دوه کلونه تېر سوي وو، تر دې وخته یې کوم جهادي فکر نه لاره، خو چې کله د روسانو وحشتونه زیات سول، د هیواد په ګوټ ګوټ کې به یې چاپې اچولې او ډول ډول وحشتونه به یې تر سره کول، په دې لړ کې به د دوی ولسوالۍ (شکر درې) ته هم چاپې راتلې او ټول هغه ځوانان به په شهادت رسول چې د مستقبل هیلې به پوري تړلې وې نو امیر صاحب د غه حالات ونسول زغملای او د نظامي مبارزې هوډ یې وکړ، د نظامي مبارزې پاڅون یې په داسي ډول و چې لومړی یې د خپل مکتب له یوڅو همزولو سره دغه فکر شریک کړ چې څو تر څو به په دغه بې رحمانه او بزدلانه ډول شهیدانیږو، دا به غوره وي چې د دوی دغه کړنو ته لاس تر زنې کښینو او که به دا غوره وي چې الهي فریضه پر ځای کړو او جهاد ورسره وکړو، نو بې د خپلو همزولو په شمول له کوره اسلحه راواخیسته او د دښمن په وړاندې یې سنګر ونیوه.

### په نظامي کارونو کې یې د شهرت لامل

نوموړي چې کله خپل جهادي یون پیل کړ نو په ډېر کم وخت کې یې د پام وړ شهرت پیدا کړ، دایې د روسانو د یوې سترې چاپې سره د کلک مقاومت په پایله کې تر لاسه کړ، هغه په داسي حال کې چې د بویه زاري دښت ته د روسانو یوه پلان سوي چاپه راغله، آمر صاحب د خپلو کمو ملګرو په ملتیا او د محدوده اسلحو په وسیله یې مقاومت ته وړاندې سو، مقابله دومره دومره سخته سوه چې د روسانو د کومک لپاره هوایي ځواکونه هم راغلل خو بیا هم مقاومت ورسره شروع و، د ځایي خلکو په وینا چې موږ به ویل چې یو مجاهد به هم ژوندی پاتې نه وي خو په پای کې چاپه ماته سوه او د دوی له ملګرو



څخه یو ملګری سرسري زخمي و نور جوړ سلامت تر جنګ را ووتل.

له دغه صحنې وروسته نوموړي ته د سترو سترو قمندانانو توجه مبزوره سوه او پر ځای د دې چې د ځایي قمندانانو سره مربوط سي مستقل یې د رباني سره لیدنې وکړې او د هغه په جمعیت کې شامل سو.

له دې وروسته یې خپلو نظامي کارونو ته نوره هم توجوه زیاته کړه او د خپلو ځانګړتیاوو له مخې به یې ستر نظامي پلانونه تر سره کول، په ښه طریقه سره به یې د ملګرو قیادت کاوه، د جګړې په سختو ساعتونو کې به یې په خورا نورماله طریقه او ښه چلند سره ملګرو ته مورال ورکاوه چې دغه یې بیا د جبهې د وسعت لامل هم جوړ سو.

## د روسانو اکمالاتي لاري بندول او د ډاکټر نجیب ورته عذرونه

د آمر صاحب انور خان ډنګر د یوه لوړې سویې قمندان کېدلو او په هیواد کې د نوم ځلېدلو تر ټولو ستر لامل دا وه چې ده له تاجکستانه څخه تر کابله راغلې لار کوم چې د روسانو ټول اکمالات به باندې کېدل، په خپل کنترول کې ساتلې وه، دغه لار پر شکردره ولسوالۍ راتېره سوې او تر کابله را رسېدلې ده، نوموړي به تر کلکې محاصرې لاندې راوستې وه، چې کله به د روسانو اکمالاتي کاروانونه تېرېدل نو مقاومت به یې ورسره کاوه او همدلته به یې سوځل یا غنیمت کول، د لاري تړل او ورسره توندمقاومت پر دښمن دومره اثر وکړ چې ډاکټر نجیب د ځایي سپینږیرو په وسیله تکراراً وړاندیزونه کول چې پر دې لار د اولس مریضان او........ راځي باید خلاصه سي، همدا ډول تر اوسه پوري د هغه وخت ثبت سویو ویډیوګانو کې د نجیب عذرونه سته چې د آمر صاحب نوم یادوي او دلاري خلاصون ته یې رابولې خو دا چې د لاري له خلاصون څخه هدف بل څه و، آمر صاحب یې ټول وړاندیزونه رد کړل په پایله کې روسانو د خپلو اکمالاتو وړلو له پاره بل سړک جوړ کړ او پر هغه به کاروانونه تېرېدل.

## اخلاص او شجاعت یې

پر نوموړي باندي اخلاص، شجاعت، شهامت، فداکاري، لوړ عزم او کلکه حوصله د الله تعالی یوه لورینه وه، په هر ډول سختو حالاتو کې به یې له صبر، حوصلې او توکل څخه کار اخیست، له ملګرو سره به یې تل د مینې ډک برخورد کاوه، خپلو ملګرو به د محبوبیت لامله پر دې ټینګار کاوه چې آمر صاحب به جنګ ته نه ځي خو د ده به د جنګ له صحنې څخه پاتې کېدل خو ډېره بعیده وه؛ بلکې د جنګ لومړی کرښې ته به یې ځان رساوه او د الله تعالی په تقدیر به یې پوره باور او یقین و چې له دې امله په مختلفو عملیاتو کې دوویشت ځایه زخمي سوی و.

## ترحم او همدردي یې:

د خپلو نورو ځانګړتیاوو تر څنګ الله تعالی د ترحم او همدردۍ لورینه هم باندې کړې وه، رحم یې تر دې اندازې و چې دوه درې ځله یې خپل قاتلان ونیول، وروسته یې عفوه ورته وکړه او آزاد یې کړل، د دې ترڅنګ د اولس سره به یې هم بې کچې همدردي کوله، له تاجکستانه څخه تر کابل پوري د راغلي څړک څخه به یې چې کله د روسانو قطارونه راتاؤ کړل نو کوم خوراکي توکي چې به یې د غنیمت په توګه لاس ته

ورغلل هغه به يې د کلي جماعت کې خالي کړل او پر کليواالو باندې به يې وويشل.

## لـه خپـل منځـي جګـړوڅخـه پـه شـا کېدل

د روسانو له ماتې وروسته چې کله مجاهدين کابل ته ننوتل او بيا کابل کې د هرج مرج وضعيت رامنځ ته سو نو آمرصاحب تر خپل هرڅه واک او قدرت تېر سو، خپلو ملګرو ته له قمندې ورکولو انکار وکړ او دا دريځ يې د ځان لپاره غوره کړ چې د مسلمانانو په وينو لاسونه ککړ نه کړي، پر کور کښېناستی، دا په داسي حال کې چې د رباني له لوري د سترو عهدو وړانديزونه هم ورته وسول، ددې کار په تر سره کولو سره آمر صاحب له جمعيت پرته د نورو تنظيمونو اشخاصو ته هم ډېر محبوب سو او ټواو به يې په شجاعت اعتراف کاوه.

## د طالبانو (اسلامي امارت) سره پيوستون يې

کله چې اسلامي امارت له تأسيس وروسته وده وکړه او د ډېرو ولايتونو په شمول پراخي سيمې د طالبانو واک ته ولوېدې، طالبان تر کابله راورسېدل، د طالبانو پاليسي دا وه چې کله به هغه سيمو ته داخلېدل کوم چې تر اوسه د دوی کنټرول کې نه وي نو د هغه سيمو د قمندانانو سره به يې لومړی د خبرو له لاري خپله قضيه حل کوله تر څو د جنګ نوبت رانه سي، د آمر صاحب انور خان ډنګر سره همداسي وسول چې حاجي ملا رباني آخند د آمر صاحب، سياف او مسعود سره لومړی ناسته په ميدان ښار کې وکړه، هلته يې د امارت پاليسي او اهداف ورته تشريح کړل چې هدف مو د اسلامي نظام قائمول دي او د ظالمانو او ټوپکسالارانو ختمول دي، دړی درې واړو هم خوشبيني وښودله او همدغه يې د ځان اهداف وګڼل خو کله چې د عملي اقدام وخت راغلی نو سياف او مسعود پر شا سول او آمر صاحب پر خپله وعده وفا وکړه، بيا چې کله طالبان د کابل د شمالي ولسواليو په فتحه کولو بوخت وو نو د شکر درې ولسوالۍ ته د ننوتلو سره سم يې آمر صاحب انور خان ډنګر دروند استقبال وکړ تو په سلګونه ميله اسلحه يې هم ورته ډالۍ کړه، چې د ده پيوستون طالبانو د خپل نظام لپاره لويه لاسته راوړنه او بريا ګڼله.

له دې وروسته يې د ځينو کړيو لامله د اسلامي امارت سره څه د خفګان عوامل رامنځته سول چې له کابله يې پاکستان ته هجرت وکړ، خو بيا د اميرالمؤمنين ملا صاحب د يوه وفد په وسيله چې د ملا نورالدين ترابي، اکبر آغا او د يوه ځايي قمندان حاجي بابا نومونه ياديږي، د دوی له لوري قناعت ورکول سو او بيا افغانستان ته راغلی، په خپله او شمالي کې فعاليت شروع کړ چې د ده د فعاليت لامله ډېرې منطقې د طالبانو لاس ته ولوېدلې.

## د امريکا په وړاندې جهاد کې خدمت يې

د طالبانو د حکومت د سقوط وروسته پاکستان ته مهاجر سو، هلته دپېښور په حيات آباد سيمه کې ميشت سو، وروسته په ۲۰۰۲ م کې بيا خپلې منطقې ته ولاړی، خپل مربوط ملګري يې راټول او کارونو ته چمتو کړل، دا په داسي حال کې چې د هيواد په ځينو ولايتونو کې د امريکا په وړاندې نظامي کارونه پيل سوي و لکه د سيف الرحمن منصور صاحب او داسې نورې جبهې فعالې وې، ده هم د خپلو ملګرو په وسيله جهادي فعاليت ترسره کاوه، له دې سره سره به د مشرانو د مهمو مجالسو اومشورو عضويت به درلود چې ډېر ځله به مهمې پرېکړې د ده پر کور کېدلې.

### شهادت يې

ده به لا خپلو جهادي ترتيبونو ته ادامه ورکوله چې د اسلام د دښمنانو له خوا په نښه سو د ۲۰۰۴ ميلادي کال د نومبر مياشتې پر څلورمه ۴ د ۲۷ روژې ماتولو وروسته د ماښام لمانځه پر مهال د دښمن د استخباراتي کړيو بزدلانه بريد باندې وسو او شهيد کړای سو.

رحمه الله رحمةً واسعةً.



# دمکرون د گستاخۍ او دښمنۍ ځواب په شعارونو نه کېږي!؟

جمیل - عزیز

د فرانسې ولسمشر "ایمانویل مکرون" په دا وروستیو کې په ډېره سپین سترگۍ پر اسلامي ارزښتونو او مقدساتو توهین آمیزه بریدونه وکړل، چې د میلیونونو مسلمانانو زړونه یې ودردول او د دوی سپېڅلو احساساتو ته یې زیان ورساوه، د فرانسې د ولسمشر دغه گستاخانه عمل د نړۍ په کچه په پراخه توگه وغندل شو.

ځینو دردېدلیو مسلمانانو د لاریونونو په ترڅ کې په دې خپل احساسات جبیره کړل چې باید له فرانسوي مصنوعاتو بایکاټ وشي او یو شمېر نورو بیا په سوشل میډیا کې د مکرون د ځرگندونو په غبرگون کې په مقالو لیکلو او خپگان ښکاره کولو باندې خپل احساسات مات کړل.

هوکې! د دوی دا احساسات د ستایلو وړ دي او همدا عکس العملونه یې د سپېڅلي اسلامي احساساتو نمایندگي کوي، خو مونږ باید پوه شو چې حضور اکرم صلی الله علیه وسلم سره مینه او محبت یوازې په شعارونو، ژړاگانو، خپگانونو او سترو لاریونو پورې نه دي محدود، بلکې ددې حقیقي مینې پیروان به هغه وخت واوسو، چې د حضور اکرم صلی الله علیه وآله وسلم په فرامینو مو عمل کړی وي او نورو خلکو ته مو د هغو رسونه کړې وي.

مونږ داسې خلک یوو چې کله مو احساسات مړه شي، نو بیا متاسفانه د قومیت، ژبې او ملت بدرنگو تهذیبونو ته پنا وړو، د غربي ارزښتونو پر بنسټ را منځته شویو فرهنگونو او حکومتونو سیوري کې ساه اخلو، د غربي دیمکراسۍ ملاتړ کوو، د همدغو گستاخي کوونکو کفارو ملگرتیا کوو او داسلام دښمنه جمهوریتونو ټینگښت او پایښت ته دلایل تراشوو.

نو دغسې کړنې د یوې پاکې او سپېڅلې مینې نمایندگي هیڅکله نشي کولی او نه دا اعمال له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د دوستۍ ځرگندونه کوي، مونږ باید لومړی خپل سپېڅلی احساس له اسلامي فکر سره برابر کړو، غربي مفکوره له ذهنونو لرې کړو، او داسې یوه اسلامي ټولنه رامنځته کړو یا کار ورته وکړو، چې په رښتیني ډول د اسلامي ارزښتونو دفاع او ساتنه وکړي.

ټولو مسلمانانو ته مالومه ده چې دا لومړی ځل نه دی بلکې د فرانسې په گډون گڼو کفري هیوادونو په ځو ځو ځله زمونږ د اسلامي ارزښتونو سپکاوی کړی، باید لږ تر لږه له دوی سره د سوداگریزو محصولاتو بایکاټ وکړو، سفارتونه یې وتړو او د فرانسې په گډون له ټولو گستاخي کوونکو کفري هیوادونو سره مقاطعه وکړو، تر څو دوی د اقتصادي مجبوریتونو له امله له دغو ظالمانه کړنو لاس په سر کړو.

د فرانسې متعصب ولسمشر په دغه هیواد کې اسلام ضد پالیسي غوره کړې، تل هڅه کوي چې د مسلمه امت غوسه را وپاروي او په توهین آمېزو کړنو یې لاس پورې کړی، په داسې حال کې چې هیڅ مسلک ددې اجازه نه ورکوي چې د نړۍ تر ټولو محبوب شخصیت حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم ته سپکاوی وکړي.

اسلام هغه معتدل دین دی، چې ټولو خلکو ته یې خپل حقوق ورکړي، اسلام خلک متقابل احترام ته را بلي، له همدې امله فرانسه او نورو غربي هیوادونو کې مسلمانان او نور خلک متقابل ټولنیز ژوند کوي، ورځ تر بلې اسلام د پراختیا په حال کې دی، په لوېدیځو هیوادونو کې اکثریت خلک له اسلام او مسلمانانو سره کومه ستونزه نلري، نو د فرانسې متعصبو واکمنو ته هم په کار ده چې اسلام او مسلمانانو ته په پاروونکو خبرو او کړنو صدمه و نه رسوي، که نه وي هر عمل عکس العمل لري، نو بیا مسلمانان مجبوره دي چې په هره بیه له اسلامي ارزښتونو دفاع وکړي.



## امام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللَّهُ

نظام کندهاری

دی د امـــت ســـتر اِفتخـــار امـــام ابوحنیفـــه
د دې ســـپېڅلي دیـــن مِعـــمار امـــام ابوحنیفـــه

څنګـــه بـــه نـــه رسي منـــزل تـــه د احنـــافو کـــاروان
لـــري لاربښـــود لـــري ســـالار امـــام ابوحنیفـــه

کـــړې د تحقیـــق نسـیم یـــې ګـــل د مســـائلو غـــوټۍ
د شریعـــــت د بـــــڼ بهـــــار امـــام ابوحنیفـــه

پـــه دلائلـــو نقلیـــه او عقلیـــه وُ یـــې کـــړل
فِقـــهَ لـــه سره بیـــا ســـنګار امـــام ابوحنیفـــه

مومنـــه راشـــه پـــر مســـیر بانـــدې یـــې ســـم شـــه روان
درتـــه صـــفا ایښـــې ده لار امـــام ابوحنیفـــه

پـــام! د فتنـــو لېـــوان شـــته ډېـــر، لـــه غـــاړې و نـــه باسې
د تقلیـــد هـــار د خپـــل سردار امـــام ابوحنیفـــه

نظامـــه رب یـــې نـــازولی چـــې لـــري رهـــنما
د علـــم، زُهـــد دنـــګ منـــار امـــام ابوحنیفـــه

## دریم اختر!

پیرمحمد کاروان

وړي تـږي خلـک یـو او بـه هـوا پـه سـوال غـواړو
خدای راکړی حق د امـن هـم پـه څـه جنجال غـواړو

زنـه د مرمـۍ نیسـو د او ښـکو پـه نـرۍ ګوتـو
غـږ د ښـوونځي د زنـګ اذان روغ د بـلال غـواړو

مـونږ لـه بـد رنګیو او لـه کرکـو زاره چـاودي یـو
مینـه مینـه ژونـد غـواړو جانـان جانـان جمـال غـواړو

سکاڼه ښاپیرۍ چې د ماښام پـه مینـه ښکل کاندو
سور زیړ وکی لمر پټ د شفق پـه رنګین شال غـواړو

دوه اختـره تېـر دي خـو دریـم اختـر د سـولې دی
ځان وخوره سپوږمۍ راتـه لـه سره دې هلال غـواړو

نـاوې د ایشـیا چـې بیـا پاچـا د ښـاپیریو شـي
لونـد یـې پـه وږمـو د کشـمالیو شـین رومـال غـواړو

زړه زړه مـو کعبـه کعبـه د مینـې د جمـال د رب
کبـر چـې فـیلان کـوي نـو کبـر یـې زوال غـواړو

د ښـتو تـه او غرونـو تـه را غـواړو مسـافر ګـلان
جـوړې پـرې ګـومبزې د بـوډۍ د زرغونتیـال غـواړو

کـټ کـټ د ماشـوم خنـدا پـه تـار د غـزل و پیـیـه
دا ځلـي کاروانـه درنـه نـوی سُـر و تـال غـواړو

# غیبي غږ

ټینګوم د ازادۍ د ډولۍ مراندې
په اوږه مې جنازه، په خوله مې ساندې
شهسوار د همت تاخت کړي پر دیوانو
د ارمان د ښاپیرو ستورګې ژړاندې
د تهذیب د دعوه دار لمن شوه غونډه
خو زما د تودې وینې داغ ورباندې
مرثیه د حماسو بلبل ته څه ده
تر فلکه یې د شهید جنډې رپاندې
اوس دوخت تر مورګو لاړه توپاني شوه
د محکوم د زړه د تل هیله مړ ژواندې
اننګي یې ټول زما په وینو سره دي
ده لیلا د ارتقا دومره زړه سواندې
ښه دې پیژنمه ،سوله-امن خوښیه
د پولادو په غاښونو باندې خاندې
ترجمان د ولولو اوسه ناګاره
فن زخمي نه کا، چې نورې کیسې کاندې

## د حریت اذان

اکرام الدین مفتون

که جنګ کرار شي او هرڅۀ جوړ شي
د لېونو به هم ماغزۀ جوړ شي

خاونده داسې سوله غواړو درنه
چې له ترخو څخه خوارۀ جوړ شي

د نشایي توکو نامه ورکه شي
او له تېزابو نه شودۀ جوړ شي

هر یو کارتوس په سلایي بدل شي
ټولو باروتو نه رانجۀ جوړ شي

چې د حریت اذان له ارګه واورم
مفتونه! هله به مې زړۀ جوړ شي



## مدرسه او پوهنتون

جانان خدرخېل

تر هغو به مو دا حال وي پوهنتونه
چې تر منځه مو جنجال وي پوهنتونه

زۀ او تۀ که سره یو شو او لاس ورکړو
د دښمن به مو زوال وي پوهنتونه

مدرسه او مکتب چا سره بېل کړي؟
دواړه پړي د یو ټال وي پوهنتونه

مانه هم هر کال هغه طالب شهید شي
چې د درس یې وروستی کال وي پوهنتونه

ستا ګلونه چې لَو کېږي زۀ پوهېږم
زړۀ دې ما غوندې ملال وي پوهنتونه

مدرسه خور دې په غم کې ده شریکه
د خورګانو دا کمال وي پوهنتونه

دواړه یو یوو زما زوی که مولوي وي
ستا بچی هم څارنوال وي پوهنتونه

خدرخېل" غوندې زما اصیل اولاد به
ستا د هر زوی اندېوال وي پوهنتونه



# فکري جګړه!



## اصول، اهمیت اوضرورت!

### د مغربي تهذیب اساس او اصل الاصول

دمغربي تهذیب اساس چې پر کو مو اسبابو او عناصرو او د کومو محرکاتو او عواملو پر بنسټ ایښودل شوی دی، په هغوکې ځیني داسې چې هغه د غربي تهذیب لپاره د "اساس الاساسات او اصل الاصول" په منزله ګڼل کیږي کوم چې په لاندې ډول دي:

۱ـ دهریت، الحاد او د دین نه بیزاري ۲- لا دینیت ۳- د غیري غربي و لسونو تحقیر کول.

په ظاهره لومړنیو دوه ډولو نو کې تکرار معلومیږي، خو تکرارنشته زکه د مغرب پوهانو لوی شمېر د الحاد او د هریت علمبرداران دي، هغو چې د مغربیت ذهن په جوړولو او تشکیل کې یې په ښکاره برخه اخیستې ده او اندونو یې ژوراثرات پرې ایښي دي، د هغوی یو خاص شمیر د د هریت علمبرداران دي، لوی، لوی شاعران، ادیبان او مفکران یې په دانسته اونا دانسته توګه دخدای تعالی له وجود نه منکر دي، او په هغوی کې کوم چې د خدای تعالی و جود مني او عملاً عیسایان دي، هغوی هم د ژوند او دین ترمنځ په تفریق قایل دي، یا پر بل سپیناوي عموماً ټول غربیان ملحدین دي او له دین څخه بیزاره دي او یا دین مني خو په یوه محدوده دایره کې یې محدود بولي.

د دې عملي نتیجه د وحې له رهنمائي نه انکار کول. اسماني کتابونو کې راغلو هدایاتونه سرغړونه او د اخلاقي اقدارو دقطعیت نه د انکارکولو په صورت کې راوزي اوس مهال په غربي ټولنه او غربي ژوند کې دا دواړه لاملونه تر نورو زیات ښکاره مظاهردي.

یو داچې مغربیان هراخلاقي څیز ته داضافي په نظرګوري، له روحاني اودیني ارزښتونو څخه نیولې تر اخلاقیاتو پورې ټول غربیان یې اضافي څیزونه بولي.

دوهم داچې په هره معامله کې د (موجود) په اهمیت باندې اصرارکوي، هغه څه چې في الواقع شتون لري د هغو په حقیقت باندې ایمان لري، کوم څه چې نشته یعنې هغه چې د ظاهري حواسو په دایره کې نه راځي، هغه له سره وجود نلري، اوپرې د غیر حقیقي څېز ټاپه لګوي لکه غیبي حقایق اوتکوینیه معارف چې ټول

له مخې غیر حقیقي ګرځوي لکه د فرښتو له وجود، الهي وحي، جنت و دوزخ، جنات، حشر و نشر له ظاهري معانیو څخه انکار کوي او په دې لړکې نه یوازې مغربي ذهنیت دغښې دی بلکې دمشرق مستغربین هم هغوی ته ورته انګیرنې، برداشتونه او عقاید لري.

دنني مغرب د پرلپسې سلطې، برترۍ، او استیلا په اسبابو او عواملوکې د هغو ټولو تاریخي اسبابو ترڅنګ اصل کردار دمغرب د پېچلې او اعلی ټیکنالوجۍ د مستحکم اقتصاد، پیاوړي پوځي ځواک او د مؤثرې نړیوالې میډیا او د رسنیو د اسبابو د برترۍ هم دی.

نن ورځ اسلامي نړۍ په دې یادو څلور واړو محاذونو کې پرمختګ کولی شي، خو په دې شرط چې ځان له ذهني غلامۍ وژغوري او د خپلې کمترۍ د شدید احساس نه را بیرون شي اوحقیقت دادی چې همدا د غلامۍ او کمترۍ شدید احساس چې د اسلامي نړۍ په زړه او مغزو مسلط دی، په اسلامي نړۍ کې یوه ډله که څومره با اثره او بانفوذه شته هغه د ذهني پلوه د مغرب همغو مره غلامه ده؛ اسلامي نړۍ کې عموماً د واک واګې هم د هغو خلکو په لاسو نو کې دي، چې یې زده کړې له مغربي پیره حاصلې کړیدي، هغوی هم سبقونه تکراروي کوم چې یې د خپلو غربي استادانو څخه یاد کړي دي.

زموږ یو شمیر ساده ګان چې د مغربیت په مطالعه ویاړي هغوی خوران د مغربیت له ظاهري دعوو څخه متاثرکېږي او دا انګیري چې ګواکي مغربیانو رښتیا هم دین له خپلو کورو نو څخه ویستلی دی، او اوس مغربي ټولنه له هر ډول دیني تعصب څخه پاکه ده، هغوی دیته پام نلري چې غربیانو دین له یوې خاص سیمې څخه و یستلی دی، خو دکور څخه نه؛ د مغرب هر څیز په عیسوي تهذیب، تمدن او عیسوي ارزښتونو بنا دی، په تیرو څلور سوه کلونو کې دکوم نړیوال قانون چې هغوی پیروي کوي، یا موجوده چې کوم نړیوال نظام دی، چې پرې نن د ټولې دنیا معاملات روان دي، د هغو اساس عیسوي عقاید او اخلاق دي. او دا خبره موږ نه کوو

پخپله غربي لیکوالان وایي چې: زموږ د نړیوال قانون اساس عیسایي اخلاق او عیسایي عقاید دي.

یوه زمانه وه چې د نړیوال قانون تعریف به داسې کیده چې «نړیوال قانون هغه د ی کوم چې د متمدنو عیسایي هیوادونو ترمنځ اړیکي مستحکموي » نو د اروپا متمدنوعیسایي هیوادونو ترمنځ د اړیکو قوي کولو لپاره کومه ضابطه چې غربیانو ترتیب کړې وه؛ هغه وروسته د نړیوال قانون مسوده هم وګرځول شوه!

او کله چې عثماني خلافت د مشرق په زیاته برخه واکمن و، سلطان بایزید پخپله زمانه کې "ویانا" کلابند کړې وه، هغوی عثماني خلافت دیو متمدن خپلواک سلطنت په توګه نه مانه، او ډیر وروسته یې په ۱۸۵۶ زکې یې و مانه، چې ګواکي هغه هم د نړیوال قانون لاندې یو ازاد، خپلواک، متمدن او منلی شوی هیواد دی او دیو ازاد هیواد حقوق او واکونه استعمالولی شي.

بعینه نن هم هغه حالت جریان لري، نن هم دهغوی په کتابونو کې دا لیکل شوي دي چې: دمغرب نړیوال قانون چې د کومو، کومو مأخذونو څخه خپل عقاید اخذ کړي دي، په هغو کې عیسائي اقدار، عیسایي دین، او د عیسایي اخلاقو قواعد هم راځي په دې وجه عیسایت دمغرب نه جلا کیدای نشي، او نړۍ کې دعیسایت ترویج د غربي استعمارپه ګټه دی، دلبنان یو عالم عمر فروخ «دالتبشیر والاستعمار فی بلاد العربیه» په نوم یو کتاب لیکلی دی، نوموړي داپه ګوته کړې ده چې مغربي استعمار او عیسایي اداري په څه ډول مشترک کارونه کوي؟ او هغوی کوم ډول کارونه کوي...؟

نو داخبر ه کو ل چې غربي نړۍ سیکولر ده، یا دا انګیرل چې غربي ټولنه پخپلو دیني چاروکې دلچسپي نلري نهایتي درجه ناپوهې اوحماقت دی او یا په نورو الفاظو د ډېر افسوس وړ ساده ګي ده؛ غربي نړۍ د ۴ سوه کلو راهیسې ټوله نړۍ کې د عیسایت دخورو لو لپاره کارکوي، نن هم امریکا او د اروپا هر هیواد نړۍ کې د مسیحیت په باب خپله پوره علاقمندي لري او ټول حکومتونه یې دعیسایت دترویج لپاره یو اواز او یو

ځـواک دي، پـه خاصـه توګـه اسـلامي هيوادونـو کـې د عيسـويانو د نفوسـو زيـاتو لـو او بيـا د هغـوی لپـاره د اسلامي هيوادونـو دننـه د جـلا، جـلا هيوادونـو رامنځتـه کـول او د اسـلامي هيوادونـو ويشـل د هغـوی پـه ګـډو مسؤليتونو کې راځي.

که د نړۍ نقشه په مخکې لرئ! خپلې سترګې د لري ختيځ په نقشه خښې کړئ! د انډونيزيا جزايرو او د مليزيـا جزايرو په منځ کې يوه بله لويـه جزيـره ده، کـومې تـه چې "بورنيو" ويل کېږي، دهغې يوه برخه چې په انډونيزيا کې راځي، «بورنيو» نوميږي، دهغې يوه برخـه پـه مليزيـا کې راځي، په کومه کې چې دوه رياستونه دي يـو «صـباح» او بل «سراوک» اويو ه بله جزيره هم هلته شـته ده کـومې تـه چې «برونائي» و يل کېږي، دا يو کـوچنی رياسـت دی، د ټولو وګړو شميرېې درې نيم لکه شاوخوادی دا ديـو ازاد هيواد حيثيت لري او د تيلو د دولـت نـه مـالا مـال سيمه ده.

له نن څخه ۶۰ کاله وړاندې غربي نړۍ دا طی کـړې وه چې په دې سـيمه کـې بـه يـو عيسـوي دولـت رامنځتـه کوي اوس ټول لوی، غربي هيوادونه په يوځای لګيـا دي هلته د عيسايت د تبليغ چارې منظموي او بېدريغه پيسې مصرفوي، عيسايانو هغه زمکې چې تراوسـه شـاړې پاتـه وې له ځايي مسلمانانواخيستې او پکې يې داوبو ډيمونه، هـوآئي ډګرونـه او نـور خـدمات لکـه رو غتـو نونـه او ښـوونځي جـوړ کـړي دي او ورتـه د شـاوخوا سـيمو نـه عيسايان انتقالوي او ور تـه زمکې ورکـوي، او هـم هغـو ځايي خلکو ته چې عيسايت قبلوي ماشـومانو تـه يـې پـه ښوونځيو کې وړيا داخلې ورکـوي، او هـم پـه وړيـا توګـه يې درملنه کوي، په دا ټوله ستراتيژۍ باندې د تيرو پنځـو س کلو راهيسې عمل روان دی اوکرار کرار د انډونيزيا په يـاد ايالـت کـې د عيسـايي وګـړو دنفوسـو پـه شـمير کـې زياتولی کوي، په ۱۹۷۶ زکې «ويتي کان» کې د چرچونو نړيوالې ټولنې پريکړه کړې وه چې د شلمې پيړۍ ترپايه به دوی ياده سيمه د عيسايانو په اکثريت سـيمه بـدلوي او د ۲۱مې پيړۍ په پيل کې به هلتـه دعيسـايانو لپـاره يـو ازاد هيواد رامنځته کوي، الحمد الله چې تردې مهالـه هغـوی پخپلـه دې اراده کـې کاميـاب شـوي نـدي، خـو پکـې عيسايت ته تبليغ په پـوره زور او شـور سـره روان دی. پـه انډونيزيا کې چې کومه ګډ وډې وه او يـا ختـيځ تيمـور تـه چې ناځاپه او آناً فاناً د يـو خپلـواک او آزاد هيـواد درجـه ورکـړل شـوه، هغه هم کومه اتفاقي پېښـه نـه وه بلکـې د او اوږد مهالو او ژورو پلانونو محصول وه.

په ورته توګه سوډان کې چې کـوم څـه پـيښ شـول، بواځينی هدف يې د سوډان جنوب کې عيسايان اکثريـت ګرځـول وو، هلتـه دعيسـايي وګـړو د شـمير زيـاتولو وروسـته يـې يـو بـل اسـراييل جـوړکـړ، کـوم چـې بـاب المنـدب او قلـزم سـمندر پـه غربـي لار د غربيـانو د ځـار لپاره ستراتيژک اهميت لري، که دلته هـم دنـړۍ نقشـه را واخلئ! نو جوته به شي چې د غربيـانو د سـوداګرۍ لويـه برخه له « سويز» کنال تيريږي، او د«سويز» کنـال غـاړه اسراييل قبضه کړې ده، پـه دې وجـه د غـرب لپـاره سـويز کنال نسبتاً خوندي دی، خو د هغه نه چې کـوم تـوکي يـا کومې بېړۍ تيريږي، هغـه بيـا د«بـاب المنـدب» نـه هـم تيريـږي، او پـه بـاب المنـدب بانـدې سـل پـه سـله کـې مسلمانان پراتـه دي، د دې لپـاره چې بـاب المندب کې داسې خلک هم ميشت کـړي چـې سـل پـه سـله هغـوی د غربي هيوادونو سره خوا خوږي ولري، نـو لـومړی يـې د سوډان جنوب کې عيسايان ميشت کړل، بيايې هغـوی تـه د جګړې لپاره روزنه ورکړه، دهغه وروسـته يـې د سـوډان پر ضد پورته کـړل، دځـو کلـو مسلسـل جنـګ وروسـته د ملګرو ملتونو لخوا ټولپوښتنه و شوه، دهغې په تـرڅ کـې جنـوبي سـوډان کـې د سـوډان څخـه جـلا نـوی عيسـايي هيواد رامنځته شـو، پـه ورتـه توګـه پـه صـوماليه او ايـري ټيريا کې هم د نوي اسراييل جوړولو پلانونـه لـري، د دې لپاره په صوماليه کې هنګامې را پورته کوي، او امريکايان دهمدې کار لپاره صوماليه کې دلچسپي لري اوبل پلو تـه د اسلامي هيوادونو غافل او ناخبره واکمـن دکـوم سـوچ او پوهې پرته خپلو پوځيان هلتـه دامنيـت ټينګولـو لپـاره ور اسـتوي او ګومـان کـوي چـې دغربيـانو هـدف ربښـتيا امنيت ټيګول دي؛ پوښتنه داده چې هلتـه بـې امنيتـې چـا پيدا کړې ده؟ بې امنې ولې شروع شوې ده؟ په دې بانـدې

هیڅوک غور نکوي؟ خو چې هر کلته ورته سپین پوستي انګریزان حکم وکړي چې تاسو! فلاني هیواد ته پوځیان واستوئ! او د خپلو وسلو خولې په مسلمانانو ور وګرځوئ! مسلمانان وځپئ، د کوم ځنډ پرته د اسلامي هیوادونو پوځیان شرقي تیمورته درومي، صومالیه ته ځي، ایري تېریا ته ورځي او افغانستان ته را درومي، او د مسلمانو او اسلامي پوځیانو په لاسو او تورو باندې د مسلمانانو سرونو په پریکیدو سره صلیبي هیوادونه رامنځته کېږي دا دهغوی پالیسۍ ده او د دې لپاره هغوی فکري، ذهني او دعوتي چارې پرمخ بیایې، د دې وړو، وړو مثالونو له راوړو هدف دادی چې مغرب نه خپل دین ته شاګرځولې ده او نه یې خپل دین له کوره ویستلی دی، دامریکا او اروپا ټول حکومتونه په ګډه لګیادي د خپل عیسوي دین د پراختیا لپاره د مخامخ وسلوال جنګ ترڅنګ فکري اوسیاسي جنګونه هم کوي، خو افسوس! چې نړۍ کې مسلمانان غافل دي او په مقابل کې یې بیدارې نلري له دې وجې په دې سترګې پټول نه دي پکار، عیسوي عقاید د هغوی دپالیسیو لازمي جز او برخه دي.

بله دا چې په مسیحي دین کې د حضرت عیسی علیه السلام رښتینې لارښوونې شتون نلري، نن سبا چې کوم مسیحیت په نړۍ کې خور دی، هغه د"مترا ازم دبوت پرستانه او مشرکانه عقایدو او سینټ پال"دافکارو او د جدید مسحیت مغلوبه ګډ ل کېږي، یوازې د برکت لپاره پکې دحضرت عیسی علیه السلام نوم یې استعمال کړی دی، د دې مغلوبې د دوه اجزاوو نه علاوه دریم جز د صلیبي جنګونو تعصبات دي، کوم چې د اسلامي نړۍ سره دغرب داړیکو په برخه کې فیصله کن کردار لري، بیا دهغه وروسته د څه کم څلور سوه کلو راهیسې د استعمار دوره پیل شوې ده، چې پر دې سره په پخوانیو تعصباتو کې یو نوی اهم عنصر هم اضافه شو، یعنې استعمار! اوس استعمار څنګه شروع شو، استعمار هم دمسحیت او دهغه تاریخ سره ژور تعلق لري او د هغه د سوداګریزو ګټو سره تړلی دی، د مختلفو اسبابو په بنا په اروپا کې صنعتي ترقې پیل شوه په پراخه کچه ترقې رامنځته شوه، نو مزدور چې په میاشت کې څومره پیسې ګټلې هغومره پیدار وار اوس د ماشینونو پر مټ په ورځ کې یا یو ساعت کې کیږي، اوس دو مره پراخ پیداوار چیرته او په چا به پلور ل کېږي؟ چیرته به وړل کیږي؟ د دې لپاره بازار او مارکیټ ته اړتیا وه، نو د منډ هیو مندلو تلاش یې شروع کړ، کله چې د منډهیو په تلاش پسې وو تل نو ورته افریق یوه اسانه منډهې ښکاره شوه، نو اروپایان یوځای شول افریقایان یې دځانو لپاره غلامان وګرځول

## دفکري جګړې دوهم محاذ: الاستعمار:

داستعمار مطلب دا هم دی چې په یوه سیمه باندې خپل ایجنټان په زوره تپل او دهغوی په واسطه هلته خپل تسلط ټینګول، څو دهغه ځای طبعي زیرمې اوشتمنۍ لوټ و تالان کړي.

دکیمبرج ډکشنرۍ له مخې: یو داسې نظام ته ترقې ورکول چې په سبب یې یو هیواد دبل هیواد دسیاسي او اقتصادي اونورو معاملاتو او چارو واک ترلاسه کړي.

## د استعماري سوچ بنسټونه:

د استعماري سوچ نمونه د یوناني فاتح [سکندر اعظم] فتوحات او د هغه د معاصر فلسفي ارسطو د لار ښوونو سرچینه اخلي، چې په اساس یې یونان ترڅلور سوه کلونو اسیا باندې حکومت وکړ.

## داسلامي نړۍ په خلاف داستعماري کوښښونو تمهیدي دور:

د اروپا ئي استعمار تمهیدي دور دراشده خلافت نه دصلیبي جنګونو ترپایه وو، پکې اسلام دښمنه ځواکونو د دې لاندې څلور ګونو اهدافو لپاره کوښښونه وکړل:

دخلافت خاتمه ۲ – په مقدسه مقاماتو قبضه ۳ – په اسلامي نړۍ قبضه ۴- داسلام او مسلمانانو خاتمه

دلته دا یادونه ضروري ده چې دا یواځې داسلام او مسلمانانو په مقابل کې د اروپایي استعمار لخوا ټاکلي اهداف دي: دمسلمانانو څخه د نورو قومونو او هیوادونو کنترولو لو لپاره یې نورې ارادې او جلا پلانونه لر ل،



کیږي، اوس تاسو! پخپله اندازه ولګوئ! ولې چې کامیاب حکمران هغه څوک کیدای شي چې هغه د تاریخ نه خبر ولري! هیڅکله یو اقتصاد پو کامیاب واکمن نشي کیدای، یو قانو نپوه کامیاب واکمن نشي کیدای په ورته توګه دیو کامیاب واکمن لپاره په ډیرو علومو او فنونو باندې پوهیدل هم ضروري ندي البته دکامیاب واکمن لپاره دتاریخ نه خبریدل او پرې پوهیدل ضروري دي، زکه د نورو فنونو په برخه کې واکمن ته سلاکاران هم مشورې او رایې ورکولی شي خو دتاریخ نه یې هغوی نشي خبرولی، ضروري ده چې واکمن به دتاریخ مطالعه او شعور لري

کله چې انګریزانو په هند کې ترپولو دمخه بنګال ونیو، هغوی ژر محسوس کړه چې د دوی په پابریکو جوړیدونکي کالي هندوستان کې نه پلورل کېږي، ولې چې دبنګال په ډاکه کې جوړیدونکي ململ ټوله نړۍ کې پلورل کیده او دهغه دنفاست معیار داو چې دململ پوره تان دګوتې د یوې ګوتمې څخه ویستل کیده، اوښکاره ده چې د انګلستان رختونو د امعیار نه درلود، نو انګریزانو ددې لپاره دا حل راوویست چې سملاسي یې هغه کارګاه چلونکي کاریګران بیکاره کړل، کومو چې دومره نفیس ململ جوړاوه نو دبشریت دحقوقو او د تهذیب وتمدن علمبردار انګریز ددې لپاره چې په راتلونکي کې څوک بیا کارګاه ونه لګوي او دغسې نفیس ململ تیار نکړای شي دبنګالي کاریګرو ګوتې یې په بندونو کې پریک کړې او دا د دې مثال دی چې انګریزانو څنګه ځایي صنعت یې ختم کړ او په ځای خپل انګریزي صنعت دود کړ.

کله چې انګریزان د هند نیمې وچې ته راتلل، یا کله چې په هند کې دایسټ انډیا حکومت راته، د اتلسمې پیړۍ په وروستیو کې هلته د تعلیم او سواد په اړه یې یوه سروې و کړه، هغه سروې کې ورته جوته شوه چې پنجاب ایالت (اوس د دوه هیوادونو پاکستان او هند ترمنځ

لکه د افریقایانو دغلامولو پلان چې په ترڅ کې به یې هغوی ژوندي ونیول او اروپا او امریکا ته به یې رسول او هلته یې ورباندې غلامي کوله

یو انګریز لیکوال چې پردې باندې یو فلم جوړکړی دی هغه ویلي امریکا او برتانیه او د اروپا نورو هیوادونو افریقیایان خپل غلامان ګرځول؟ او دکومو، کومو ظلمونو په نتیجه کې یې چې د افریقا ټول براعظم غلام وګرځاوه؟ هغه داستان زیات دردونکی او خونړی دی.

البته داسیا معامله دافریقا په نسبت یوڅه مشکله وه، زکه اسیا کې له وړاندې متمدن هیوادونه وو، هند کې مغول سلطنت و، ایران کې ایراني شاهي رژیم و، افغانستان کې افغان علماء. مجاهدین او واکمن ځیر وو، بل پلوته ترکیه او عربي نړۍ کې عثماني خلافت واکمن و، نو اسیا کې دخلکو غلامان ګرځول ورته هغومره اسان کار نه وو لکه په افریقا کې چې وو، په دې وجه اسیا کې دانګریزانو بریاوو وخت ونیو او هرچې افریقا وه په هغې باندې قبضه اسانه اوژر وکړه، او ژرېې بشپړه کړه، هرچې اسیا وه پرې د قبضې بشپړولو لپاره اوږدې مبارزې ته اړتیا وه، په دې لړکې داسیا په ټولو ولسونو کې تر ټولو ځوانمردانه کردار ویاړمن تاریخ افغان ولس لري چې انګریزان یې په پرلپسې ډول ووهل او له خپل هیواده یې و شړل.

هو! تاریخي پیښې په ذهن کې یاد ساتل ضروري دي، زکه تاریخ د قومونو حافظه وي، یو فرد که خپله حافظه له لاسه ورکړي نو هغه دلیونیو روغتون ته بیول

ویشلی دی، هغه مهال لري پرته سیمه وه او د پلازمینې دهلي نه لري و) مسلمانانو کې دتعلیم سلنه سل سلنه ده؛ او په ټولیزه توګه تعلیم ۸۴ سلنه و. او کله چې انګریزان په ۱۹۴۷ ز کې له هنده و تل، پنجاب کې دمسلمانانو دسواد سلنه څلور فیصده پاتې وه، انګریزانو دسواد سلنه څلورفیصد ته راوسته او ټول قوم یې جاهل پرېښود او دوی لاړل، دا د هغه دعوې حقیقت ښیي چې څوک وایي انګریزانو موږ ته تعلیم او تمدن راوړو، ډېر ساده لوح خلک نن هم په دې باور دي چې غربي هیوادونو د نړۍ و لسونه متمدن کړل حقیقت دادی چې سل سلنه سواد یې په سل سلنه جهالت بدل کړ.



نو داسې انګیرل چې دا هرڅه محض په اتفاقي ډول پېښ شول اویا د مسلمانانو دکمزورتیا اثرات وو، محض ساده لوحي ده، بیشکه دمسلمانانوکمزورۍ هم وې مخکې هم وې او نن هم شته دي، لیکن دهغو کمزوریو زرځله زیاتولو اصل وجه یوه لویه استراتیجي وه کومه چې داسلامي نړۍ دعزت، او د با وقاره اسلامي راتلونکي دتباه کولو په موخه جوړه کړای شوې وه، دا دواړه څیزونه چې یوځای شول نو ترې دا نتیجه را ووته کومه چې نن زموږ په وړاندې ده. څنګه چې موږ وړاندې وویل چې داسلامي نړۍ خلاف داستعمار پلانونه په څلور برخوکې زیات متمر کز او راټول دي، چې پکې لومړي:

## داسلامي خلافت ړنګول...:

د راشده خلافت نه واخله تر عباسي خلافت پورې کفري ځواکونو داسلامي خلافت ړنګولو لپاره کوښښونه روان ساتلي دي، په ۶۱۶ هق کې چنګیز خان په اسلامي نړۍ باندې یرغل وکړ او دهغه لمسي هلاکوخان په ۶۵۶ هق کې بغداد ړنګ بنګ کړ، او عباسي خلافت یې ختم کړ، ټولو صلیبي هیوادونو دچنګیز او هلاکو خان دوحشتونو او ظلمونو څخه ملاتړ کاوه

## په مقدسه مقاماتو قبضه:

داسلام او مسلمانانو پر مقدسه مقاماتو باندې دقبضې کولو لپاره په اسلامي نړۍ صلیبي جنګونه وتپل دکومو په ترڅ کې چې بیت المقدس یې د مسلمانانو څخه ونیو او پکې زرګونه مسلمانان یې په شهادت ور سول.

## ۳ - پر اسلامي نړۍ قبضه:

داروپایانو هدف یواځې بیت المقدس نیول نه و، بلکې غوښتل یې چې داسلامي نړۍ جغرافیه، او وسایل هم قبضه کړي، دکوم لپاره چې هغوی بیا، بیا یرغلونه کول.

## ۴ – داسلام او مسلمانانو ختمول:

دصلیبي جنګونو او دتاتاري یرغلونو هدف دنړۍ له جغرافیې څخه دمسلمانانو او د اسلام نیست ونابود کول و او پرځای یې خپل دین ته نړیواله غلبه ښنل و

## دکفري ځواکونو دناکامۍ لاملونه:

په پورته یادو مقاصدوکې دکفري ځواکونو دناکامۍ لاملونه دمسلمانانو لخوا درې غبرګونه ښودل وو:

۱ – داسلامي دعوت کارجاري ساتل، دکوم په سبب چې چنګیزیان مسلمانان شول.

۲ –مصر کې دبنوعباس خلافت بیا جوړیدل او د هغه د بیرغ لاندې د مسلمانان بیا متحد کیدل

۳ – د جهاد بیرغ رپاند ساتل، تردې پورې چې صلیبیانو اوچنگیزیانو شکست وخوړ.

### د ذهني اوفکري بدلون دوره:

د یادو تجربو وروسته داسلام دښمنان پوی شول چې داسلامي خلافت خاتمه او په مقدسه مقاماتو باندې د دوی لخوا قبضه، او یا د مسلمانانو نیست و نابود کول اسان کار ونه دي، بلکې د دې لپاره وړاندې زمکه او ماحول جوړول ضروري دی، نو هغوی جنګ پرېښود او په ټوله نړۍ باندې د قبضې کولو لپاره یې نوي کوښښونه پیل کړل.

### استعماري سوچ ته تقویت ورکونکې څلور پېښې:

هغه څلور پیښې چې په اروپا کې یې د استعمار سوچ ته تقویت وباښه:

۱ – په ۱۴۵۳ کې عثماني ترک فاتح سلطان محمد فاتح قسطنطنیه فتح کړه، له امله یې په اروپایي واکمنوکې دانتقام او غچ اخیستنې جذبات پیداشول.

۲ – د قسطنطنیه رومي او فلسفي حکما اروپا ته لاړل دهغوی په ورتګ سره اروپا کې استعماري سوچ خورشو

۳ – په ۱۴۹۲ زکې عیسایانو په هسپانیې قبضه وکړه دې سره یوه نوې ولوله پیدا شوه

۴ – ترکانو د اروپا یي سوداګرو لارې وترلې، په وجه یې اروپا یي سوداګرو د نویو سوداګریزو لارو د مندلو کوښښونه پیل کړل

### داستعمار اصل دور:

د۱۶ مې پیړۍ په وروستیوکې چې اصل استعمار پیل شوی دی، په هغه کې د اروپا یي قومونو د راتلونکې تګلارې نښې مرتب شوې ښکاري:

۱ – اقتصادي او سوداګریزه خود انحصاري

۲ – داسلامي نړۍ اقتصادي اوپوځي کلابندي

۳ – په اقتصاد او سوداګرۍ کې غلبه مندل

۴ – په اسلامي نړۍ سلطه مندل

۵ – داسلامي خلافت خاتمه کول

۶ – اسلامي نړۍ ټوټې ټوټې کول

۷ – داسلامي نړۍ پیژندګلوي له منځه وړ ل

### لومړۍ مرحله...

### اقتصادي او تجارتي خپلواکې:

کله چې ترکانو د خپلو تحفظاتو په وجه اروپا باندې د وچې او سمندر دواړو لارې بندې کړې نو اروپایي سوداګرو اقتصادي خپلواکې له خطر سره مخ شوه، د هغوی د سوداګریزو لارو لټون شروع کړ، څو دترکانو اقتصادي کلابندې بې تاثیره وګرځوي، په دې ورځو کې هسپانیه کې فردي ناند او پرتګال کې دشاه مینویل حکومتونه و، فردي ناند او دهغه ملکې ازابیلا ختیځو هیوادو نوته دسمندرې لارو مندلو لپاره په ۱۴۹۲ اګست کې د کولمبس په نوم یو بېړۍ چلونکی روان کړ او دپرتګال پاچا [مینویل] د۱۴۹۷ جولایي میاشت کې« واسکوډي» د همدې هدف لپاره واستاوه، هغوی دسوداګریزو لارو دلټون سربیره دکمزورو محلي حکومتونو په چور او تالان کولو هم دریغ ونکړ، کولمبس لاره خطا کړه، هغه جنوبي امریکا ته ورسید او «واسکوډي» په ۱۴۹۸ زکې می کې هند ته ورسید په دې سره د اروپا لپاره یوه نوې سوداګریزه لار پرانیستل شوه او هم د لوټ او تالان لپاره مناسب ښکار ځایونه په لاس ورغلل اوپه په دې سره اروپا کې دخوشالۍ نوی دور پیل شو.

نوربیا...

# د اذربایجان او ارمنستان ترمنځ لانجه څه ده؟

# که جنګ تم نه شي نو؟؟




حسن زوی

د اذربایجان او ارمنستان ترمنځ جنګ لاهم ندی تم شوی او نه هم کوم لوري جنګ بندی، ته میلان ښکاره کړیدی بلکې دهرې ورځې په تېرېدو پکې زیاتوالی راځي؛ هرلوري خپلو فوځونو ته د مخکې تللو حکم کړیدی او هر یو بل ته د لویو ځاني او مالي زیانونو د ور اړولو او زیاتوسیمو دنیولودعوې کوي.

د جنګ پیل کېدو نه پس د ملګرو ملتونو د امنیت شوری یوه بېړنۍ غونډه وکړه ځکه چې په نړیواله سطحه دا تشویش زیات دی چې په دفاعي او جغرافیایي لحاظ مهمه د قفقاز سیمه کې پیل شوي دې جنګ کې دنورو هېوادونو د اخته کېدلو خطر شتون لري؛ دامنیت شورى د اوربندغوښتنه وکړه خو غوښتنې ته یې یو لوری هم مثبت ځواب ونه ویلو اونه یې دجنګ ودرولو ته چمتووالی ښکاره کړ.

روسې ددواړو هېوادونو دباندنیو چارو وزیران مسکو ته ور وغوښتل او د روسې دباندنیو چارو وزیر سرګي لاوروف ورسره ۱۰ ساعته خبرې وکړې؛ په مجلس کې دناستو ۳واړو وزیرانو په اتفاق پرېکړه وشوه چې د اکتوبر په ۱۰مې نېټې د ورځې ۱۲بجې به اوربند پیل کېږي؛ په یادې نېټې اوربند وشو خو ایله ۵ دقیقې تېرې وې چې اوربند مات او دواړو لورو پر یو بل درانده بریدونه پیل کړل. دواړه هېوادونه په یو بل تور لګوي چې اول یې حمله کړیده.

داذربایجان فوځي منابعو په مکرره توګه ویلي چې دنګورنو کاراباخ په تاتاري اوسېدونکو مسیحي بیلتون غوښتونکو او ارمني فوځیانو شریکه حمله کړې چې پکې ګڼ بې ګناه تاتاریان وژل شوي؛ داذربایجان ولسمشر- الهام علیوف ویلي: جنګ ارمنستان پیل کړی چې د اذربایجان دعسکرو په فتح به پای ته ورسېږي؛ موږ به دخپلو شهیدانو انتقام واخلو؛ موږ به خپله پاکه خاوره بېرته ازاده کړو؛ موږ به د ارمني قابضینو ۳۰ کلنه قبضه ختمه کړو.

خو بل لور ته د ارمنستان لومړي وزیرنکول پاشنیان وایې چې اذربایجان په بې وسلې ارمنیانو حملې کړي او داجنګ موږ نه بلکې دوئ پیل کړیدی؛ هغه زیاته کړه چې د اذربایجان جارحیت دترکې دناروا حمایت نتیجه ده؛ په ړومبي نړیوال جنګ کې ترکې د ارمنیانو قتل عام وکړ خو بیا یې هم د ارمنیانو دوینو تنده نده ختمه؛ سیمه د

خطرناک جنگ پرلور روانه ده؛ مهذبه نړۍ باید یو شي او ترکیه دشیطاني کړنلارې نه را وګرځوي.

دجنګ دپیل ورځو کې ارمنستان دا تورهم ولګولو چې د ترکې جنګي طیاره د ارمنستان هوایي حدودو ته را ننوتې او د ارمنستان یوه جنګي طیاره یې رانسکوره کړیده؛ طیاره په بشپړ ډول تخریب شوی او پیلوټ یې مړ دی.

د ارمنستان رسنیو ویلي و چې د ارمنستان حدودوته د را داخلېدونه پس د ترکې ایف ۱٦ډوله طیارې د ارمنستان ایس یو ۲۵ ډوله طیاره په نښه او رانسکوره کړه. خو دارمنستان حدودو ته د ننوتلو تور ترکې رد کړی.

بل لورته د ترکې ولسمشر۔ طیب اردګان ویلي دي چې ارمنستان دسیمې دامنیت لپاره تر ټولو ستر خنډ دی؛ موږ به د اذربایجان حمایت ته دوام ورکړو او ترهغې به ورسره ولاړیو ترڅو چې ارمني فوځونو د اذربایجان خاوره نه وي پرېښې.

دترکې د دفاع وزیر په خپلې یوې تازه وینا کې ویلي دي چې: ارمنستان په نګورنو کاراباخ بریدکولو سره وښوده چې هېڅ ډول نړیوالو منل شویوقوانینو ته احترام نه لري؛ هغه زیاته کړه چې اوربند دیرغلګرو غاړه ایښودل کفایت نه کوي؛ بلکې دوئ نه داذربایجان دخاورې دبشپړې ازادۍ لپاره دوامداره مبارزه پکار ده چې موږ به پدې مبارزه کې دخپل ورور اذربایجان سره ولاړ یو.

همدا راز دترکې دفاع وزارت ویلي دي چې دتاتاري مسلمانانو د وژلو لپاره ګڼ شمېرکردان هم راوستل شویدي.

اذربایجان دکسپین بحیرې پر غاړه د ختیځې اروپا اولویدیځې آسیا په منځ کې دتېلو له زېرمو ډک هېواد دی؛ په نړۍ کې دتېلو ترټولو ړومبۍ زېرمه همدلته کشف شوی وه ددې هېواد پلازمېنه باکو دنړۍ په هغو ښارونو کې شمېر دی چې پکې د تېلو تر ټولو زیاتې زېرمې شتون لري او په زړه پورې دا ده چې تېل یې دځمکې دتل نه نه بلکې د غرونو نه راوځي.

په اذربایجان د روسې د قبضې په هکله چې کله دلینن نه وپوښتل شول نو دهغه جواب ډېر په زړه پورې و؛ هغه وویل: ځکه یې اذربایجان تر خپلې ولکې لاندې راوست چې په باکو کې دکشف شویو تېلو پرته د روسې بقا ناشوني وه.

دباکو نه اروپا ته د دوه پایپ لاینونو له لارې تېل ځي یو د کسپین له لارې ترکې او د ترکې نه اروپا ته او بل د قفقاز له لارې چې نګورنو کاراباخ یې هم په لارکې راځي اذربایجان دکسپین سي، روسې، ایران، جارجیا، ارمنستان او په یوې کوچنۍ برخه کې دترکې سره ګډې پولې لري.

دې هېواد کې ۱۰ ملیونه انسانان ژوند کوي چې اکثریت یې دمسلمانانو دی؛ دلته خلک په آزري او روسي دواړو ژبو غږېږي؛ دا هېواد د تېلو د اهمو صادرونکو هېوادونو څخه ګڼل کېږي.

په ۱۹مې میلادي پېړۍ کې دا هېواد د روسې او فارس ترمنځ تقسیم و؛ دهمدې پېړۍ په منځ کې دلته دنړۍ تر ټولو ړومبۍ دتېلو زېرمه کشف شوه.

اذربایجان دمنځنۍ آسیا له هغو هېوادونو نه دی چې د روسې له قبضې وړاندې دعثماني خلافت برخه او پکې ګڼ ترکان اوس هم مېشت دي.

په ۱۹۱۸م کال کې اذربایجان خپله ازادي اعلان کړه خو روسې یې ازادي ونه منله خپل فوځونه یې ورننویستل او تر ۱۹۹۱م پورې دا دروسې تر استعمار لاندې پاتې شو؛ په افغانستان کې د روسانو دماتې او شوروي اتحاد د ټوټه کېدو په نتیجه کې چې ۱۹۹۱م کال کې د منځنۍ آسیا هېوادونو له روسې ازادي واخسته نو اذربایجان هم ازاد شو؛ الهام علیوف ددې هېواد څلورم ولسمشر؛ دخپل پلار حیدر علیوف ځای ناستې او له ۲۰۰۳م کال راهیسې په واک کې دی.

داذربایجان دولت په ټولو معنو ځان سیکولر ګڼي؛ د اوسېدونکو اکثریت یې شیعه ګان دي خو دلته دشیعه او سني لانجې نه ترسترګو کېږي؛ د اکثرو جوماتونو امامان ترکان علماء دي خو شیعه ګان هم دهمدوئ پسې لمونځونه کوي؛ دلته په هر جومات کې دکوچنیانو لپاره دزدکړو دیني مرکز او دمطالعې لپاره کتابتون وي چې پکې دهر مسلک کتابونه ایښودل کېږي.

دلمونځ او نورو مذهبي چارو ترڅنګ خلک ودونه او نورې ټولنیزې چارې هم په جوماتونو کې ترسره کوي.

ارمنستان دشرقي اروپا اولویدیځې اسیا په منځ کې پروت یو داسې هېواد دی چې سمندر ته لار نه لري؛ د روسې، جارجیا، اذربایجان، ایران او ترکې سره ګډې پولې لري.

لویدیځ ته یې ترکیه او ختیځ لورته یې اذربایجان دی؛ د ډېرو پخوانو مسیحي تهذیبونو څخه ګڼل کېږي؛ په څلورمې مسیحي پېړۍ کې پکې کلیساوې جوړې شویدي؛ د نورو اروپايي هېوادونو په پرتله یې تاریخ قدیم دی؛ دلته یواځې ۳ملیونه او ۱۰۰زره انسانان ژوند کوي چې زیاتره یې مسیحیان دي؛ دې هېواد کې خلک په ارمني او روسي ژبو غږېږي؛ ننی ارمنستان د تاریخ په اوږدو کې په مختلفو وختونو کې دبازنطین، فارس، منګول او ترک سلطنتونو برخه وه؛ په ۱۹۱۸م کال کې د اول نړیوال جنګ پر مهال دلته دعثماني خلافت فوځونه شاتګ ته اړ شوي وو خو دارمنستان ازادي په نصیب نه شوه بلکې ډېر ژر روسي ترخپلې قبضې لاندې راوست چې د ۱۹۹۱م کال پورې دا قبضه قائمه وه؛ په ۱۹۹۱م کال کې چې شوروي اتحاد په افغانستان کې ماتې وخوړه او ټوټه شو نو ارمنستان هم ازادي ترلاسه کړه.



دقفقاز په جنوب کې د نګورنو کارباخ (په پښتوکې یې زیات خلک ناګورنو قره باغ تلفظ کوي) په نوم داسیمه کابو۴زره ۸ سوه کیلو متره مساحت لري چې د اذربایجان دپلازمېنې باکو نه ۲۷۰کیلو متره لرې پرته ده؛ دنفوسو شمېر یې ۱۵۰ زرو ته رسېږي چې ۹۰سلنه یې ارمني مسیحیان دي او ۹سلنه یې دتاتاري نسل سني ترکان دي.

یانې دبین المللي منل شویو اصولو له مخې داسیمه داذربایجان پورې تړاو لري خو داوسېدونکو لویه برخه یې ارمنیان دي چې همدا دستونزې اصل لامل دی.

په زړه پورې دا ده چې ارمنیان ددې سیمې اصل اوسېدونکي ندي بلکې روسې په ۱۹۲۳ کې د ارمنستان نه دې سیمې ته راوستي، پکې یې مېشت کړي او دې سیمې ته یې له خپل لورې ازادي ورکړیده نو ځکه ویل کېږي چې ددې ستونزې اصل عاملین روسان دي.

په ۱۵مې میلادي پېړۍ کې نګورنو کاراباخ دترکي سردارانو په قبضه کې وه؛ په اول نړیوال جنګ کې دعثماني خلافت دماتې نه پس د دبرتانې ترقبضې لاندې راغله او د شوروي اتحاد دجوړېدو نه پس د اذربایجان برخه وګرځېده.

دا خبره مشهوره ده چې په نګورنوکاراباخ کې جوزف سټالن لېوالتیا نه لرله نو ځکه یې ارمنستان ته د ورکولو

اراده کړی وه خو دترکې له لورې پردې سیمې داحتمالي قبضې وېرې له دې ارادې نه شاته کړ او اذربایجان تـه یـې پرېښوده.

دنګورونوکاراباخ ارمني مسیحیان نګورنوکاراباخ پـه ارتکش نومو‌ي او خپل خودساخته دولت (ارتکش ریپبلک) بولي.

اذربایجان پدې نوم اعتراض نه لري او ورته یې نیمه خود مختاري هم ورکړیده خو ارمني مسیحیان پدې نـدي قانع بلکې ددې سیمې داسې ویشل غواړي چې دنفوسو په تناسب په یوې کوچنۍ برخـې د تاتـاري مسـلمانانو او پـه زیاته برخه یې د دوئ خپلواک دولت وي ددې لپـاره دوئ ځایې تاتاري مسلمانان هم ډېر وهڅول؛ دشیعه او سـني د اختلاف نه دکار اخسـتلو کوشـش یـې هـم وکـړ او تاتـاري سني مسلمانانو ته یې دا خبره رامخې ته کړه چې که خپلې سیمې کې دولت جوړولو ته تیار شي نو به د شیعه مرکزي دولت دسلطې نه ازاد خپلواک هېواد ولـري خـو دکاراباـخ تجزیه داذربایجان تر څنګ د کاراباـخ تاتـاري مسـلمانانو هم په کلکه رد کړیده ځکه چې په اذربایجان کـې دشـیعه اوسني اختلاف او دښمني په عامو خلکو کې نـه ترسـترګو کېږي.

د شوروي اتحاد پر مهال دلته کومـه سـتونزه نـه وه؛ کله چې شوروي اتحاد په افغانستان کې شکست وخـوړ او مات شو او په اذربایجان کې د ازادۍ غوښتنه پیل شوه نو دلته مېشـتو ارمنـي مسـیحیانو د ارمنسـتان سره دالحـاق لپاره تحریک پیل کړ؛ لا وړاندې پـه ۱۹۸۸م کـال کـې هـم دنګورنو کاراباخ اداري د ازادۍ یو پرېکـړه لیـک تصـویب کړ چې د اذربایجان دولت په ډېرې سختۍ رد کـړ او پـه مقابل کې یې تاتاري مسلمانان هـم راپورتـه شـول چـې لـه امله یې سخته جګړه رامنځتـه او دواړو اړخونـو تـه درنـده مرګ ژوبلـه واوښـته؛ خـو چـې د۱۹۸۹م کـال دنـومبر پـه میاشت کې روسانو مداخله وکړه او ویې ویل چـې نګورنـو کاراباـخ د اذربایجـان برخـه ده نـو دبیلتـون غوښـتنې خوځښت تر ډېره حده کمزوری شو.

په ۱۹۹۱م کال کې ارمنستان او اذربایجـان د روسـې نه ازادي واخستله؛ د ۱۹۹۱م کـال پـه نـومبر میاشـت کـې یـانې د اذربایجـان داسـتقلال نـه یـوه میاشـت پـس پـه نګورنوکاراباخ کې هم داذربایجان نه د ازادۍ اخسـتلو پـه موخه ارمنیانو خوځښت پیل؛ او د اذربایجـان نـه د ازادۍ اخستلو په موخه یې یـوه ټولپوښـتنه رامنځتـه کـړه چـې د دوئ په وینا پکې غالب اکثریت د اذربایجـان نـه دازادۍ اخستلو په حق کې خپلې رایې وکارولې.

خوتاتاري مسلمانانو د دې ټولپوښـتنې سره ېرېکـوې اعلان او دا ټول پوښتنه یې سراسر بې قانونه وګڼله.

اذربایجان دولت هم ددې ټول پوښتنې سره سـخت مخالفت ښکاره کړ او د بیلتون غوښتونکو د ځپلو لپاره یې نګورنو کاراباخ تـه فـوځ واسـتولو چـې پـه مقابـل کـې یـې ارمنستان هم د بیلتـون غوښـتونکو سره عسـکري مرسـتې وکړې او په دې سره ددواړو هېوادونو تر مـنځ جنـګ پیـل شو چې پکې د دواړو لورونه د۱۹۹۴م کـال پـورې کـابو ۳۰ زره انسانان ووژل شول.

دجنګ په جریان کې د ازادۍ اعلانونه هم وشول خو آزادي یې په بهر نړۍ کې چا ونه منله؛ په ۱۹۹۳م کال کـې دملګرو ملتونو دامنیت شورې دجنګ ودرولو هڅې وکړې خو ارمنستان له کاراباخ نه خپل فوځونـه ونـه ویسـتل؛ پـه ۱۹۹۴م کال کې د روسې او ترکې په هڅو دواړو هېوادونـو تـرمنځ دجنـګ بنـدۍ تـړون رامنځتـه او جنـګ پـای تـه ورسېدلو.

خو له دې وروسته دنګورنو کاراباخ سیمه د ارمنـي مسیحیانو او تاتـا رې مسـلمانانو تـرمنځ دسـوړ جنـګ پـه مرکز بدله شوه؛ چې ډېر کرته به د دوئ شخړې په خونړي جنګ هم بدلې شویدي؛ له دواړو لورو بـه دهسـتوګنې پـه سیمو هم حملې کېدلې چې په نتیجه کې به یې د کورونـو



ورانېدلو او نورو مالي زيانونو تر څنګ دواړو لورو ته زيات ځاني تلفات هم وراوړېدل.

په ۲۰۰۶م کال کې دکاراباخ ارمني مسيحيانو خپل اساسي قانون جوړ او دکاراباخ خپلواکي يې اعلان کړه چې همدا روسې او ارمنستان دځان لپاره پلمه کړه؛ د نګورنو کاراباخ خپلواکي يې ومنله او ورسره يې اقتصادي او عسکري مرستې پيل کړې چې لا ترننه روانې دي د ازادۍ راهيسې د مرکزي دولت او دلته د مېشتو ارمني مسيحيانو ترمنځ تاو تريخوالی شتون لري او اذربايجان وايي چې دمرکزي دولت پرضد د دوئ دخوځښتونو ترشا دغربي ګاونډي هېواد ارمنستان لاس دی چې دبيلتون خوښو سره دا مرستې اذربايجان او ترکې ته دمنلو وړ ندي نوځکه په بيلتون غوښتونکو او په حمايت کوونکو يې اذربايجان حملې کوي او ترکيه يې شاته ولاړه ده.

نګورنو کاراباخ ډېره حساسه او په عسکري لحاظ ستر اهميت لري؛ دروسيه، ترکيه، ايران، چين، امريکا او اروپا ددې سيمې سره ډېره لېوالتيا لري خوداسې نه ښکاري چې په يادو قدرتونو کې دې کوم يو دلته جنګ کې خپله ګټه ووينې نو ددې جنګ تر شا دڅا دلاس لرلو خبره به ډېره پر ځای او دقيقه نه وي؛ خو داچې ددې جنګ د دوام په صورت کې دترکې او روسې ديو بل سره دمخامخ کېدو احتمال شته نو امريکا او دلويديځ لويه برخه به شايد له زړه نه ددې جنګ ژر ودرېدل نه غواړي.

که امريکا او ټول لويديځ له زړه نه ددې جنګ بندول غوښتای نو دملګرو ملتونو اداري له لارې به يې لا ډېر دمخه بند کړای وای ځکه چې دملګرو ملتونو د اداري د رامنځته کېدو لوی هدف هم د نړيوالو ستونزو حل کول و؛ که دملګرو ملتونو اداره ددوه هېوادونو تر منځ جنګ نه شي بندولای نو بيا يې دشتون څه فايده؟

په ليبيا او شام کې لا له وړاندې ترکيه او روسيه په مخالفو سمتونو کې قرار لري اوس نګورنو کاراباخ دريم ځای دی چې روسيه دجنګ ديو او ترکيه دبل اړخ تر شا ودرېږي.

دا مهال ترکيه په کلي ډول د اذربايجان تر څنګ ولاړه ده، بل لور ته د ارمنستان تر شا ودرېدل روسيه خپله اړتيا ګڼي ځکه چې په ارمنستان کې روسيه هم فوځي اډه لري او هم دا دواړه هېوادونه د کليکټيو سيکورټي ټريټي ارګنايزيشن په نوم د فوځي اتحاد غړي دي

خو سره ددې هر څه روسيه او ترکيه ديو بل دښمن هېوادونه ندي بلکې نړيوالو ستراتېجيکو حالاتو ته په پام سره روسيه او ترکيه د يوبل اتحاديان دي.

دا هم بايد ومنو چې روسيه د ارمنستان سره فوځي مرستې کوي خو نېغ په نېغه ورسره نه ودرېږي؛ دروسې دهڅو نه هم داسې ښکاري چې د دې جنګ دوام نه غواړي نو ځکه يې دجنګ د ودرولو غوښتنه کړېده او څو ځلې يې د دواړو هېوادونو تر منځ د دريم ګړي رول ادا کړی.

که ترکيه هم په خپل دريځ کې يو څه نرمي ښکاره کړي او دواړه هېوادونه ښه په کلکه له خپلو حليفانو دجنګ ودرول وغواړي نو دا جنګ په اسانۍ بندېدلای او ستونزه حل کېدلای شي.

خو که جنګ دکاراباخ نه نورې سيمې ته وغځېږي او د جنګ په جريان کې بيا دروسې اډې ته هم کومه ګولۍ ور ورسېږي نو دا جنګ د ځنګل د اور په څېر خپرېدای شي اودروسې او ترکې ترمنځ د لوی جنګ رامنځته کېدای شي چې تاوانونه به يې دواړو هېوادونوته ډېر ستروي او دنړۍ ډېره ستره برخه به بې امنه شي.



# پروني، نونني او سباني طالبان!!

سعد کنوازی

د افغانانو له لاسه پر شوروي/ سرو لښکرو همداسي ورځي وې کومې چې نن د صليبي ښکيلاك دي او موږ يې شاهدان يو، لاسپوڅي يې هم په همدې سربدالۍ کې و چې نن د أمريکايانو هغه دي، همدغسې يې لاس او پښې وهل لکه د نن اشرفغني، طالح، سرور بې دانش، ضياع مَسوَد او... ډېر توپير نه و، يواځې په وخت او شرائطو کې يې يو څه تفاوت تر سترګو کېږي چې هغه وخت مجاهد افغانان که له معنوي اړخه بډايه، خو له مادي هغه دومره پر مختللي نه و او له أمله يې پر غليم هم دومره بده ورځ نه وه لکه نن پر أمريکايانو او تالي څټو يې.

روسان/سرې لښکرې ووتې، لکه نن چې أمريکايان او ټلواله يې وزي، دلته يې لاسپوڅي پرېښودل او هغوی هم ترې په نيابت پاتې شول، لکه نن چې أمريکايي يرغلګر هم خپل مزدور پاتې شوني پرېږدي او هغوی غواړي د شوروي نيابت او يا له کمونستانو سره لاس يو کولو پسې دا ځل د صليبي ټلوالي له وتلو وروسته هم هېواد همغو ورځو ته ور وګرځوي، خو...

د شوروي ښکېلاك په نيابت کې کمونستانو او د جهاد له ليکو ورسره يو ځای شويو د واك وږيو هغو فساد، انارشيزم، ټوپك او پاټك سالارۍ رامنځته کړې او د۱۴ کلن مقدس جهاد د ارمانونو خاوري کولو ترځنګ يې په ناروا او وحشت کې تر کمونستانو او شورويانو ور واړوله چې اوس د اتيايمو کلونو دغه سناريو زموږ په تاريخ کې يوه خونړۍ او د خپلي نوعې يواځينۍ پېښه ګڼله کېږي او بياځل ترې نور نسلونه پناه غواړي.

خو په هرې شپې پسې سهار وي، په فساد او انارشۍ پسې هم د طالبانو غورځنګ را پورته شو، په لنډه او د پېنځو کلونو موده کې يې ټغر ور ټول او هغه اسلامي نظام يې په خورا لېږو امکاناتو او نسبتاً ډېرو قربانيو واکمن کړ چې افغانانو پرې د شوروي ضد ۱۴ کلني خونړۍ جګړې په لمبو کې بلا ځاني او مالي قرباني ورکړې، په سختو شېبو او شرائطو کې له اوږد انتظا وروسته ورته سترګي پر لاره و او بيا ورته له را نږدې کېدو سره سم يې د ياد نظام او قربانيو ټولي هيلي له سترګو د تل لپاره پناه او له خاورو سره داسي ګډې، بلکې لاندې شوې وې لکه د سرو زرو کان چې بيا يې نه کوم نوم او نښان پاتې و او نه يې د ترلاسه کېدو کومه تمه وه.

طالبانو د يو غورځنګ په توګه په لېږه موده کې، پر کمو امکاناتو او د شوروي ضد قربانيو په پرتله کمو قربانيو د افغانانو د يادو هيلو کان را برسېره او اسلامي نظام يې حاکم کړ، که څه هم د شوروي پر وړاندې جهاد په اوږده موده کې، په ډېرو امکاناتو او له زياتو قربانيو وروسته هم يواځي د اسلامي نظام راتلو هيلي را پارولې وې، نور نه ورته ورسېد او نه يې پلی کړای شو.

دا ښيي چې د پخواني جهاد په ليکو کې د واك ورېيو د شتون له أمله له هرڅومره قربانيو سربېره پرمختګ نه کېده، چې وشو هم په ضمن کې يې دوی پټو ګونديزو موخو ته نږدې شول چې دا په خپله د جهاد د ناکامۍ پيلامه وه او تاريخي فاجعې يې رامنځته کړې.

برعکس طالبانو چې نه په خپلو ليکو کې کومه ګونديزه انګېزه لرله او نه د واك لوږه، نو د هغوی د خالص او پاك نيت له أمله به و چې د الله تعالی نصرت ورسره ګام پر ګام مزل واهه او پر لیږ وخت کې يې ډېر پرمختګ وکړ چې د جهاد د بريا او د هېواد پر٪۹۵سلنه خاوره د بشپړ اسلامي نظام د راتګ پيلامه شو.

دغه پرتله دا هم ښيي چې که بريالی له نږدې کېدو سره او يا له بريا وروسته د يو ملي او جهادي مقاومت مخلص او سپين زږي مجاهدين نور ځان فارغ وګڼي، خپلو شخصي کارو ته مخه او د استراحت په لټه کې شي، نو لکه هماغه د أحد غزا د ويشتونکو ټولی چې د رسول الله مبارك صلی الله عليه وسلم له وينا پرته د جبل الرماة له دفاعي مورچل څخه وخوځېدل لويه فاجعه رامنځته کوي، د شوروي ضد جهاد له بريا وروسته مدرسو او شخصي ژوند ته د مجاهدينو مخه کول هم څه همدا شاني وه، په دې مانا چې رښتوني دين دوست، وطن دوست او أهل صلاح مجاهدين په خپلو ليکو کې د پرديپالو، د قدرت او ثروت وږو او مفسدو عناصرو په کنترول کې پاتې راغلل او همدوی ته يې د قيادت واګې ور پرېښودې.

همدارنګه پر ډلو ټپلو وېشلی مقاومت چې د هغه مشرانو ته پرېښودل شي او په کې د چارو د کنترول أهل کم پاتې شي، ياد مشران پر نورو حملې پيلوي چې بيا نه خپلو ورکړو قربانيو، نه د مقاومت موخو او نه هم ملي او اسلامي ارزښتونو ته ژمن پاتې کېږي.

خو که د طالبانو په څېر قوي داعيه، موخو ته پخه ژمنتيا، د ولس غښتلی ملاتړ، تر وروستۍ ساه پوري پوخ تعهد، ټينګ يو والی او... ولري، نو که بريا ته له نږدې کېدو او يا رسېدو وروسته د کوم خارجي لامل له وجې بشپړ سقوط هم وکړي، بيا هم په هر ډول شرائطو کې پر لسبزو او پېړيو مقاومت کولای شي او نه يوازې دا بلکې خپله داعيه او د مقاومت مشروعيت، موخې او خپل ارزښتونه پر ټوله نړۍ او د هغې په لومړي سر کې پر خپل سيال لوري هم ښه پر نره منلای او مقاومت د تېر په پرتله لوړې بريا ته رسولای شي.

دغه پرتله دا حقيقت هم جوتوي چې يو ملي غورځنګ، نظام او اسلامي خلافت تر وروستۍ مرحلې خپلو ټولو اسلامي او ملي اررزښتونو او موخو ته د بشپړې ژمنتيا، هر ډول غوښتو قربانيو ورکولو او تر يواځيني مدبرانه مديريت لاندې د هغه له را ټولېدو سره بريالی کېدلای شي، که غورځنګ، نظام او خلافت په ځان کې ډلې ټپلې ولري او هغه خپلې موخې تعقيبوي، نو يووالی يې بشپړ متلاشي او هغه د حتمي او يقيني ماتې له ګواښ سره مخ وي چې جهادي غورځنګونه، اسلامپال او راتلونکي نسلونه يې بايد د پخواني جهاد او طالبانو له دا ډول پرتلې زده کړي.

بهر حال د طالبانو غورځنګ را پورته کېدل او واك ته رسېدل د اسلامي نظام د را تلو سپېده چاود و، په پورتني ترتيب اوس يو ځل بيا د تېر تاريخ مثبت لوری تکرارېدونکی دی، افغانانو له شوروي وروسته أمريکا هم د طالبانو د اسلامي ملي غورځنګ تر سيوري لاندې له هره (نظامي، سياسي، تبليغاتي او...) اړخه په ټولو پړاوونو او ستراتېژيو کې له پښو اچولې، شرائط په ټوله مانا د طالبانو په ګټه او د أمريکا لاسپوڅي هماغه د شوروي د هغو په څېر بلکې لا په مراتبو پر واوېلا سر او له بلا ګواښونو سره مخ دي.

خو منفي لوری يې نه تکرارېږي او لاملونه يې ډېر دي، عمده يې دا چې شوروي تر پايه د خپلو لاسپوڅو ملاتړ وکړ او له وتو وروسته يې د جهاد په ليکو کې هم د واك وږي ګوندپال ور اېل او بېل کړل چې ورسره پر يو مهال د أمريکا مداخله هم روانه وه. خو اوس به له يو لوري أمريکا له طالبانو سره د دوحې د تړون پر بنسټ لاسوهنه او د خپلو لاسپوڅو ملاتړ نکوي چې له أمله به يې دغه په ډلو ټپلو وېشلي لاسپوڅي له پښو غورځي، له بل لوري له دوی پرته کومه ډله نشته چې د طالبانو د

راتلو او اسلامي نظام د حاکمیت مزاحم شي، له دریم لوري بهرنۍ لاسوهني مطلقې بندېږي او په ټوله کې هغه لاملونه او شرائط اوس نشته چې د اتیایمو کلونو د سناریو ګانو منفي اړخ جوړوي، بلکې لا د طالبانو غورځنګ له سره د همدې لاملونو له منځه وړلو پسې را پورته شوی او په لیږ وخت کې یې بشپړ له منځه وړي دي او...

دا چې د طالبانو غورځنګ د اتیایمو کلونو سناریو ګانو پر وړاندې په سختو شرائطو کې ظهور کړی؛ خپله د اسیا زړه ستراتېژیك هېواد کې د یادو سناریوګانو خلاف یوه زماني ځانګړې مثبته مقطع تشکیلوي او بیا په عام نظر او یا ممکن واقیعیت کې پروني، نننی او سباني طالبان درې جلا پیرونه لري، په پروني پیر کې طالبان د یو غورځنګ په توګه په هېواد واکمن ول او د یو سوچه اسلامي نظام لپاره یې هڅې کولې چې پکې تر ډېره بریده بریالي هم و.

خو دغه پیر یې کمې خامیانې هم لرلې او هغه له دې أمله نه وې چې دغه موارد طالبانو یا د اسلام او تېرو اسلامي نظامونو او خلافتونو خلاف غوښتل او یاهم یې د خپل ځانګړي فکر او مکتب له لیدلوري د هغه له زاویې ایستلي او یاهم پکې را ځای کړي و، بلکې د طالبانو له غوره نظام جوړونې سره نابلدتیا، جګړه ییز ماحول، پر جګړه ډېر مصروفیت او ترکیز، د امکاناتو او لازمې بودجې نه لرل، د نظام په زیاتر برخو کې د وړ پرسونل نه شتون ستونزه، نړیوال بندیزونه، د هېواد له هره اړخه بشپړه ورانۍ او دېته ورته ډېر نور لاملونه یې د یادونې وړ دي.

که په دې پیر کې ټول هیواد د طالبانو تر واك لاندې راغلی او هغوی بشپړي بریا ته رسېدلي هم وای، بیاهم به یې حکومت تر پایه یادې خامیانې کمې زیاتې لرلای، د دې ترڅنګ دا وېره او اندېښنه به هم وای چې طالبانو که کورني مفسدین محوه کړل، خو پر وړاندې یې أمریکا شته او د نړۍ په مغزو کې پر افغانستان د یوې بلې أمپراطورۍ د أزمایلو سوچ شته چې طالبان د تل لپاره محوه او له منځه یوسي او دا ځکه چې هغه مهال مو هېواد له دوه لسېزو راسې د جګړو ډګر پاتې شوی و، د وروستیو څو پېړیو په اوږدو کې پکې دوه لویې أمپراطورۍ پر زنګون شوې چې أمپراطوران او شونې یې تر دې مهاله د غچ په سنجولو أخته و، د تېر جهاد پر مهال جهادي مشرانو د أمریکا د بدنیت او ارادو وړاندوینې هم کړې او تازه أمریکا هم پر افغانستان د خپلي لښکر کشۍ وخت را رسېدلی باله چې د طالبانو پر نظام یې بندیزونه لګول، په افغانستان کې د نورو هېوادو له لوري د ځیني پروژو مخنیوی یې کاوه، پلمې یې کولې او...

همدارنګه هغه وخت د طالبانو پر وړاندې له کورنیو مفسدینو سره د أمریکا او د هغې د متحدینو مرستې او ملاتړ دومره ډاګیز او بربنډ نه و لکه په را وروسته وختونو کې چې رسوا شول او ورسره طالبان هم د نورو هیوادونو پر ملاتړ تر اوسه لا تورنېږي، نو دا خیال به کېدلای چې طالبانو د نورو پر ملاتړ؟؟ یواځې کورني مفسدین چې د چا ملاتړ هم ورسره نشته؟؟ له منځه یوړل، د بهرنیو أمپراطوریو او لښکر کشیو پر وړاندې مقاومت به و نکړای شي او نتېجةً په لیږ وخت کې بیرته د طالبانو د بشپړ له منځه تللو قوي اندېښنې او وېري څخه چا انکار نشو کولای؛ لکه چې د اشغال په لومړیو کې د طالبانو بالکلیه محوه او له منځه تلو فکر خورا عام شوی هم و.

خو الله تعالی به بل څه غوښتل او هغه ښایي دا و چې د طالبانو د نظام یادې خامیانې، وېرې او اندېښنې له منځه لاړې شي او منفي اړخونه یې مثبت واوړي، طالبان د وخت په غوښتنو پوره یو رښتونی اسلامي حکومت را منځته کړي او افغانستان نور د ورکړو قربانیو په برکت په نړیواله کچه یو غښتلی او پر سیاسي واك او ځواك پوښلی حکومت ولري چې اوس طالبان د یو غوره حکومت جوړونې له ټولو پړاوونو او تر ټولو سختو شرائطو عملاً را تېر او له هره اړخه پوره او پر ځان بسیا شوي دي، والحمدلله.

له اشغال را وروسته دوهم پیر پیلېږي چې له هېواد څخه د وروستي اشغالګر پر وتو به محدود وي، د دې پیر

يوه برخه تر۱۶ کلونو پورې موده وه چې پکې په هېوادنۍ کچه ماحول ټول جګړه ييز او د طالبانو د تېر او راتلونکي نظام (پرونـي او سباني پيرونو) نښې او فعاليتونه پکې دومره څرګند او پراخ نه و، له أمله يې اوس ځيني خلك د دښمن د تبليغاتو پر أثر په دې أند دي چې طالبان نه اوس هغه پخواني طالبان دي او نه به هم بيا همغه وي.

له۲۰۱۶ زېږديز کال را وروسته چې طالبان د هېواد پر۸۰٪سلنه خاوره کنترول لري او۷٪سلنه نوره يې تر۲۰۲۰ زېږديز کال پورې جګړه ايزي نقطې وې هغه يې هم تر واك لاندې راغلې، اوس پکې پر چټکۍ د خپل تېر نظام برنامې پلې کوي او هم د راتلونکي لپاره نوې برنامې جوړوي.

په دې پير کې طالبانو تر وروستي بريده تر ټولو ستري او د هري لوړي ببي قرباني او ازمايني ورکړې چې د افغانانو د خوښـي او د هغوی په ميليونونو قربانيو راغلي يو شرعي نظام سقوط، د غورځنګ د مؤسس ملا محمدعمر مجاهد رحمه الله مړينه، د لومړي او د وهمې رتبې لوړپوړو چارواکو اسارتونه او شهادتونه، د لومړۍ درجې پوځي ماهرينو او سياسي مشرانو له منځه تلل او ياهم له صحنې وتل، د لسګونه زره جنګياليو قرباني او اسارتونه يې او د همدې پر مټ ۱۹ کاله تر يو مخيزو بنديزونو لاندې له يو قطب طاغوتي نړۍ سره خونړۍ جګړه يې هغه څه دي چې اوس پرې په تر ټولو سختو شرائطو کې د نړۍ پر کچه يو مطرح نظامي او سياسي ځواك، خلافت وژمه اسلامي نظام، مثالي يووالي، برم، بشپړي ازادۍ او خپلواکۍ ته ورګرځېدلي.

دا مهال چې د طالبانو مبارزه د رښتوني اسلامي خلافت پر بنسټونو ولاړ يو منظم اسلامي حکومت او له نړيوال رسميت څخه برخمن نظام را وستلو پر درشل ولاړه ده، ولس او نړۍ د طالبانو د سباني، درېيم او وروستي پير د راتلو شېبې شماري چې ښايي خورا ښه او له تمې لوړ مثبت ځکه وي چې د تېرو پيرونو ثمره او وروستۍ پايله ده، کابو۲۷ کاله يې د هغه لپاره خونړۍ جګړه کړې او لاهم يې له هر ډول نظامي او سياسي لارو د را تلو هڅه کوي.

که څه هم د دغه پير په اړه څه ويل له وخته مخکې دي، خو د دوهم پير وروستۍ شېبې (چې پکې د ګردي نړۍ له ملاتړه برخمن معاصر زبر ځواك بشپړه او بربنډه ماتې، د اشغال خاتمې تاريخي تړون، د بين الأفغاني مذاکراتو پيل، پکې له ټولو اړخونو د طالبانو تفوق او برلاسي، په دې وروستيو کې د طالبانو پوځي فزيکي پرمختګونه او پوځي تکتيکي او تخنيکي روزنې او مانورې هم شامل دي) د هغه يو رښتوني مثبت ځرك او اساس بللای شو، لومړنيو دوو پيرونو ته پر کتو په درېيم پير کې به طالبان د يو رښتوني اسلامي خلافت د زمام دارانو په توګه د نړۍ په کچه يو مطرح او له هره اړخه بشپړ حکومت ولري.

خو دا فکر غلط او ناسم دی چې ګني طالبان دي له پخوا بدل شوي وي، دغه بدلون د داعيې پر بدلون اړه لري، خو د طالبانو په پورتنيو دريو واړو پيرونو کې داعيه يوه وه/ده، نو له بشپړ ډاډ سر ويلای شو چې طالبان نه بدل شوي نه به بدل شي، هو! د وخت شرائط چې کوم بدلونونه خپلوي طالبان يې د هغوی په غوښتنه په ښه ډول کنترولوي چې تر اوسه د دوهم پير تر أخېري شېبو دا دی د درېيم مشر تر أمر لاندې يې هم له خپلې داعيي نوك هومره تنزل او تخطی نه ده کړې او نه پکې کوم نامطلوب تغير او توپير تر سترګو شوی.

ياد شرائط او ورسره د طالبانو ځان عيارول يوائې د پيرونو توپير رامنځته کوي، نه دا چې وويل شي طالبان رښتيا هم له پخوا بدل را بدل شوي، په پروني او نننې پيرونو کې هم د طالبانو هڅې د خپلې يوائينۍ داعيې له مخې د سباني پير لپاره وي او په دې پير کې به هم د همدغې داعيې د پلي کولو لپاره وي چې ان شاءالله بشپړ مثبت، خورا له نوښتونو ډك پير او د ټولو هيوادوالو او په عموم کې د ټولو مسلمانو ملتونو لپاره ښه زېري له ځانه سره لري... پر همدې هيله.

....په تېرېسې
....س

# غامدیت...

## د اوسني عصر لویه فتنه...

### دغامدي څو فکري تضادات:

څنګه چې په ګڼ شمیر مسایلو کې د غامدي فکري تضادات ښکاره دي، همداسې په «سنت او دین» کې یې هم دهغه فکري تضادات لیدل کېږي، دمثال په توګه: نوموړی کله «ږیره» له دین څخه بولي؛ او کله یې بیا د سنت او دین څخه خارج بولي! همدا راز نوموړی کله او دس او تیمم سنت او دین یادوي او کله بیا دواړه د سنت او دین له دایرې څخه بیرون شماري! کله د حرمینو شریفینو حرمت سنت او دین ګرځوي او کله یې د دین او سنت څخه جلا کوي. کله د هغه په اند «اشهرحرم»دین او سنت بولي او کله یې نه؛ کله د هغه په نزد طلاق سنت او دین شي، او کله یې بیا دین او سنت نه بیرون کړي، کله خنزیر، وینه، مرداره او د خدای تعالی د نوم پرته په بل نوم د ذبحه شوي څاروي حرمت دین ګڼي او کله یې د سنت او دین نه خارج بولي او عجیبه خبره داده چې هرڅل خپل تغیر اوتبدل ته په پوره قطعیت سره دین او سنت وایي او په پوره قطعیت سره دسنت او دین له اعزاز څخه محروموي.

غامدي په ۱۹۹۱ زکې ولیکل چې ږیره سنت ده، هغه پخپل یولیک کې ښاغلي شیرمحمد صیب ته ولیکل:

داچې د رجم معامله د دوهم ډول سره تعلق لري په همدې وجه ما پرې بحث کړی دی او دعامه رایې منلو څخه مې انکار کړی دی، کنه ږیره، ختنه، او په داسې نورڅیزونو کې سنت مستقل بالذات د شارع په منلو سره په دین کې شامل ګڼم (جاوید غامدي، دشیرمحمد اختر په نوم لیک، اشراق، مجله، جون ۱۹۹۱ ص مخ)

دهغه وروسته په ۱۹۹۸ کې یې چې کله د څلویښت څیزونو په اړه یو فهرست خپور کړ او په هغه کې یې راوړي څیزونه سنت وګرځول، هلته یې «ږیره» په سنت کې نده شمار کړې اوهغه یې د سنت له فهرست نه ویستلې ده، نوموړي لیکلي:

سنت نه مراد دابراهیمي دین هغه روایت دي، کوم چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دتجدید او اصلاح وروسته او د ځینو زیاتونو سره یو ځای پخپلو منونکو کې د دین په حیثیت جاري کړي دي او دهغو له لارې چې کوم دین موږ ته رسیدلی دی هغه دادي:

۱ـ دالله دنوم په اخیستو سره په ښي لاس سره خواړه خوړل۲ - دملاقات پر مهال السلام علیکم ویل او ځواب یي ۳ـ دپرنجي راتلو پر مهال «الحمد الله» او ځواب یې «یرحمک الله» ویل۴ـ دنوي زیږیدلي ماشوم ښي غوږکې اذان، اوپه ګڅ کې یې اقامت، ۵ـ د الله دنوم په اخیستو دڅارویو تذکیه، ۶ـ نکاح ۷ـ د نکاح خطبه ۸ بریتونه لنډول۹ـ دنامه لاندې ویښتان لري کول۱۰ تخرګیو نه ویښتان لري کول ۱۱ نارینه سنتول ۱۲ اوږده

نوکان پریکول۱۳ـ دپوزې، خولې، او غاښونو صفايي، ۱۴ ـ استنجا، ۱۵ـ دجنابت غسل. ۱۶ـ دمړي غسل۱۷ـ تجهيز و تکفين۱۸ـ تدفين۱۹ ـ اودس، ۲۰ـ تيمم۲۱ـ اذان، ۲۲ـ اقامت ۲۳ـ دلمانځه لپاره مساجد جوړول، ۲۴ـ په شپه ورځ کې پنځه لمونځونه ۲۵ ـ جمعي لمونځ، ۲۶ـ اخترونو لمونځونه، ۲۷ د جنازې لمونځ، ۲۸ ـ روژه، ۲۹ـ اعتکاف ۳۰ ـ کوچنی اختر۳۱ـ دکوچني اخترصدقه ۳۲ ـ زکات، ۳۳ ـ هديه۳۴ـ طواف، ۳۵ دحرمينو شريفينو حرمت۳۶ ـ اشهرحرام۳۷ـ حج وعمره ۳۸ ـ عيد الاضحی ۳۹ـ قرباني ۴۰ دتشريق تکبيرونه.

وړاندې وايي: سنت دادي، او دابلکل قطعي دي دثبوت په اعتبار سره، په دې او قرآن مجيد کې توپير نشته، ځنګه چې هغه دصحابه وو په اجماع او قولي تواتر سره راغلی دی هم داسې دا د هغوی په اجماع او تواتر سره راغلي دي او قران پشان هر دورکې دامت داجماع نه ثابت شوي دي (ماهنامه اشراق، می ۱۹۹۸ ۳۵مخ)

وروسته په ۲۰۰۲ زکې يې دين د څلويښت سنتو پر ځای په ۲۷ کې ځای کړ، او يو نوی ايډيشن يې خپور کړ:

دسنتو د نوي لړليک په خپرولو سره يې وليکل:

سنت نه مراد دابراهيمي دين هغه روايات دي کوم چې رسول الله صلی الله عليه وسلم دتجديد او اصلاح وروسته او دنويو زياتونو سره يوځای پخپلو منونکو کې ددين په توګه جاري کړي دي:

۱ـ د الله د نوم په اخيستو په ښي لاس سره خواړه خوړل۲ - دملاقات پر مهال السلام عليکم ويل او ځواب ۳ـ دپرنجي راتلو پر مهال «الحمد الله» او ځواب کې يې «يرحمک الله» ويل۴ـ دنوي زيږيدلي ماشوم په ښي غوږکې اذان، اوپه ګڅ کې اقامت، ۵ـ بريتونه لنډول۶ـ دنامه لاندې ويښتان لري کول ۷ـ تخرګيو نه ويښتان لري کول ۸ـ نارينه سنتول ۹ـ نوکان پرېکول۱۰ـ دپوزې، خولې اوغاښونو صفايي کول ۱۱ـ استنجا ۱۲ ـ حيض ونفاس کې دميرمنې او خاوند لپاره د اړيکو څخه اجتناب۱۳ـ دحيض ونفاس وروسته غسل کول، ۱۴ دجنابت وروسته غسل۱۵ ـ دمړي غسل، ۱۶ تجهيز و

تکفين ۱۷ـ تدفين، کوچنی اختر، ۱۹لوی اختر، ۲۰ـ دالله په نوم اخيستو سره دڅارويو تذکيه، ۲۱ ـ نکاح و طلاق او دهغو متعلقات۲۲ـ زکات او دهغه اړوندمسايل، ۲۳ـ لمونځ او دهغه متعلقات ۲۴ـ روژه او دکوچني اختر صدقه ۲۵ـ اعتکاف ۲۶ـ قرباني ۲۷ ـ حج وعمره او متعلقات يې.

سنت همدادي او دا بلکل قطعي دي دثبوت په اعتبار زکه ددې څيزونو او قران مجيد ترمنځ توپير نشته (ميزان ۱۰مخ، دوهم چاپ اپريل۲۰۰۲ز)

دسنت په پورتني ترميم شوي لړليک نظر واچوئ! نو صفا ښکاري چې دمعمول سره سم «ږيره» پکې ځای نلري او پر دې علاوه نور ۱۳ امور يې هم دسنتيت نه خارج کړي دي چې په هغو کې اودس، تيمم، دحرمينو شريفينو حرمت، هديه، طلاق، اشهر حرم، اختر لمونځونه، جنازې لمونځ، دجمعي لمونځ، د مسجدونو جوړولو اهتمام او نور.

بيا د دې وروسته غامدي په بل اړخ واو ښت ۲۰۰۵ زکې يې يوبل ترميم شوی لړليک خپور کړ اوپه هغه کې يې دا وليکل:

سنت نه مراد د ابراهيمي دين هغه روايت دي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم دهغې دتجديد و اصلاح کولو وروسته د ځينو زياتونو سره يوځای پخپلو پيروانو کې د دين په حيثيت جاري کړي دي، د دې زريعې له لارې چې کوم دين موږ ته رسيدلی دی هغه دادی:

**عبادات:**

۱ـ لمونځ۲ـ زکات او دکوچني اخترصدقه، ۳ـ روژه او اعتکاف ۴ـ حج وعمره ۵ـ قرباني او دتشريق تکبيرونه.

**معاشرت:** ۱ـ نکاح و طلاق او متعلقات يې ۲ـ حيض ونفاس دميرمنې او خاوند لپاره دخپلمنځي اړيکو نه اجتناب.

**خوراک وڅښاک:**

خنزیر، وینه، مرداره، او دخدای تعالی نه سیوا دبل چا په نوم د ذبح کړي څاروي حرمت، ۲. دالله تعالی په نوم دڅارویو تذکیه.

**رسوم واداب:**

۱ـ دالله تعالی په نوم اخیستو اوپه ښي لاس خوراک و څښکاک کول۲ـ دملاقات په موقع السلام علیکم ویل او ځواب ۳. دپرنجي راتلو سره الحمد الله ویل، ځواب کې یې یرحمک الله ویل۴ـ دنوي زیږیدلي ماشوم په ښي غوږ کې اذان، اوپه چپ کې اقامت۵ـ بریتونه لنډول، ۶ـ دنامه لاندې ویښتان لري کول۷ـ تخرګیو ویښتان صفا کول۸ـ اوږده نوکان قطع کول، ۹ـ نارینه ماشومان سنتول ۱۰ـ دپوزې، خولې، اوغاښونو صفايي کول، ۱۱ـ استنجا۱۲ـ حیض ونفاس وروسته غسل کول۱۳. دجنابت وروسته غسل۱۴. مړي ته غسل ۱۵. تجهیز و تکفین ۱۶. تدفین، کوچنی اختر۱۸ـ لوی اختر.

سنت دادي او د دې په باره کې دا قطعي ده چې دثبوت په اعتبار د دې او عظیم الشان قرآن ترمنځ توپیرنشته (اصول ومبادي ۱۰ - ۱۱مخ، فروري ۲۰۰۵ ز)

اوس موږ چې دسنت په نورو ترمیم شویو فهرستونو نظر اچوو نو راته داتوپیر ضرور په نظر راځي چې:

دخوراک اوڅښکاک عنوان لاندې خنزیر، وینه، مرداره او دخدای دنوم نه سیوا دبل چا په نوم ذبحه کړي څاروي حرمت لاندې یو نوی سنت زیات کړی دی خو دسنتو د (۲۷) شمیرپر ځای ساتلو لپاره یې دا ترتیب غوره کړی دی چې اعتکاف چې خپله یو جلا سنت دی هغه یې روژې سره یوځای کړی دی څو په شمارلو کې میزانیه پوره راووزي او دکوم ممکنه اعتراض نه ځان وژغوري.

۳ـ په دوهم ترمیم شوي فهرست کې روژه او دفطر صدقه یو سنت شمارل شوي وو، په دریم ترمیم شوي فهرست کې زکات یې دسنت سره (فطر صدقې) په یوځای کولو دوه سنته ی یو شمارلي.

۴ـ په دوهم ترمیم کړي فهرست کې یې دلمانځه سنتو سره دهغه متعلقات هم ګډ کړي دي مګر دریم ترمیم کړي فهرست کې دلمانځه دسنتو نه دهغه متعلقات غایب کړي دي

۵ـ په دوهم ترمیم کړي فهرست کې د حج وعمرې ستنو سره دهغو متعلقات هم ګډ کړي دي، خو په دریم ترمیم کړي فهرست کې یې دحج وعمرې متعلقات حذف کړي دي.

۶ـ په دویم ترمیم کړي فهرست کې یې اعتکاف یو مستقل سنت ګرځولی خو په دریم ترمیم کړي فهرست کې یې روژې سره یوځای کړی دی روژه او سنت یې یو سنت یاد کړي دي ګواکي اوس یې اعتکاف نیم سنت ګرځولی دی، کوم چې په وړاندیني فهرست کې پوره سنت و.

۷ـ دوهم ترمیم کړي فهرست کې قرباني یو مستقل او جلا سنت وه، خو په دریم ترمیم کړي فهرست کې یې دهغې سره « دتشریق تکبیرونه» ګډ کړي دي او یو سنت یې ګرځولي دي.

دیادونې وړده چې دتشریق تکبیرونه د۱۹۹۸ زکال په فهرست کې هم وو، کوم چې داپریل ۲۰۰۲ زکال په فهرست کې یې خارج کړي دي اوبیا د۲۰۰۵ زکال په فهرست کې یې دوهم ځل بیرته شامل کړي دي،

ددې ټول تفصیل نه غرض دادی چې غامدي دسنت او دین څخه «بازیچه اطفال» جوړه کړې ده، چې هروخت پکې د خپلې خوښې او تبې سره برابر تغیرات راولي او په دې سره عامو خلکوته دا ذهنیت ورکوي چې معاذ الله او س هم د دین اوسنت په احکامو کې تغیرات رامنځته کیدای شي، بله داچې دنوموړي لخوا د شریعت سازي په نتیجه کې د هغه په فکر کې ښکاره تضادات دي او جوتوي چې موصوف ډیرو متضادو افکارو او عقایدو ښکار دی او هیڅ کله په یو سهي دریځ او مسیر روان ندی

نوربیا...



■ مولوي محبوب شاه ساجد

# غرب ولې د مسلمانانو د مقدساتو سپکاوی کوي؟

مخکې تر دې چې دغه علت معلوم کړو باید یوه بله اصطلاح وپېژنو چې هغه ته اسلام فوبیا وايي.

اسلام فوبیا څه ته وايي او د څه دپاره؟

فوبیاphobia لاتیني کلیمه ده چې د اسلام په هکله په غربي ژبو کې د ویرې او نفرت اچوني په معنا استعمال سوې ده، دا کلیمه چې د اسلام دنوم سره یو ځای سی (اسلام + فوبیا) نو معنی یې د اسلام پر خلاف کرکه، نفرت پیدا کول دي، په داسې طریقه چې د خلګو په زړونو کې د اسلام او مسلمانانو څخه نفرت او ویره پیدا سي.

**د اسلام فوبیا تاریخ:**

د اسلام فوبیا کلیمه خو معاصره اصطلاح ده چې د اسلام دښمنانو د اسلام خلاف ایجاد کړې ده، مګر په اصل کې د اسلام او مسلمانانو خلاف حسد، کینه، تبعیض او نفرت خپرول د رسول الله صلی الله علیه وسلم د بعثت سره هم محاله پیل سوي ده، کوم وخت چې د مکې مشرکینو د رسوالله صلی الله علیه وسلم خلاف زهرجن تبلیغات کول چې ټول تفصیلات یې په نبوي سیرت کې موجود دي بیا چې هر کله د حضرت عمر فارون رضی الله عنه په زمانه کې اسلامي فتوحات پراخ سول او د نورو ځاینو تر څنګ شام او فلسطین هم فتحه سول کوم چې د یهودیانو او نصرانیانو مرکزونه وه، دلته نو دداسلام او مسلمانانو خلاف مختلف پروپاګند د حقیقت څخه لیرې زهرجن تبلیغات پیل سول، همدارنګه د قسطنطنیې د فتحې وروسته او بیا د صلیبي جګړو په جریان کې اروپایي مسیحیانو اور واخیست ددې دپاره چې خلګ صلیبي جګړو ته وهڅوي او د جګړې روحیه ورکړي، نو د اسلام، د اسلام د پیغمبر او قرآن خلاف یې خورا کرکجن تبلیغات وکړل.

ددې څخه وروسته بیا د مستشرقینو نوبت سو او په خپل وار یې د اسلام خلاف خورا خطر ناکې او کرکجنې لیکنې وکړې، ځکه غربیانو په صلیبي او نورو جګړو کې د پر له پسې ماتو وروسته د استشراق پدیده د همدې دپاره رامنځته کړه تر څو مستشرقین یو ځل اسلامي علوم ولولي او بیا مسلمانان او نړیوال د اسلام د دین، پیغمبر او قرآن په هکله شکمن کړي.

مشهوره لیکواله مسیحي راهبه (کرن آرم سټرانګ) وايي: چې د اسلام فوبیا تاریخ د صلبيي جګړو سره قوي تړاوو لري همدارنګه د اتریش مشهور مفکر او لیکوال (لیو بولډ فایس) یهودي چې بیا وروسته مسلمان سو او نوم یې محمد اسد دی په خپل

کتاب (الاسلام علی متفرق الطرق) کي وايي: د اسلام او مسلمانانو خلاف د اروپا کرکه خورا ژوري ريښې لري چي په شديد او قوي تعصب مبني دی اروپا اصلا د صليبی جګړي د نس څخه را ټوکيدلی ده او بيا دغه کينه، تعصب او نفرت امريکا په ميراث تللي دي چي د تاريخ پاڼي ورباندی ګواه دي او بيا همدي موضوع ته (ديو جن روستو) د امريکا د خارجه وزارت د پلان رئيس او د ۱۹۶۷ کال پوري د وخت وولسمشر (ليندون جنسون) د منځني ختيځ د چارو مشاور اشاره کړې ده او وايي: امريکا د خپلی فلسفي، عقيدې او نظام سره د غربی نړۍ بنسټ‌پرونکي برخه ده، نو ځکه د اسلام په مقابل کي ولاړه ده، امريکا د غربی نړۍ او صهيونيستي رژيم سره په کلکه د دريدو پخاطر نسي کولای چي د اسلامي نړي سره دښمني پريږدي.

نو د اسلام فوبيا دغه او نوري طريقي د تاريخ په اوږدو کي په مختلفو بڼو موجود سوي دي چي د اسلام دښمنانو او په خاص ډول غربيانو ورته کار کړي او اسلام يې تخريب کړي دي خو د اسلام فوبيا اصطلاح معاصره اصطلاح ده چي په شلمه پيړۍ کي د غربيانو په ادبياتو او ليکنو کي کارول سوي ده کوم چي د بلجيم يو مستشرق (هينری لامنس) د رسول الله صلی الله عليه وسلم په هکله په ليکل سوي کتاب کي کارولی ده همدارنګه ۱۹۲۱ کال کي يو فرانسوي مستشرق (اتين دينه) په خپل کتاب شرق او غرب کي دغه اصطلاح کارولي ده.



ويليام ګلادسون چي څلور ځله د انګلستان صدر اعظم پاته سوي دي وايي: تر څو چي قرآن په خپلی اصلي بڼه د مسلمانانو په منځ کي موجود وي او د دوي ورسره رابطه وي، نو هيڅکله به غرب ونه توانيږي چي پر اسلامي نړۍ باندی تسلط پيدا کړي.

خو په شلمه پيړۍ کي غربيانو د اسلام خلاف د اسلام فوبيا يوه تنده څپه را منځته کړه چي لاندی پړاوونه لري:

۱- هر کله چي اتحاد جماهير شوري په افغانستان په کال ۱۹۸۹ کي ماتي وخوړل او کمونيستي بلاک له منځه ولاړ، نو غرب خپل بل حريف اسلام معرفي کړ.

سمويل هنتنګتونګ په کال ۱۹۹۳ کی د تمدنونو د ټکر په نوم کتاب وليکي چي په هغه کتاب کي يي اسلام د غرب دپاره خطرناک دښمن معرفې کړ او امريکا ته يی وړانديز وکړ چي د اسلام مخه بايد ونيسي.

۲- د سيپټمبر د ۱۱ مي ډراما تيکه پيښه د غرب دپاره بهانه سول، تر څو د اسلام خلاف د ترهګرۍ تر عنوان لاندي جګړه پيل کړي ددې حادثي وروسته د امريکا وولسمشر بوش اعلان وکړ چي صليبی جګړه د سره پيل سوه

د غرب يو وتلي مفکر فوکوياما (د تاريخ پای) د کتاب مولف په خپله يو مصاحبه کي وويل چي اسلام يوازني فرهنګ او تمدن دي چي د غربي ماډرنيزم په مقابل کي يو ستر چلنج دي ددي وروسته په ناروي کي د رسول الله صلی الله عليه وسلم کاريکاتور جوړ سو

او د قرآن کریم سپکاوی وسو ور پسي په فرانسه کي د چارلي هیبدو مجلي د بیان د آزادۍ تر عنوان لاندی یو توهین آمیزه کارتون نشر کړ غربي رسنۍ د اسلام خلاف په زهر جنو تبلیغاتو کی مهم رول لري مثلا: د انګلستان رسنۍ په هره میاشت کي په اوسط ډول ۲۵۰۰ لیکنی د اسلام په هکله کوي تر څو د نړۍ خلګو ته د اسلام چهره کرکجنه ښکاره کړي همدا راز د هالیوډ د سینما له لاری هڅه کوي چي مسلمانان ترهګر وښیی او کار تر اوسه هم دوام لري د فرانسي اوسني اقدامات.

**غرب ولي تکرارا د اسلامي مقدساتو سپکاوي کوي؛**

۱- لکه مخکی چي مو وویل غربیان اوس هم صلیبی روحیه لري مخکي یی اسلام د تحریف سوي، منسوخ کلیسایی دین ته دګواښ پخاطر دا کارونه کول خو په معاصر وخت کي چي غرب د مختلفو مراحلو د تیریدو وروسته د الحاد، سیکولیزم او لیبرالیزم په ډنډ کي لاهو سوي دي او یوازي یو مادي تهذیب پاته سوي دي، نو د غرب دین او خدای تقریبا اوس هیومانیزم انسان پالنه او ساینس دي، په غرب کی اوس خدای محوري په انسان محوري بدله سوي ده، غرب اوس د ساینس تر څنګ انسان په خدایی نیولي دي خو ددي فکر خلاف په اسلام کي د کایناتو محور د الله تعالی ستر ذات دي چي د ټولو مخلوقاتو خالق او معبود دي، انسان یی د خپل عبادت دپاره پیدا کړي دي او د ژوند د تیرولو دپاره یی احکام او قوانین ورته را لیږلی دی چی د هغو مطابق به ژوند کوي او الهی حدود به مراعتوی خپلسری به نه کوي، حال دا چي غربی انسان ته دغه تصور د منلو نه دي، نو پدی لحاظ غرب د اسلام سره دښمنی کوي.

۲- دوهم دا چي اسلام د نورو ادیانو خلاف یو کامل او شامل دین دي او د ژوند دپاره یو مکمله برنامه لري هغه که سیاست دي، که اقتصاد او نور چي



په دغه لحاظ غرب اسلام او اسلام تمدن د ځان ستر حریف او د غربی استعماری ګټو ته ستر ګواښ ګڼي، ځکه خو هڅه کوي چي په غرب کي دداسلام چهره ناوړه وتراشي او خلګ ور څخه متنفر کړي، غرب هڅه کوي چي اسلام دی هم د غرب همدغه مادي تهذیب ته لکه نور ادیان سر ټیټ کړي سیکولیزم، لیبرالیزم، هیمونیزم، کپیټالیزم، همجنسبازی، سود او نور مسایل ومنی لکه څو ورځي وړاندی چی د کاتولیکی کلیسا مشر پاپ فرانسیس همجنسبازی تأیید کړل، او یا دی په اسلام کی د دوی په خوښه بدلون راسي هغه کار چي د امریکایی اداری (رانډ کارپریشن) پیل کړي دي.

۳- په اروپا کي اسلام په ډیر سرعت سره پر مخ ځي او د هري ورځي په تیریدو سره خلګ د اسلام په دین مشرف کیږي او هلته خلګ د وچ مادی ژوند څخه روحا او رونا سخت په تنګ راغلی دي، نو د اسلام دغه په سرعت سره انتشار هم غربیان وراخطا کړي، چي ځیني وختونه ددې دپاره د مقدساتو سپکاوی وکړي تر څو هلته مسلمانان احساساتی کړني وکړي او دوی ته د مسلمانانو خلاف بهانه په لاس ورسي او پر مسلمانانو بندیزونه ولګوي تر څو د اسلام د انتشار مخه ونیسی او یا په ځینو اسلامي هیوادونو کی د مداخلي دپاره بهانه پیدا کړي.



# دسوداګرۍ او اقتصادي ودې په اړه

## د اسلامي حکومت واکونه اومسؤلیتونه

م: ش: منصور

## داسلام داقتصادي نظام راتلونکی!

اسلامي رویه داده چې هرفرد یا وګړی دي پخپله دسود، قمار او نورو محرماتو څخه د اجتناب کوښښ وکړي، او پر کومو ځایونو کې چې دافرادو لپاره په انفرادي توګه ځانونه ساتل مشکل وي، هلته د وخت د حکومت دنده ده چې هغه خپل مسؤلیتونه اداء کړي، دا داسې ده لکه یوشخص چې ټول عمر لمونځ نکوي او عذر دا وړاندې کړي چې« دوخت حکومت د اقامت صلاة نظام» نه جوړوي، په دې وجه د لمونځ نشي- اداء کولی،یا لکه یوسړی ټول عمر زکات نه ورکوي او دا عذر وړاندې کوي چې « ولې دوخت حکومت زکات اداء کولو لپاره نظام نه جوړوي» نو څنګ چې دغه ډول عذرونه د منلو وړندی په ورته توګه د اسلامي معیشت او اقتصاد په برخه کې هم په اسلامي احکامو باندې د عمل نه کولو لپاره دغه ډول عذرونه دمنلو وړندی چې «د وخت حکومت دسود، قمار اونورو محرماتونه د منع کیدو» نظام نه جوړوي، نو ز که یې دی هم نه پریږدي.

تردې مهاله پخپله اسلامي نړۍ کې د ډیرو خلکو رایه داده چې نن سبا د اسلام په مالي او معاشي نظام باندې عمل کول ناشونی دی(معاذالله) نو علماء مسؤلیت لري چې هغوی دا ثابته کړي اوپه ځینو په معاملاتو کې هغوی (علماوو) ثابته کړې هم ده چې د نړۍ ډیرو هیوادونو منلې هم ده چې هغوی ته د اسلامي د مالي نظام احکام قبول دي، خو دا کار د ټول اقتصادي ومالي نظام په لړکې پکاردی، زکه د نړۍ په مختلفو اسلامي هیوادونو کې داسې مؤثر خلک شته چې لا تراوسه په دې باره کې دهغوی زړونه پوره صاف شوي ندي، چې ایا ربښتیا هم په موجوده دور کې د اسلامي شریعت ټول احکام دعمل وړدي؟ دځیني جزایې احکامو نه ډار لری، ځینوته په شخصي قوانینو باندې عمل ګران ښکاري، دځینو په اند: په د ستوري اوحقوقي لارښوونو عمل ګران دی( معاذ الله) او د ځینو په اند: د جهاد او جنګ په احکامو ورته عمل کول سخت دی، همدا کیفیت دمالي او اقتصادي احکامو په باره کې هم شته دی، نود دې تیروتنې اوغلط فهمۍ تردید او داړو نده خلکو ذهن سازي ضرور ده، څو داونشي ترهغه وخته د مغرب د مستعمرانه استحصالي او ظالمانه نظام نه نجات مندل ممکن ندی، په نړۍ کې چې نن کوم نظام رایج دی هغه د مغربي مستعمرانه او استحصالي نظام باقیات دي او هم هغه نتایج یې راوزي کوم چې دوه سوه مخکې وو.

دعلماوو او کارپوهانو په نظر: د اسلامي مالي نظام د نفا ذ لپاره چې د کومو معاملاتو خصوصي مطالعه پکار ده، یا دکومو په فني تدوین او علمي تشکیل چې علماء ټینګار لري، هغو کې ترټولو اهمه مسئله د «بانکداری او تکافل ده» چې د دواړو په اړه خاص علمي کارهم شوی دی، لیکن

په هغو موضوعاتو تراوسه کار پاتي دی، لکه« د سود پرته معاشي نظام په اړه تجربه، ناقدانه علمي مطالعه،مضاربه باندې دعمل کولو کیفیت،د زکات او اوقافو داقتصادي اهمیت تجربه او مطالعه» شوه چې تراوسه وربانديې په هغسې فني انداز کار ندی شوی کوم چې په نوي دور کې د ادارو د فعالیت اومؤثریت لپاره ضروري دی، اگرکه داسلامي معاشي نظام د تشکیل او تدوین په باب کار له تیرو سل کلو ر اهیسې دوام لري او پکې دپام وړ پرمختگ هم راغلی دی خوبیا هم ډیر څه نور کول پاته دي، او کوم څه نورکول چې پاته دي هغه ډیراسان هم ندي،کاريې ډیر مشکل اوستونزمن دی، چې په بصیرت سره اجتماعي زیار غواړي.

د مغرب اقتصادي نظام د څوسوه کاله پرلپسې علمي اوفکري کوښښونو زیږنده دی، په کوم کې چې دامریکا او اروپا د ډیرو لویو،لویو واکمنو پر گډون سربیره دلویو، لویو پوهنتونو اوعلمي او تحقیقي ادارو برخه اخیستې ، په زرگونو بلکې په لکونو اقتصادي ادارو چې کومې تجربې په تیرو څلور سوه کلونو کې کړې وې، دهغو ټولو د ژورې فني مطالعې وروسته یې د هغو نه نتایج مستنبط کړل،هغه یې مرتب کړل، بیا یې هغه (نتایج) د دوهم ځل لپاره په علمي تجرباتو باندې منطبق کړل، د دغسې پرلپسې هڅو اوزیار په نتیجه کې نوی مغربي معشیت مرتب شو.

هر چې اسلامي معیشت دی پکې په یو وخت سره دوه اړخونه شتون لري، ترکومه ځایه چې نظریاتي او معیاراتي اړخ پورې اړه لري هغه متفق علیه دی، طی کړای شوی دی، په قران کریم او سنت کې او د اسلامي فقهاوو په پراخو علمي څیړنو کې هغه بشپړ شتون لري خو ترکومه ځایه چې دهغه د عملی اوتجربوي نتیجو تعلق دی دهغو لپاره داوسني دور تجربوي قواعد و استدلال، د ننیو اسالیبو او وسائلو دغوره کولو اړتیا ده او دا هغه مهال کیدای شي چې کله دغه تجربوي تحقیق د اوقافو په باره کې هم وکړای شي او د حج پشان د ډ یرمهم فرض اداء کولو په اړه هم، لکه د ملیزیا د«تبونگ حاجي» په نوم مشهوره اداره چې وربانديې یوځه کار شوی دی او هلته یې یوڅه مثبت نتایج هم ښکاره شوي دي، اوس دهغو نه نورو اسلامي هیوادونوته گټه پورته کول پکاردي، دا چې نور هیوادونه په څه ډول خپل نظام تشکیلولی شي؟ دا هغه معاملات دي چې دخالصو تجربوي حقایقو او معلوماتو سره تعلق لري.

او دا کار هغه مهال کیدای شي چې کله داسې «اهل علم» موجود وي، چې هغوی د دې ټول کار کولو لپاره علمي او تجربوي اهلیت ولري یعنې څو چې داسې خلک موجود شوي نه وي چې هغوی داسلامي فقهې په ذخایرو باندې د مجتهدانه بصیرت لرلو ترڅنگ د مغرب معاشي نظام په ناقدانه توگه واقف نه وي، ترهغه پورې به داټول کار د تکمیل لپاره منتظر پاته وي.

دځینو علماوو په اند: اوس مهال اسلامي نړۍ د یوې اضطراري دورې یا حالت نه تیریږي. په دې حالت کې ځیني داسې کارونه هم برداشتولی شي کوم چې په ظاهره حیله معلومیږي. زکه دهغو نه پرته وړاندې پرمختگ ناشونی وي، په دې مرحله کې به یوشمیر داسې طریقې هم زغملی شي چې فی الحال دهغو په اړه اسلامي متبادل شتون ونلري او نه به د هغونه د سوداگرو اومعاشي چارو تنظیموونکو لپاره صرف نظر کیدل شونې وي،لکه نن سبا ترډیره تجارت دنامسلمانو په کنترول کې دی، د هغوی گڼ معاملات دشریعت سره سمون نلري، او د گڼ شمیر اسلامي هیوادونو خارجي تجارت هم د نامسلمانو سره روان دی، په دې لړکې داسپیناوی هم اړین دی، چې نړیوال تجارت کې د مسلمانانو برخه یواځې ۸ سلنه ده هغه هم هغه چې د اسلامي هیوادونو ترمنځ دی او ۹۲ سلنه هغه دی،کوم چې د اسلامي هیوادونو اوغیر اسلامي هیوادونو ترمنځ دی،گڼو اسلامي هیوادونو اونورو هیوادونو دهغوی د اثر لاندې نړیوالو مالي ادارونه لوی، لوی پورونه اخیستې دي، او دهغو پورونو په عوض کې یې خپلې گرانبیه شتمنی هغوی سره رهن اینښي دي، د زیاتو اسلامي هیوادونو گرانبیه شتمنۍ دغیر اسلامی هیوادونوسره رهن کړای شوي دي اوس داهرڅه د قلم په یوجنبش سره منسوخ او لغوه کول اسان ندي، په اسلامي نړۍ کې داسې هیوادونه هم شته دي چې



هغوی خپلې ټولې شتمنۍ هم وپلوري بیا به هم بهرني پورونه اداء نکړای شي نو دا علماء په «اضطراري حالت» سره تعبیروي، او د اضطرار احکامو ته په کتو د زغم یا برداشت سپارښتنه کوي.

د اسلامي معاشي نظام په لړکې دا هم ضروري ده چې «فقه مالیات او فقه معاملات» په نوې بڼه او نوې اندازسره تدریس ته پاملرنه وکړای شي، دا پیل دپوهنتونو او دیني مدارسو دواړوڅخه کیدای شي بلکې په هرهغه تعلیمي مرکزکې یې تدریس پکار دی چیرته چې په یو نه یو اعتبار د فقهې یا معاشیاتوزده کړې کېږي، په خاصه توګه د ديني علومو ادارو او شعبو لپاره داضروري ده چې هغوی د مالیاتو فقې او د معاملاتوفقې په نوې میتود باندې د تدریس لپاره چارې تنظیم کړي،بانګداری، اقتصادیاتو، سوداګرۍ اوپه نورو برخو کې یې هم په نوي عصري میتود د تدریس زمینه برابرول پکاردي، څو دهغو نه فارغیدو نکې ښاغلي! دشریعت نه په پوره توګه اګاه وي او بیا د خپل ماهرانه مسلکي واقفیت د شریعت احکامو سره هم آهنګ کړای شي.

دعلماوو په اند: داضروري نده چې د اسلام معاشي نظام د نفاذ لپاره چې کومه خاکه یا نقشه په سعودي عربستان کې جوړه کړای شي، هغه دي د خپلو ټولو تفصیلاتو او جزیاتو سره افغانستان ته هم راوړای شي یواځې په کلیاتو او اساساتوکې اتفاق ضروري دی په تفصیلاتو کې اتفاق ته اړتیا نشته.

بل د یو اسلامي هیواد لپاره د اقتصادي او معاشي لومړیتوبونو تعین هم ضروري دی، زکه چې کله معاشي یا اقتصادي اولیات تعین او په ګوته کړای شي بیا هغوته په کتو سره د «سود اسلامي متبادلات او متقاربات تیارول به نسبتاً اسان کاروي» دبهرنیو هیوادونو څخه ازادي ترلاسه کول نه یواځې ضروري ده، بلکې د« خود کفالتي» لاسته راوړل د معاشي خپلواکۍ لپاره اساس دی، هرکله چې « دخود کفالتي» ترلاسه کول د پالیسۍ په توګه تعین نکړای شي ترهغه پورې دا هدف ترلاسه کیدای نشي.

داسلامي هیوادونو ترمنځ د خپلمنځي سوداګرۍ زیاتول هم د اسلامي اقتصادیاتو سره ژورتعلق لري، که هغه اسلامي هیوادونه چې هغوی د اسلامي معشیت په لړ کې پرمختیاوې کوي یایې کول غواړي یا یې د کولو علمبرداران وي، که د هغوی ترمنځ خپلمنځي تجارت دومره زیات اوپراخ کړای شي چې هغوی د یو بل داړتیاوو تکمیل وکړای شي نو په دې سره به اسلامي وحدت ته هم زیاته فایده ورسي او هم به د اسلامي اقتصاد په برخه کې ښه پرمختګ راشي او هم به د یوبل د تجربوڅخه استفاده کول اسان شي

اوس داچې د اسلامي اقتصاد او سوداګرۍ د ودې معیارونه څه دي؟ نښې یې څه دي؟ د دې فن دماهرینو علماوو په نظر هغه دا لاندې څو اموردي دي:

۱ـ د دولت پراخ ویش ۲ـ کوچني او کورني صنعتونه تقویه کول

۳ـ دمشارکه او مضاربه اویا د هغوی په تصویرباندې دنویو جوړشویو طریقو دود ولو ته پاملرنه!

۴ـ سوداګرۍ ته پراختیا ورکول.

۵ ـ په صنعتي ترقۍ کې ښکاره زیاتوالی او پرلپسې زیاتوالی.

٦ـ د ټولنې نادارو طبقوته د استفادې چانسونه زیات برابرول

۷ـ د سودي معیشت مخنیوی کول

۸ـ په اسلامي معیشت کې دلګول شوې پانګې زیاتوالي ته پاملرنه

۹ـ په ارتکاز کې کمی راوستل

نوربیا...

# د ارګ چارواکي یا د داعش مدافع وکیلان



دا څووم ځل دی چې په هیواد کې خصوصا د کابل ښار کې د داعش د مرموزې ډلې لخوا بوږنوونکي جنایات او قتل عام ترسره کیږي خو د ارګ چارواکي د دې پر ځای چې ولس ته د پېښو اصلي عاملین معرفي کړي هڅه کوي چې عامه اذهان مغشوش او د ولس سترګو ته خاورې ورشنیدي.

پرون د دوشنبې په ورځ په کابل پوهنتون د داعشي بریدګرو لخوا وحشیانه برید ترسره شو، چې په ترڅ کې یې لسګونه محصلین شهیدان یا ټپیان شول. له پېښې څو ساعته وروسته د داعش لخوا رسما د پېښې مسؤلیت ومنل شو. د بریدګرو عکسونه یې خپاره کړل او ویې لیکل چې د برید هدف یې د قاضیانو د فراغت مراسم وو. له دې علاوه د پېښې ټول کوائف هغو بریدونو ورته وو چې پخوا د داعش لخوا ترسره شوي وو.

اما له دې ټولو شواهدو سره سره د اشرف غني لومړي مرستیال امر الله صالح او د ملي امنیت شورى مشر حمد الله محب د دې پر ځای چې خلکو ته داعش د پېښې د اصلي عاملینو په حیث معرفي کړي او دا کار یې تقبیح کړي د رسنیو په وړاندې د داعش د مدافع وکیلانو په حیث راڅرګند شول. دوی داعش له خپل دې جنایت څخه په بشپړ ډول تبرئه کړ، ویې ویل چې داعش داسې کارونه نه کوي او علاوه یې په دروغو د دې کارونو نسبت د اسلامي امارت مجاهدینو ته وکړ.

دا چې د ارګ چارواکي له دومرو غلیظو جنایاتو سره سره بیا هم د داعش خلاف څرګندونې نه کوي. علاوه دا چې په رسنیو کې د هغه تصفیه او تبرئه کوي، د هغوی د مدافع وکیلانو په حیث یې جنایات نورو ته منسوبوي او حتی په اړه یې یوه ترخه خبره او نقد هم نه کوي. له دې معلومیږي چې د داعش او ارګ تر منځ خامخا د اړیکو او دوستۍ یو داسې تار شته چې د ولس له سترګو پټ دی، هغه تار چې په واسطه یې ارګ د داعش وژونکې ډله کنټرولوي او د خپلو کرغیړنو اهدافو لپاره ورباندې بوږنوونکې او فجیعانه ډرامې تمثیلوي.

ولس پوهیږي چې د داعش مرموزه ډله د اسلامي امارت تر واکمنۍ لاندې ټولو سیمو کې ځپل شوې او له منځه وړل شوې ده. خو د کابل ادارې تر واک لاندې ښارونو کې لا هم فعالیت لري، درګرده په ولسي ځایونو بریدونه کوي او د عام ولس وینې بهوي.

له کابل ادارې سره د داعش د اړیکو بل ثبوت دا دی چې داعش کله هم په حکومتي چارواکو او نظامي مراکزو بریدونه نه کوي. بلکې همیشه په غیر دولتي ځایونو لکه روغتون، مسجد، پوهنتون، ورزشي کلب، د واده صالون او یا تعلیمي کورس باندې حملې ترسره کوي چې تلفات یې هم ټولو ولسي وګړو ته رسیږي او چارواکي یې په بریدونو کې هیڅ زیان نه ویني. همدا لامل دی چې د ارګ چارواکي متقابلا په رسنیو کې د دې ډلې دفاع کوي او جنایات یې نورو ته منسوبوي.

د افغانستان اسلامي امارت د د ارګ د چارواکو دا دروغ چې د داعش جنایات اسلامي امارت ته منسوبوي په کلکه ردوي او د تقبیح وړ بې شرمانه عمل یې ګڼي. د ارګ چارواکي باید دومره سپین سترګي نه شي چې د ټول ولس په مخکې لمر په دوو ګوتو پټوي او د ولس له سترګو د پېښو عاملین ورکوي. دغه وړ اعمال یوازې دا خبره ثابتوي چې د ارګ چارواکي هم د دې جرائمو شریکان دي نو ځکه یې اصلي عاملین تبرئه کوي او د رسنیو په وړاندې د داعش د مدافع وکیلانو رول ترسره کوي.

# د دښمن په لیکو کې ولاړو کسانو ته

## د اسلامي امارت له لوري دعوتي اعلامیه

د کابل اداري په لیکو کې ولاړو عسکرو، پولیسو، استخباراتي کارمندانو، اربکیانو او ټولو اشخاصو ته د عالیقدر امیرالمؤمنین د عفوې د فرمان په تعقیب یوځل بیا بلنه ورکوو چې د اسلامي امارت په مقابل کې له جګړې او مخالفت څخه لاس واخلي.

د اسلامي امارت مجاهدین د دوي وژل ټپي کیدل او ضایع کیدل نه غواړي، او نه مو لوریږي چې د دوي کورني، مور او پلار خپلوان، اولادونه او تورسرې د غم په ټِغر کښیني او د یوې کورنۍ مهم غړی له لاسه ورکړي.

خو داچې یاد عسکر، پولیس او اربکیان پخپله خوښه د دښمن لیکوته ورغلي، په جګړه اصرار لري او د اسلامي حاکمیت د جوړیدو په وړاندې غنډ ګرځیدلي، د مجاهدینو سره جګړه کوي او ولس زوروي نو ځکه یې له منځه وړل د اسلامي امارت د مجاهدینو مجبوري ده.

که چیرې یاد ټول کسان، حقائق درک کړي، د اشغال او د هغو د لاسپوڅي رژیم له حمایت څخه لاس واخلي، په هرځای، ولایت، ولسوالۍ، کلي او سیمه کې له مجاهدینو سره ارتباط ونیسي او په زړورتوب سره د خپلو مجاهدینو غیږې ته راشي، نو زموږ لخوا ورته عفوه ده، سر، مال، عزت او آبرو به یې خوندي وي څوک به هیڅ ډول ضرر نشي ورته رسولی او په راتلونکي کې به په خپل وطن کې د عزت ژوند ولري. د دغې اعلامې په خپرولو سره تاسو ته یوځل بیا ډاډ درکوو چې افغانستان زموږ اوستاسو ګډ کور دی، دا کور به له اشغال او مفسدو، بیګانه پرستو، د سولي ضد او د اسلام دښمنو عناصرو له شر څخه ژغورو او بیابه دلته د ورونو په شان، آرام، سوکاله او سولییز ژوند کوو.

راځې د اسلامي امارت له لیکو سره یوځای شي، د څو پیسو او امتیازاتو لپاره ځان په حتمي خطرکې مه اچوئ، پخپلو کورنیو، اهل او فامیل رحم وکړئ او نور د جګړې د اوږدېدو باعث مه ګرځئ.

په دې ورستیو کي په هلمند او کندهار کې په سلګونو وسلوال د دښمن له صف څخه د اسلامي امارت غیږي ته راغلل او مجاهدینو خورا ښه استقبال کړل چې په دواړو ولایاتو کې خورا ښه او مثبت تغیرات ورسره راغلل او په سلګونو کلي او پراخې سیمي د شریرو ټوپکوالو له شره خلاصې شوې او اوسیدونکو یې د ارام سا واخیسته.

د اسلامي امارت په مجاهدینو هم لارښونه کوو چې د دښمن له صف څخه راوتونکي عسکر، پولیس او اربکیان د خپلو ورونو په شان وزغمي، راتګ ته یې زمینه مساعده کړي، هرکلی یې وکړي او په راتلونکي کې ورته د هرډول ضرر او زیان نه رسولو په اړه خپلې ورسره کړې ژمنې او تعهدات په کلکه عملي کړي او امنیت ته یې خاصه توجه وکړي. والسلام

د افغانستان اسلامي امارت

۱۴۴۲/۳/۱۶هـ ق

۱۳۹۹/۸/۱۲هـ ش ــ ۲/۱۱/۲۰۲۰م

## د اسلام په اړه د فرانسې د جمهور رئيس د بې مسئوليته خبرو په غبرگون کې د اسلامي امارت اعلاميه

په دا وروستيو کې د فرانسې جمهور رئيس ( مکرون) د اسلام په ضد بې مسئوليته خبرې کړې او تور يې پورې کړی چې گنې اسلام په نړۍ کې له انزوا سره مخ ده او تغيرته ضرورت لري، په فرانسه کې به په مسلمانانو باندې محدوديتونه وضع کړي او داسې نورې خبرې.

اسلامي امارت د فرانسې د جمهور رئيس دغه راز خبرې غندي او هغه د ملتونو په ضد دريځ بولي.

ښه داده چې نوموړی د اسلام په ضد د بې خبرانه ځرگندونو پرځای د اسلام دين دقيق مطالعه کړي، د اسلام په اړه د دښمنو کړيو د ناقصو معلوماتو په اساس بې ځايه خبرې ونکړې او له داسې موقف څخه ډډه وکړي چې هغه د نړۍ امنيت پرخلاف وي او د ملتونو ترمنځ نفرتونه او کرکې را پاروي.

دا څوم ځل دی چې په فرانسه کې د اسلام سترپيغمبر حضرت محمد صلي الله عليه وسلم ته منسوب کارتون خپريږي او په دغه هيواد کې ځينې شريرې کړۍ د مسلمانانو په اړه غلط تصور وړاندې کوي.

د افغانستان اسلامي امارت

۱۴۴۲/۳/۸هـ ق

۱۳۹۹/۸/۴هـ ش ـ ۲۰۲۰/۱۰/۲۵م

### د کابل په پوهنتون باندې

# د کرغيړن بريد په اړه

## د اسلامي امارت د وياند څرگندونې

په خواشينی سره مو خبر ترلاسه کړ چې د کابل په پوهنتون د څو کسانو لخوا بريد شوی او هلته يې د پوهنتون محصلينو او عامو خلکو ته تلفات اړولي دي.

اسلامي امارت دغه بريد، همدا ډول څه موده مخکې په تخار ولايت کې په مسجد هوايي بمبار چې د گڼو زده کونکو ماشومانو د تلفاتو سبب شو او څو ورځې وړاندې په کابل کې د کوثر په نامه يوه روزنيز کورس باندې وحشيانه بريدونه په سختو ټکو غندي، شهيدانوته مغفرت او ټپيانوته عاجله شفا غواړي او کورنيوته يې د زړه له تله تسليت وايي.

بې له شکه چې دغه راز بريدونه د هغو شريرو عناصرو لخوا ترسره کيږي چې په ننگرهار او جوزجان کې له شکستونو وروسته د کابل ادارې پنا ورکړه، په ميلمستونو کې يې ساتي او بيا يې د دغه راز بريدونو لپاره استخداموي، ملاتړ او رهنمايي يې کوي او پلان ورته طرحه کوي.

دغه ځايونه کوم نظامي مرکز، قرارگاه او بل کوم نظامي هدف نه دی چې څوک پرې بريدونه توجيه کړي؛ بلکې صرف د وحشت ښودنې، ويرې خپرونې او پروپاگند کولو په موخه ترسره کيږي.

داچې د کابل ادارې د لوړې سطحې مسئولين د دې پرځای چې د شرم او خجالت احساس وکړي، يو ډول يې مسئوليت اسلامي امارت ته منسوبوي، له دې څخه هم څرگنديږي چې دغه بريدونه د همداسي پروپاگند د توکو د برابرولو لپاره په گډه ترسره کيږي.

خو الحمدلله افغان مسلمان اولس د اسلامي امارت مجاهدين له نيردې پيژني او پوهيږي چې زموږ مجاهدين کله هم په تعليمي مراکزو، عامو ځايونو او بل داسې محل بريد نه کوي چې هلته کوم نظامي هدف نه وي.

ذبيح الله مجاهد د اسلامي امارت وياند

۱۴۴۲/۳/۱۶هـ ق

۱۳۹۹/۸/۱۲هـ ش ـ ۲۰۲۰/۱۱/۲م



# د چاپې شپه «خاطره»

محمد زاهد زبیر

د عرفات ورځ وه اکثرو ملګرو نفلي روژه نیولې وه، ټول خوښ وو ځکه صبا د لوی اختر مبارکه ورځ وه په مینه او خوشحالی سره مو اجتماعي روژه ماتی وکړ داچې داختر شپه وه نو کلیوال هم زیات له مسافریو څخه کورونو ته راغلي وو او جومات کې رش زیات وو بیا مو کلیوالو سره یو ځای په جماعت سره د ماښام لمونځ ادا کړ.

ورسره سم مو دشپې تېرولو په موخه د دوه او یا درې ملګرو نه متشکل ګروپونه په خوښی سره رخصت کړل او تقسیم شولو.

زه او یو بل ملګری د ځنګل په طرف چې کلي سره نږدې وو روان شو.

ملګري مې وویل: نن دریمه ده چې بنګنې زیاتې ګرزي خداینخواسته څه مشکل جوړ نکړي.

په خندا مې وویل: داختر شپه وګوره او ستا دا خبرې آخر دا کافران خو هم دومره پوهیږي چې د اختر شپه ده.

غلی شو څه یې ونه ویل، د شپې تېرولو لپاره مو د یو ملګري کره د تلو هوکړه وکړه، مخابره کې مو خصوصي نمبر جوړ کړ او دواړه په ډېر محتاط انداز سره په بیلابیلو لارو د ملګري د کور په طرف ولاړو.

د ملګري کورته په رسېدو سره مې په شفري ډول دروازه وټکوله، ژر خلاصه شوه فکر کوم کوربه تیار د دروازې سره زما په تمه وو.

مهمان خانې ته ننوتم ګورم چې ملګری مې هم له ما مخکې رسېدلی ده.

له ډوډی خوړلو او لمانځه وروسته مو له کوربه سره دچایو پر خوړلو تر ناوخته د اختر د خوښیو او نورو ورته موضوعاتو په سر بنډار ډېر په خوند روان وو.

نږدې دولس بجې به وي چې یو ناڅاپه د یرغلګرو لخوا د چاپو اچولو لپاره اختصاصي طیاره چې مجاهدین یې چار ماشینه بولي راورسېده، زمونږ له پاسه یې دعادت پرخلاف یې سم د واره بمبار شروع کړ.

ژر ژر مو ځانونه سمبال کړل له نېکه مرغه په دې شپه راسره لیزري دوربین هم وو خپل ټوپک ته مې په ډېر تلوار سره بسته کړ.

یو ډول حیرانونکی حالت وو د اختر شپه وه هېڅ مو د دا ډول حالت توقع نلرله.

په لومړي سر کې لږ وار خطا غوندې شوم، خو د کوربه وارخطا حالت ته په کتو ژر بېرته سمبال شوم، ملګري ته چې آمر مې هم وو

وویل وخت کم ده ژر باید فیصله وکړو چې څه کوو؟

آیا همدلته ورسره جنګیږو، کور نه بیرون وزو او که ځانونه تسلیموو.؟

هغه وویل دلته جنګېدل مناسب نه دي ځکه د کوربه ټول کور به له یو لوی بمب سره له مینځه ولاړ شي. په تسلیمي خو هیڅ غور نشي کېدلای.

څو قسمه جهازونه ګرځېدل. ډرون، هیلیکوپټرې، جیټ او چارماشینه فضا ټوله د طیارو او بمبارۍ ځورونکو اوازونو نیولې وه.

کوربه سره تر مشورې وروسته مو پرېکړه وکړه چې له کوره بیرون د ځنګله خواته به ځان رسوو او هلته به تر وروستۍ سلګۍ مقاومت کوو که چیري په لاره کې کوم ملګری تر بمبار لاندې راغی، زخمي شو او که شهید دوهم ملګری به یې دحالاتو تر سمېدو مرستې ته نه ورځي، خپل ځان به ځنګله ته رسوي. دا ځکه چې د بل ملګري مرسته داسې حالت کې هیڅ امکان نلري یوازې د ځان ضایع کولو په معنا ده.

په همدې وخت کې د ډېدېنو لویو هیلیکوپټرو درونډ اواز راغی درې دانې یې دکلي شاوخوا په محاصره شکل کېنولې امریکایي یرغلګر یې کوز کړل او بېرته پورته شوې.

له یوبل څخه د بښنې غوښتلو او خدای پاماني وروسته مو له کوربه څخه اجازت واخیست او له کوره ووتو.

خپل مسیر مو د یرغلګرو د کوزېدو له ځایونو څخه مقابل طرفته بدل کړ زه مخکې او ملګری مې شاوخوا لس متره وروسته راپسې شو. په ناسته، ولاړه او خپ خپ تګ سره په داسې حالت کې روان ووم چې هر قدم مې د ژوند وروستی قدم بللو، بار بار مې کلیمه طیبة مبارکه تکراروله او ځینې نور اذکار او د قرآنکریم ځیني سورتونه چې ذهن ته مې راتلل خپل ځان ته مې یې په لوستلو اطمنان ورکاوه.

د ازغنو لویو بوټو تر مینځ نسبتا لویې ویالې ته ننوتو، د رود پر غاړه د چینارنو لویو ونو نه ډک ځنګل ته لا هم ډېره لاره پاتې وه.

مشوره مو وکړه او همدا ځای مو د جګړې لپاره مناسب وبللو.

په داسې حال کې چې یرغلګرو او غلامانو سره په مخامخ جګړه، چاپو او نور ورته پېښو کې مې ډیر وخت مرګ په خپلو سترګو لیدلی وو خو دا ځل په ژوند کې لومړی ځل وو چې واړه بچیان مې یو یو سترګو ته ودرېدل دعا مې ورته وکړه له الله تعالی مې بښنه وغوښته ټول اقارب او هغه ملګري چې په

زړه مې راوورېدل د زړه له تله مې ورته په عاجزانه شکل یوه طولاني دعا وکړه.

زړه مې غوښتل چې دوه رکعاته لمونځ هم وکړم خو حالت ډېر سخت وو جرأت مې ونکړ یوازې د دښمن د راتګ لپاره مو شېبې شمارلې انتظار مو وار په وار اوږدېده یوازې مو سترګې د دښمن د لیدو لپاره غړولې.

بار بار مې ساعت ته کتل تر څو شپه ژر لنډه شي خو شپه وار په وار اوږدېده او غمېده، هره شېبه د دښمن د راتګ احتمال وو.

نږدې دوه نیمې بجې به وې د وړو انفجاراتو په اوریدو سره چې اشغالګر وربانديې عموما د کورونو دروازې ماتوي او د هیلیکوپټرو د ګرځېدو مسیر ته په کتو وپوهېدو چې زمونږ په مرکز چاپه ده اطمنان مو وشو چې زمونږ ځای هدف نده.

ترسهاره مو همدلته انتظار ویوست دسهار د اذانو پر وخت مو احساس کړه چې لویې چینوک هیلیکوپټرې د راتګ په حال کې دي وپوهیدو چې اشغالګر نور د وتو هڅه کوي د هیلیکوپټرو او نورو جهازونو دورې هم کرار کرار لویې شوې او بیا هماغسې ورپسې لاړې.

مونږ هم د لمانځه تر ادا کولو وروسته دچاپې ځای ته چې زمونږ

مرکز وو د تللو تابیا ونیوله باوري وو چې ملګري مو محفوظ دي ځکه هلته نږدې ساحه کې له مونږ دواړو بغیر بل ملګري شتون نه درلود، خو د کلیوالو تشویش راسره زیات وو.

دچاپې ځای ته پر لاره ځورونکې چوپتیا او د لویو لویو چنارونو ماتو ونو او ښاخونو د درنې بمبارۍ او لوی وحشت کیسه کوله.

کلی ته په رسېدو مو ولیدل چې کلیوال خلک له یو ډول مایوسونکې خاموشۍ سره ګرځي وپوهېدو چې شهیدان شوي دي.

خو زمونږ په ژوندي لیدو ټولو د خوښۍ اظهار وکړ او د الله ﷻ حمد یې ووایه او ورسره سم یې په کیسه پیل وکړ.

ملا سحر ګل او شیر ګل کاکا اوبه لګولې دواړه یې شهیدان کړي دي د شیر ګل کاکا په زامنو یې هم ډېر بمبار کړی خو هغوی د نوي جوړ شوي کور په زیر زمینیو کې پټ شول، ژوندي پاته شول خو وروسته پیاده راغلیو یرغلګرو ډېر کلک ووهل او له ځان سره یې ژوندي بوتلل جومات یې هم په بمونو والوزاوه او ځیني نور کورونه یې هم تلاشي کړل کوم کلیوال چې یې له کورونو راویستي وو تر سهاره یې په یخه هوا کې کینولي وو او د وژلو ګواښونه یې ورته کول خو نږدې سهار یې ټول پرځای پرېښودل او ورته ویل یې: که مو له دې ځایه حرکت وکړ له پاسه مو طیاري ولي، دوی ولاړل یوازې د شیرګل کاکا زامن یې له ځان سره بوتلل.

مونږ هم سمدستي د شهیدانو د کتلو لپاره دهغوی دکورونو خواته ولاړو دواړه سپین ګیري وو دعا مو ورته وکړه.

نور شاوخوا مجاهدین هم راورسیدل کلیوالو د هغو لویو غورځول شویو بمونو ځای ته بوتلو قوي بمبار شوی وو، لویې کندې یې جوړې کړې وي، پوره کرونده یې له منځه وړې وه، غریبو کلیوالو د خپل نقصاناتو او د دښمن لخوا د تر سره شوي وحشت کیسې کولې بیا د هغه نوي جوړ شوی کور په طرف ولاړو ومو لیدل چې له زورور بمبار څخه یې دیوالونه نړیدلي وو او زیرزمیني یې هم نقصاني شوې وه خو د شیرګل کاکا زامن خدای ساتلي وو.

د لوی اختر لمانځه ته هم وخت کم پاته وو کالي مو په ختو او خاورو پوښلي وو.

که څه هم داختر مینه او خوښي نه وه خو ولې بیا هم مجبور وو چې داختر او جنازې د لمانځه تیاري ونیسو.

دلوی اختر لمونځ مو په نیم ویده حالت کې ادا کړ، یوازې محدودو کسانو سره مو رواجي اختر مبارکي وکړه او د اختر لومړۍ ورځ مو ټوله په خوب تېره کړه.

* * *



# د شهامت دارالافتاء

## دمجاهدینو امانت چې دیو کور څخه ضائع شي!

الاستفتاء : محترم مفتي صاحب زموږ یوموټر سائکل په کور کښې درولی ؤ دیوي بلې دلګۍ مجاهدراغلی اوموټرسائکل یې ځیني بیولی دی ، وروسته دغه مجاهدله موټر سائکل سره په ماین ختلی اوشهیدشوی ، اوموټر سایکل له مینځه تللی اوس زموږ په دغه دلګۍ دخپل موټرسائکل حق کیږي اوکنه ؟عبدالله مجاهد

الجواب حامدا ومصليا وبعد:

که چیري موټرسائکل دکور مالک ته امانت دورلی شوی وي اوبیا هغوئ ستاسو بې اجازې دغه موټرسائکل دغه دوهمي دلګئ مجاهدته ورکړی وي نوبیاستاسو حق دکور په مالک دی ځکه هغه په اصل کې ستاسو امانت ضائع کړی دی چې په دي سره ضامن ګرزي.

اوکه دکور مالک څخه ددغه دلګئ مجاهدینو په زور بیولی وي اوبیاهلاک شوی وي نوبیاتاسو ددغې دلګئ څخه دتاوان حق کیږي .او که چیري دغه طالب په خپله خوښه اودکور دمالک بې اجازې بیولی وي نو بیا دغه تاوان دهمدي شهید طالب په ورثه ؤ باندي دی.

في المجلة المادة ۷۹۰ - لیس للمستودع ایداع الودیعة عندآخر بدون اذن واذا اودعها فهلکت صار ضامنا ، ثم اذاکان هلاکا عندالمستودع الثاني بتقصیر او تصرف منه فالمودع مخیر ان شاء ضمنها المستودع الاول وان شاء ضمنها الثاني الخ وفي حاشية الهداية ۲۷۵\۳ ورجحت جمعية المجلة قول الصاحبين الخ

وفي الاختيار لتعليل المختار كتاب الغصب : وهو أخذ مال متقوم محترم مملوك للغير بطريق التعدى، ومن غصب شيئاً فعليه رده في مكان غصبه، فإن هلك وهو مثلي فعليه مثله، وإن لم يكن مثلياً فعليه قيمته يوم غصبه، وإن نقص ضمن النقصان،

ومثله في ردالمحتار ۱۲۶\۵

كتبه : مفتي ابوحامدعفى عنه

## آیا یواځې په جهاد بالمال دجهاد فریضه اداء کیږي ؟

الاستفتاء : محترم مفتي صاحب ! په قرآن کریم اواحادیثو کې په قتال ځانته امرشوی اوپه جهادبالمال ځانته امرشوی دی ،همداراز په حدیث کې په لساني جهاد هم امرشوی دی ،نواوس دادرې واړه جهاد فرض دي اوکه یوتن یوله دغه جهادونوڅخه وکړي فرض اداء کیږي ؟ بینوا توجروا . ملامحمدعفی عنه

الجواب :حامدا ومصليا وبعد:جهاد چې کله فرض شي اودفرضیت شرائط یې موجود شي ،مثلا کفار په یوه اسلامي ملګ یرغل وکړي ،اسلامي نظام رنګ کړي ،مسلمانان شهیدانوي ،اواسیران کوي یې اوداسې نور ... نوپه دې صورت کې په هرمسلمان چې وس اوطاقت ولري په نفس ،مال ،ژبه ، او قلم او نورو وسائلو سره جهاد فرض ګرزي.

که یوسړی په داټولو قدرت لري مګر دی یواځې په مال جهاد کوي اودانور نه کوي بیانو ګنهګارېږي ، نودیوه مسلمان چې څومره خپل وسع وي په هغوټولو امورو به جهاد کوي.

في البدائع ۵۷\۶ : وفي عرف الشرع يستعمل في بذل الوسع والطاقة بالقتال في سبيل الله عزوجل بالنفس والمال واللسان وغيرذلک.

وفي البحر ۱۲۴\۵ من کان قادرا على الجهاد بنفسه وماله فعليه ان يجاهد بنفسه وماله ...وحق الجهاد ان يجاهدبنفسه وماله.

وفي التبيين ۲۴۲\۳ واحوال الناس مختلفة فمنهم من يقدر على الجهاد بالنفس والمال ومنهم من يقدر باحدهما وکل ذلک واجب الخ

## كه يوه قرارګاه فتح شي ...؟

الاستفتاء : محترم مفتي صاحب ! زموږ مجاهدينو يوقرارګاه فتح کړه ،مګر ديرغلګرو طياري سيمې ته راغلي موږ يوځای غلي شوو،خوچې طياري ولاړې ترموږ وراندي خلګ ورغلو اوځيني شيان يې ځيني يوورل نوپوښتنه داده :چې آيا دغه ځېزونه شرعاًزموږ حق دي چې بيرته يې له خلقو واخلو اوکه څرنګه ؟ فرحان الله

الجواب حامدا ومصليا وبعد: غنيمت ددې امت خصوصيت او ترټولو غوره مال ګڼل کيږي ، کوم مال چې په جګړه کې د يرغلګرو يا د هغوئ د غلامانو څخه ونيول شي هغه غنيمت دی او دغه غنيمت د هغو مجاهدينو حق دی چې په جګړه کې حقيقة ياحکما شريک وي .نورخلګ په دغه مال کې حق نه لري اوکه يوشی ځيني يوسي ورباندي لازم دي چې بيرته يې مجاهدينوته وسپاري اوبيا که له تقسيم وروسته دمجاهدينو مشر له خمس څخه دې خلقوته يوشی ورکړي نوجائز دي ورته.

قال الله تعالى : ومن يغلل يأت بماغل يوم القيامة. الاية

وعن ابي هريرة رض قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ...فلم تحل الغنائم لاحد من قبلنا ذلک بان رئی ضعفنا وعجزنا فطيبها لنا. متفق عليه.

وفي الهندية ٢١٧\١٢ وغل رجل شيئا من المغانم ولم يأت به الابعدماقسمت الغنائم وتفرق اهلها فللامام ان يصدقه فيماقال ويأخذمنه ويخمسه ويصرف الخمس الى الفقراء ويمسک الباقي حتى يجئ مستحقوه....

والله تعالى اعلم

کتبه :مفتي ابوحامدعفى عنه

## كه استعداد نه لري او مسئوليت ورکول کيږي ؟

الاستفتاء رقم ... محترم مفتي صاحب ! که په يوه تن کې استعداد ديوه مسئوليت نه وي اوبياهم دی دې مسئوليت ته اماده وي داشرعا ورته رواده ؟ اوبل داچې که اميرداسي بي استعداده سړي ته مسئوليت وروسپاري داشرعا جائز ده ؟ ابوبکر خالد

الجواب حامدا ومصليا وبعد: په لمړي صورت کې داسې سړي ته مسئوليت قبلول شرعا نارواده ،همداراز په دوهم صورت کې اميرته شرعا روا نه دی چې داسې سړي ته مسئوليت وسپاري کنه ګنهګاريږي

لمافي الهداية ١٣٣\١٣ کتاب ادب القاضي : ويکره الدخول فيه لمن خاف العجز عنه......الخ

وفي الاختيار ٨٢\١٢ وحرام وهوان يعلم من نفسه العجزعنه ،وعدم الانصاف فيه لمايعلم من باطنه من اطباع الهوى....

ومثله في مجمع الانهر ٣١٣١٠.

کتبه : ابوحامد عفى عنه

## كه يې دبيت المال مرمى داميرله اجازې پرته استعمال کړي ؟

الاستفتاء : محترم مفتي صاحب ! يومجاهدکولای شي چې دبيت المال په مرميو باندي نښه وويلي دتدريب اوتعليم په ډول باندي ،اوداميرڅخه يې اجازه نه وي اخيستي ؟ عبدالله

الجواب حامدا ومصليا وبعد :په ذکرشوي صورت کې که يې دغه عمل دجهاد په نيت وي بيادبيت المال دځيزونو استعمال دحق لپاره جائز دي اوضمان نشته ورباندي . اوکه يې مذکور عمل دځپل ساتېري په نيت وي بيا يې ضمان شته !يعني څومره مرمۍ چې يې استعمال کړي هغومره مرمۍ به بيت المال ته جمع کوي . يابه دهغوئ قيمت ورکوي.

في احکام القران للامام الجصاص رح ١٠١\١٣ قوله تعالى : واعدوا لهم ما استطعتم ... امرالله تعالى المومنين في هذه الاية باعداد السلاح والکراع قبل وقت القتال ارهابا للعدو والتقدم في ارتباط الخيل استعدادا لقتال المشرکين وقدروی في القوة الرمی.

وفي تفسيرالمظهري ١٠٠١٤قوله من قوة : ای اسباب والات واعمال يقويکم على حربهم من الخيل والسلاح والمصارعة ونحو ذلک واللهو بالرمی والبندقة وغير ذلک.

وفي الموسوعة الفقهية ٢٦٢\١٨ لاخلاف بين الفقهاء في ان من اتلف شيئا من اموال بيت المال بغيرحق کان ضامنا لمااتلفه وان اخذمنه شيئا بغيرحق لزمه رده اوردمثله ان کان مثليا وقيمته ان کان قيميا.

له اسلام سايټ څخه په منڼه

# د لوړ عزم خاونده!



لښکر برطانوي، د امریکا دې راځي
د لوړ عزم سینو ته خامخا دې راځي

لښکر د مغربیانو سره د قوتونو
ډاډه په اطمینان لکونو په زرکونو
په سمه په اسمان، د غرونو پر سرونو
موږ دغه پال کتلی بې نوا دې راځي

دریاب د انقلاب څپې لري موجونه
څوک لاندې وي څوک باندې پوره غواړي وختونه
نه میاشتې، نه هفتې وي؛ کالونه وي، قرنونه
په عزم د قرنو سهر بېګا دې راځي

د چا قوت ولاړ وي د عصر په مادیاتو
څه تېز غوندې رفتار وي په داسې امکاناتو
د چا زړونه قرار وي په رب د کایناتو
لښکر د ابراهه، په بیت الله دې راځي

ولسه د افغان! د لوړ عزم خاونده
جنده دې د ایمان دنیا ته کړه ځلنده
څه وخته «بدرالدینه!» د زړونو وه دا تنده
ژړا یې عاقبت ده په ژړا دې راځي

**مولوي بدرالدين حقاني**



"يا صاحب الجمال و يا سيد البشر"دنيا شوله
روښانه ستا د ښکلي مخ په لمر

رڼا ټول کاينات کړل مشالونو د رحمت
پوره شو رسالت په تا د هر يو پيغمبر

جاري دې ګواهي ده تر قيامته د قران
سېراب څوک د کوثر څوک په وعيد "هو الأبتر"

ولاړ يمه په لار د حليمې ابې په څار
غړېږي مې په سترګو کې ناشنا غونډې منظر

مولا علي حيدر او د عفت ميره بتول
دعا کې بدرګه د شاه حسين غلبېل ټټر

ټوټې ټوټې حمزه، خير د امت کامل حسن
پيغام د کربلا د هاشمي زلمو لښکر

بې پښو چې په تنه راځي اشجار دې په دعوت
د هيلو لېونيو څه حاجت دی د وزر

يو پرک دې د جمال ګډه غوغا کړه د جلال
جذبه د کوم يو زړه محشري شور د چا د سر

ناګار چوپ دی په بڼ د بوصيري او د سعدي
"بعد از خدا بزرگ تويی قصه مختصر"

